د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه ییز مطالعات

## فصلنامه مـرکز مطالعات منطقه‌یی افغانستان



# ۳-۴


- دوره: اول
- سال: ۱۴۰۲ هـ.ش
- ربع: ۳ - ۴
- شماره مسلسل: ۷۰ - ۷۱
- سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش
- کابل - افغانستان


پـه دې ګڼه کې:

- د افغانستان او ایران اقتصادي اړیکو ته حقوقي...
- پر مرکزي آسیا د روسیې او اوکراین جګړې سیاسي...
- نګاهی به ارزش موقعیت ژیوپلیتیکی افغانستان
- په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې ډولونه او...
- په اذربایجان کې د ایران نرم ځواک؛ فرصتونه او ننګونې

سیمه ییز مطالعات
شماره: ۷۰ - ۷۱ ، سال ۱۴۰۲ هـ.ش

# REGIONAL STUDIES
## Quarterly Journal

Establishment: 2006
Academic Publication
Afghanistan Science Academy
Serial No: 70 - 71

Address:
Afghanistan Science Academy
Sherpoor Square, Kabul-Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز مطالعات منطقه‌یی

# سیمه‌ییز مطالعات

مجلۀ علمی- تحقیقی
مطالعات سیاسی، اقتصادی و فرهنگی منطقه‌یی. معرفی، بررسی و تحلیل سازمان‌ها، کنفرانس‌ها و نهادهای منطقه‌یی

سال تأسیس: ۱۳۸۵ هـ.ش

شمارۀ مسلسل:۷۰-۷۱

**یاداشت:**

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به ادارۀ اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالۀ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدۀ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نگردیده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصه و حداقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، گویای اصلی پرسشی باشد که مقاله در پی پاسخ‌دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان‌های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، اهمیت، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان و تسلسل منطقی موضوعات در یک روی صفحۀ کاغذ A4 در برنامۀ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵ صفحه معیاری بوده، با فونت سایز ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single ) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت‌تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را بادرنظرداشت لایحۀ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل‌ها و اندیشه‌های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می‌تواند.
- مقالۀ وارده دوباره مسترد نمی‌گردد.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړندوی محمد طاهر شرر ساپی

**مهتمـــــــم:** مسیح اوریاخیل

**کتنپلاوی:**

څېړنوال دکتور رفیع‌الله نیازی

څېړنوال عبدالشکور سالنگی

څېړندوی عبدالصبور مبارز

څېړندوی عمران زکریا

**پته:** د افغانستان علومو اکاډمي سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، د شېرپور څلور لارې، شهر نو، کابل.

**مطبعه:**

د اړیکو شمېرې:

+۹۳۷٦٦۱۱۰۰۰۸ - +۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹۹۳

**د افغانستان د علومو اکاډمي برېښنلیک:** Info@asa.gov.af

**د مجلې برېښنلیک:** rsc@asa.gov.afg

**د کالني ګڼون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایتونو کې: ۳۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ۲۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استاذانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

## فهرست مطالب


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| ۱- د افغانستان او ایران اقتصادي اړیکو ته ... | څېړندوی اول خان شکېب احمدزی .......۱ |
| ۲- پر مرکزي آسیا د روسیې او اوکراین جګړې... | څېړندوی رحمت الله همت .............۲۹ |
| ۳- نگاهی به ارزش موقعیت ژیوپلیتیکی... | پوهنمل ملاجان رحمانی ...............۶۵ |
| ۴- په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې ډولونه او.. | څېړندوی عبدالصبور مبارز ..............۹۹ |
| ۵- په اذربایجان کې د ایران نرم ځواک؛ فرصتونه... | څېړندوی عبدالخالق فردوس ..........۱۲۵ |
| ٦- مفهوم آسیای میانه و آسیای مرکزی در ... | سرمحقق عبدالرحیم بختانی ...........۱۵۷ |
| ۷- د مرکزي آسیا اقتصادي ظرفیتونه | څېړندوی رحمت الله همت ...........۱٦۵ |

اول خان شکیب احمدزی

# د افغانستان او ایران اقتصادي اړیکو ته حقوقي کتنه

# Afghan-Iran Economic Relations: A legal Perspective

Asst. Prof. Awal Khan Shakib Ahmadzai

**Abstract**

Since the establishment of the Islamic Emirate, economic relations between Afghanistan and Iran have significantly expanded. From the outset of its rule, the Islamic Emirate prioritized developing extensive economic ties with Iran. Both nations, now free from US economic sanctions, have new opportunities to enhance trade. This article examines these economic relations from a legal standpoint, detailing the economic agreements in place and assessing the future trajectory of economic interactions between Afghanistan and Iran. The analysis aims to provide a comprehensive understanding of the legal frameworks and economic potentials shaping the bilateral relations of these neighboring countries.

**لنډیز**

د اسلامي امارت په راتګ سره د افغانستان او ایران اقتصادي اړیکې ډېرې پراخې شوې دي. د اسلامي امارت چارواکو د واکمنۍ د پیل له لومړیو ورځو له ایران سره د پراخو اقتصادي اړیکو ډاډ ورکړ. دواړه هېوادونه، چې د امریکا له اقتصادي بندیزونو څخه کړېږي، په خپل منځ کې د سوداګریزې راکړې ورکړې د لاپراختیا فرصت لري. له همدې امله، په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د ایران او افغانستان اقتصادي اړیکې له حقوقي اړخه وڅېړل شي او د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي تړونونه په ګوته شي. همدارنګه، په دې مقاله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو راتلونکی ارزول شوی دی.

## سریزه

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته د ایران او افغانستان تر منځ سیاسي اړیکې ډېرې تودې شوې، چې له امله یې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې ډېرې پراخې شوې دي. ایران په افغانستان کې د اسلامي امارت د راتګ پر لومړۍ ورځ په کابل کې د خپل سفارت کارونو ته دوام ورکړ او په یوه بې ساري ګام سره یې په ایران کې د افغانستان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره.[1] همدارنګه اسلامي امارت په خپل لومړني رسنیز کنفرانس کې د ایران په ګډون ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکړ، چې له افغانستان څخه به هېڅ هېواد ته هم ګواښ پېښ نه شي.[2] دغه ډاډ د ایران هغې اندېښنې ته ځواب ویل و، چې له افغانستان څخه یې د داعش په اړه درلود، ځکه چې ایران په افغانستان کې د داعش له فعالیت څخه وېره لري.

پر دې سربېره ، ایرانیو چارواکو د اسلامي امارت له راتګ وروسته افغانستان ته ګڼ شمیر سفرونه وکړل او له بېلا بېلو افغان چارواکو سره یې لیده کاته وکړل. د لومړي ځل لپاره د ۲۰۲۱ز.کال د ډیسمبر پر شپاړسمه نېټه د افغانستان لپاره د ایران د ځانګړي استازي حسن کاظمي قمي په مشرۍ یوه لوړ پوړي پلاوي افغانستان ته سفر وکړ. ایراني پلاوي د اسلامي امارت د ریئس الوزراء له لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر سره په لیدنه کې په سیاسي، امنیتي، پانګونې، سوداګرۍ، ګمرک، کډوالو، اوبو، برېښنا، کلتوري، علمي او روزنېزو برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړې وکړې.[3] دغه شان، یاد استازي د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي سره هم وکتل. په دې کتنه کې مولوي عبدالسلام حنفي د اسلامي امارت د بهرنۍ پالیسۍ په اړه ایراني پلاوي ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت له ټولو ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره نېکې اړیکې پالل غواړي او هېچاته اجازه نه ورکوي، چې د افغانستان له خاورې ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته ګواښ پېښ کړي.[4]

د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري پر اتمه نېټه د لومړي ځل لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ایران ته سفر وکړ. نوموړي په دې سفر کې د ایران له بېلابېلو چارواکو سره لیدنه وکړه او د کابل او تهران تر منځ یې د

اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ.[5] امیرخان متقي د ایران له بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان سره د دواړو هېوادونو تر منځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او د کډوالو پر چارو خبرې وکړې.[6] پر دې لیدنو کتنو سربېره، اسلامي امارت په ایران کې کېدونکي بریدونه غندلي او د ایران له خلکو او حکومت سره یې خواخوږي ښودلې ده.

ایران له اسلامي امارت سره د خپلو تودو اړیکو په لړ کې افغانستان ته د تېر حکومت وسلې او تجهیزات هم وسپارل. ایران، پاکستان، تاجکستان او ازبکستان هغه هېوادونه دي، چې د پخواني نظام له سقوط وروسته د پوځي الوتکو په ګډون د افغانستان زیات پوځي وسایط او وسلې دغو هېوادونو ته ولېږدول شوې. له یادو هېوادونو څخه ایران لومړنی هیواد دی، چې د ۲۰۲۲ز کال د جون پر پنځمه نېټه یې د پخواني پوځ یوه اندازه ور وړل شوي پوځي تجهیزات اسلامي امارت ته وسپارل.[7] د ایران اسلامي جمهوریت دغه اقدام کولای شو د ښه ګاونډیتوب او د افغانانو شتمنیو ته د درناوي په موخه یو ښه نظر او له اسلامي امارت سره د اړیکو د رغولو ښه هڅه وبولو.

ایران د ۲۰۲۳ز.کال د فبروري پر ۲٦مه نېټه د افغانستان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره. په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل، چې په تهران کې د افغانستان اسلامي امارت دیپلوماټان مستقر شول او په پوره ژمنتیا سره به د دواړو هېوادونو وګړو ته خدمت کوي.[8] دغه راز، د ایران د بهرنیو چارو وزارت څرګنده کړه، چې د سفارت سپارل د افغانستان په کورنیو چارو پورې اړه لري او موږ د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوو.[9] اسلامي امارت ته د سفارت په سپارلو سره ایران وکولای شول، له اسلامی امارت سره د رسمي اړیکو دریځه پرانیزي. په ایران کې په میلیونونو افغانان به وکولای شي، چې د پاسپورټ او نورو اړینو اسنادو جوړولو لپاره سفارت ته مراجعه وکړي. د ایران له لوري د افغان سفارت له سپارلو سره په سیمه کې د افغانستان ډیپلوماتیکه دستګاه د اسلامي امارت په واک کې شوه.

له دې سريزې څخه معلومېږي، چې د اسلامي امارت له بیاواکمنۍ سره افغانستان او ایران له سیاسي پلوه یوه بل ته ډېر نږدې شوي دي. دغه سیاسي نږدېوالی د دې سبب شوی، چې د دواړو لوریو ترمنځ پر اقتصادي اړیکو یې د پام وړ اغېز کړی دی.

**مبرمیت**

دا چې افغانستان او ایران ګاونډي هېوادونو دي، نو د دواړو تر منځ دوه اړخېزه سوداګري دواړو لوریو ته ارزانه تمامېږي، نو له همدې امله په دې برخه کې د شته خنډونو د لرې کولو او د اقتصادي اړیکو دلا پراختیا لپاره د لارو چارو د وړاندې کولو په موخه د دې مقالې د لیکلو اړتیا لیدل کېږي.

**موخه**

د دې مقالې له لیکلو څخه موخه د افغانستان او ایران ترمنځ د اوسنیو اقتصادي اړیکو شننه او په راتلونکي کې د دغو اړیکو د څرنګوالي څېړل دي.

په دې مقاله کې هڅه شوې چې له توصیفي تحلیلي میتود سره د ایران او افغانستان د اقتصادي اړیکو اوسنی حالات وارزوو او د راتلونکي په اړه یې لازمه وړاندوینه وکړو. د همدې موضوع د څېړلو لپاره مقاله په څو برخو وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې یې د دواړو هېوادونو ترمنځ ترسره شوي اقتصادي سفرونه څېړل شوي  او ورپسې د افغانستان او ایران خپلمنځي سوداګري تر بحث لاندې نیول شوې ده. د مقالې په درېیمه برخه کې د ایران او افغانستان ترمنځ لازم الاجرا اقتصادي تړونونه ارزول شوي او په څلورمه برخه کې د ایران او افغانستان د سوداګریزو اړیکو د راتلونکي په اړه بحث شوی دی. مقاله په پایلې او وړاندیزونو سره پای ته رسېږي.

**د افغانستان او ایران ترمنځ ترسره شوي اقتصادي سفرونه**

افغانستان او ایران د اوږدې ګډې پولې په درلودلو سره په سیمه کې لوی سوداګریز شریکان دي. د اسلامي امارت له بیاواکمنۍ سره دواړو لوریو په بېلابېلو لیدنو کې د اقتصادي اړیکو د لا پراختیا په موخه پراخ بحثونه کړي دي. ایران د خپل سوداګریز څواک او کاني شتمنیو په لرلو سره افغانستان ته د اقتصادي بیا

رغوني لپاره د یوه مهم عامل په توګه ګوري. په ۲۰۲۱ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکا متحده ایالاتو او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته، اسلامي امارت اعلان وکړ چې له ایران څخه به د تېلو واردات بیا پیل کړي. هماغه و، چې د ۲۰۲۱ز.کال په اګسټ کې ایران افغانستان ته د تېلو صادرات بیا پیل کړل.[۹] له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته افغانستان وکولای شول، چې پر ایران د بندیزونو سربېره د دغه هېواد تېل په ښکاره توګه واخلي.

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته د لومړي ځل لپاره د ډیسمبر پر شپاړسمه نېټه د افغانستان لپاره د ایران له ځانګړي استازي حسن کاظمي قمي په مشرۍ یوه لوړ پوړي پلاوي افغانستان ته سفر وکړ. ایراني پلاوي د اسلامي امارت د رئیس الوزراء له لومړي مرستیال ملا عبدالغني برادر سره په لیدنه کې په سیاسي، امنیتي، پانګونې، سوداګرۍ، ګمرک، کډوالو، اوبو، برېښنا، کلتوري، علمي او روزنېزو برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړې وکړې.[۱۰] په ورته مهال کې، د ۲۰۲۱ز.کال د ډیسمبر پر ۱۹مه نېټه د پاکستان په مرکزي ښار اسلام اباد کې د اسلامي همکاریو د سازمان د بېړنۍ غونډې په څنډه کې د ایران او افغانستان لوړپوړو چارواکو؛ د ایران د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبداللهیان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر سره لیدنه وکړه. په دغه لیدنه کې دواړو لوریو په افغانستان کې د امنیتي حالاتو او بشري وضعیت په ګډون د دواړو هېوادونو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو اړیکو خبرې وکړې.[۱۱] همدارنګه، ایران له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو په لړ کې هندوستان ته وړاندیز وکړ، که هند له افغانستان سره د بشردوستانه مرستو پلان لري، نو ایران تیار دی، چې په دې برخه کې همکاري وکړي.[۱۲]

دغه راز، د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري پر ۸ مه نېټه د لومړي ځل لپاره د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ایران ته سفر وکړ. ښاغلي متقي په دې سفر کې د ایران له بېلابېلو چارواکو سره لیدنه وکړه او د کابل او تهران تر منځ یې د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ.[۱۳] امیرخان متقي د ایران له بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان سره د دواړو هېوادونو تر

منځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او د کډوالو پر چارو خبرې وکړې.[۱۴] دغه شان، د ۲۰۲۲ز.کال په جون کې د ۵٫۹ درجې زلزلې، چې د افغانستان په جنوب ختیځ کې یې تر ۱۱۵۰ څخه ډېر کسان ووژل او پراخې ویجاړۍ یې رامنځته کړې. ایران سم له لاسه دوه کارګو الوتکې افغانستان ته د لومړنیو مرستو د رسولو لپاره واستولې.[۱۵]

همدرانګه د ۲۰۲۳ز.کال د اکتوبر پر ۱٦مه نېټه د افغانستان د سوداګرۍ او صنعت وزارت په رسمي غوښتنه د ایران د خراسان رضویی ولایت د والي سرارد یعقوب علی نظري په مشرۍ د ۸۰ په شاوخوا کې ایرانی پانګوالو او سوداګرو افغانستان ته سفر وکړ. د دغه درې ورځني سفر موخه په افغانستان کې د پانګونې د فرصتونو د ارزونې تر څنګ د دواړو هېوادونو د اقتصادي، سوداګریزو او ټرانزیټي همکاریو پیاوړتیا بلل شوې وه. یاد پلاوي د اسلامي امارت له لوړپوړو چارواکو سره ولیدل او په افغانستان کې یې د پانګونې ژمنې وکړې.[۱٦]

د اقتصادي سفرونو په دوام د ۲۰۲۳ز.کال د نومبر پر څلورمه نېټه د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر د یوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ ایران ته ولاړ. ملا عبدالغني برادر او مل پلاوي د ایران اسلامي جمهوریت له چارواکو سره د دوه اړخیزو اړیکو، سوداګرۍ، ټرانزیټ، ټرانسپورټ، زېربناوو، رېل پټلۍ، سیمه‌ییز اتصال، د چابهار بندر له لارې د سوداګرۍ پر زیاتوالي، په دې بندر کې د افغانستان د ښکېلتیا د زیاتوالي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په اړه خبرې اترې وکړې.[۱۷] دغه سفر د دواړو لوریو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په برخه کې له لاسته راوړنو ډک و. له ایران سره د افغانستان په صادراتو او وارداتو کې د اسانتیاوو رامنځته کول، د ورېښمو له لارې له چین سره د ایران نښلول او همداراز د افغانستان له لارې له ازبکستان سره د ایران نښلول، له ایرانه تر کندهاره د اوسپنې پټلۍ غځول، له نشه یي توکو سره ګډه مبارزه، له افغان بزګرانو سره د کوکنارو د بدیل کښت په برخه کې مرسته او د ګمرکونو ۲۴ ساعته فعالیت د دغه سفر مهمې لاسته راوړنې وې.[۱۸] په همدې حال کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند عبدالسلام جواد اخندزاده په وینا د دغه سفر یو مهم هدف د ایراني پانګوالو راجلبول او په چابهار بندر کې د لازمو اسانتیاوو رامنځته

کول وو. په دې کار سره موږ کولای شو، چې که د کراچۍ په بندر کې ستونزې رامنځته کېږي، د چابهار بندر له لارې خپل توکي د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ولېږدوو.[۱۹]

د افغانستان او ایران د سوداګریزو اړیکو په اړه په یوه تازه ګام کې د افغان او ایراني چارواکو ګډې سوداګریزې کمېټې لومړنۍ ناسته جوړه شوه.[۲۰] د اسلامي امارت د لومړي وزیر د اقتصادي مرستیال مطبوعاتي دفتر په وینا؛ د افغانستان او ایران ترمنځ د ګومارل شوې ګډې کمېټې دغه لومړنۍ ناسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د زیاتوالي په موخه جوړه شوې وه. په دې کتنه کې دواړو لوریو د پخوانیو هوکړو پر بنسټ د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګریزو او ټرانزیټي اړیکو د پراختیا او په دې برخه کې د شته ستونزو د له منځه وړلو په اړه خبرې وکړې.[۲۱] په دغه لیدنه کې دواړو خواوو د سوداګرۍ او ترانزیت د کچې د لوړولو او د اسلام کلا، ابو نصر فراهي او نیمروز په ګمرکونو کې د کاري ساعتونو د زیاتوالي په هکله موافقه وکړه، چې له ۸ ساعتونو څخه به ۱٦ ساعتونو ته لوړ شي.[۲۲] همدارنګه افغان او ایراني چاروکو د دواړو هېوادونو ترمنځ د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په اړه موافقه وکړه، چې د ورځنیو باري موټرو شمېر به له ۵۵۰ څخه ۱۲۰۰ موټرو ته لوړ کړي. د یادونې وړ ده، چې د سوداګرۍ د پراختیا په موخه دواړو خواوو ځینې ټاکل شوي نرخونه هم لغوه کړي، چې له مخې یې ایران ۱۰٤ ډالر او افغانستان ۵۰۰۰ افغانۍ لغوه کړي دي.[۲۳] دا په داسې حال کې ده، چې د دغو ناستو موخه د هغو هوکړه لیکونو تعقیبول دي، چې ملا عبدالغني برادر ایران ته د خپل سفر پر مهال د دغه هېواد له چارواکو سره لاسلیک کړي وو. ایران ته د رئیس الوزرا د اقتصادي مرستیال د سفر په ترڅ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ټرانزیټ د کچې د لوړولو په موخه یو شمېر هوکړه لیکونه لاسلیک شوي وو او د هغو د تعقیب په موخه د ګډو کمېټو پر ټاکلو هوکړه شوې وه.[۲۴]

په ټوله کې ویلای شو، چې په افغانستان کې د بدلون په رامنځته کېدو سره د افغانستان او ایران ترمنځ ګڼ شمېر اقتصادي سفرونه ترسره شوي دي. د یادو اقتصادي سفرونو په پایله کې د سوداګرۍ او اقتصادي راکړې ورکړې په برخه کې ګڼ شمېر اسانتیاوې رامنځته شوې او د سوداګرۍ پر وړاندې زیاتره خنډونه له منځه وړل شوي او یا یې د له منځه وړلو لپاره ګډې کمېټې جوړې شوې دي.

**د افغانستان او ایران خپلمنځي سوداګري**

ایران او افغانستان د دوو ګاونډیو هېوادونو په توګه یو له بل سره د میلیاردونو ډالرو کلنۍ سوداګري لري. خو دغه سوداګري یو اړخیزه ګڼل کېږي. په دې معنا چې ایران په دې سوداګرۍ کې ځو ځله ډېره مادي ګټه تر لاسه کوي. ایران افغانستان ته د دوو میلیاردو په اندازه توکي صادروي، په داسې حال کې چې ایران ته د افغانستان د صادراتو ارزښت له پنځوس میلیونو امریکایي ډالرو څخه نه اوړي. د موضوع د لا روښانتیا لپاره لومړی ایران ته د افغانستان صادرات او ورپسې افغانستان ته د ایران صادرات تر جلا عنوانونو لاندې څېړو.

**الف ـ ایران ته د افغانستان صادرات**

ایران ته د افغانستان د صادراتو ارزښت له دغه هېواد څخه د وارداتو په نسبت ډېر کم دی، چې د افغانستان اقتصاد ته په ډېره درنه بیه تمامېږي. افغانستان په ۲۰۲۲ز.کال کې ایران ته یوازې د ۲۱ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي و، خو په ۲۰۲۳ز.کال کې ایران ته د افغانستان د صادراتي توکو ارزښت ۲۸ میلیونو امریکایي ډالرو ته لوړ شو.[۲۵] په دې حساب سره په ۲۰۲۳ز.کال کې ایران ته د افغانستان صادرات ۳۷سلنه زیات شوي دي، چې د هغو هېوادونو په کتار کې چې ایران ته صادرات کوي، یو پنځوسم ځای لري. ایران ته د افغانستان په صادراتو کې زیاتره وچه مېوه، تازه مېوه، غالۍ(قالینې)، لاسي صنایع، طبي بوټي، زعفران، تازه مېوه، حیواني محصولات او داسې نور توکي شامل دي.[۲۶]

لکه څنګه چې لیدل کېږي، ایران ته د افغانستان صادرات په بې ساري ډول کم دي، چې د افغانستان اقتصاد ته کلکه ضربه واردوي. ایران ته د افغانستان صادرات په زیاته توګه کرنیز او حیواني محصولات دي. په دې معنا چې افغانستان لا هم د کرنیز اقتصاد درلودونکی دی. د اقتصادي پرمختګ او د صادراتو د زیاتوالي لپاره باید د افغانستان اقتصادي صنعتي او ورپسې د خدماتو مرحلې ته ننوځي. د همدې کار لپاره لازمه ده، چې له هر څه وړاندې په بېلابېلو سکتورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته لازمه زمینه برابره شي. د بېلګې په توګه د بهرنۍ پانګونې د جذب په موخه د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو له لارې بهرنیو پانګوالو ته ځانګړې

امتیازات او ضمانتونه په نظر کې ونیول شي، تر څو هغوی وهڅول شي، چې افغانستان ته خپلې پانګې راوړي. دغه راز، باید په هېواد کې له هر څه وړاندې د انرژۍ د سرچینو(لمریزې، بادي او اوبه ییزې برښنا) په تولید باندې په هر اړخیزه توګه کار وشي، تر څو د هېواد اقتصادي پرمختګ ته زمینه برابره شي. د صنعتي چارو په چټکتیا سره به موږ وکولای شو، چې خپلو کورنیو اړتیاوو پر پوره کولو سربېره ایران او نورې نړۍ ته هغه توکي صادر کړو، چې په هغه کې د ایران پر وړاندې نسبي ګټه (Comparative Advantage) لري. یانې هغه اجناس چې تولید یې په افغانستان کې د ایران په نسبت له هره پلوه ارزانه تمامېږي، ایران ته صادر او له ایران څخه هغه څه چې واردات یې افغانستان ته ارزانه تمامېږي، وارد کړو.

**ب ـ افغانستان ته د ایران صادرات**

افغانستان ته د ایران صادرات له دغه هېواد څخه د واردتو په نسبت څوبرابره زیات دي. ایران په ۲۰۲۳ز.کال کې افغانستان ته د ۱،٦ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي.[۲۷] په دې توګه افغانستان د هغو هېوادونو په کتار کې شپږم ځای لري، چې ایران ورته زیات صادرات لري. که څه هم دا اندازه له ۲۰۲۱ز.کال څخه وړاندې کلونو په نسبت کموالی ښیي، خو دا په دې معنا نه ده، چې د ایران او افغانستان تر منځ دې اقتصادي اړیکې خرابې شوې وي، بلکې د افغانانو د توکو د پېرلو ځواک کم شوی دی، چې له امله یې د توکو تقاضا کمه شوې ده. له همدې کبله افغانستان ته له ټولو هېوادونو څخه واردات کم شوي دي.

افغانستان ته د ایران مهم صادراتي توکي تېل دي، چې د ایران د صادراتو ۱۲ سلنه جوړوي.[۲۸] همدارنګه د ایران په صادراتي توکو کې ګاز، خوراکي مواد، ماشینري، ساختماني توکي، انجینري او مخابراتي وسایل، ټرانسپورټي وسایل، کور سامان الات، د سینګار توکي، فرنیچر، غالۍ، فرشونه، طبي توکي، ټوکر، جامې، څرمن، لاسي صنایع، زیورات او داسې نور هم شامل دي.[۲۹]

که افغانستان ته د ایران صادراتو ته ځیر شو، ایران هغه توکي افغانستان ته صادروي، چې ډېری یې د افغانستان په دننه کې په اسانۍ سره تولېد کېدای شي او ځینې نور یې اوس هم په افغانستان کې تولېدېږي. د بېلګې په توګه افغانستان د

غالیو په تولید کې ښه نوم لري، خو بیا هم ایران موږ ته خپلې غالۍ رالېږي او زموږ د هېواد په دننه کې له افغان غالیو سره سیالي کولای شي. د همدې ستونزې لپاره غوره ده، چې د داخلي صنعت د پیاوړتیا لپاره لازم کار وشي. له حقوقي پلوه د کورني صنعت د پیاوړتیا په موخه کولای شو، په هغو توکو مالیه له نړیوالو سوداګریزو قوانینو سره سم لوړې کچې ته ورسوو، چې د هېواد په دننه کې تولیدېږي او د افغانستان د کورنیو اړتیاوو لپاره بسنه کوي. په دې کار سره به وارد شوي توکي له کورنیو تولید شویو توکو سره سیالي ونشي کولای. د یادولو ده، چې دغه چاره باید په داسې ډول تر سره شي، چې په هېواد کې دننه کورني تولیدي شرکتونه او فابریکې یاد توکي انحصار نه کړي. په دې ګام سره به له یوې خوا هېواد ته صادرات کم شوي وي او له بلې خوا به مو کورنۍ صنعت پیاوړی شوی وي.

همدارنګه د هېواد په دننه کې باید د ډمپینګ (Dumping) په اړه څېړنې تر سره شي. هېوادونه د دې لپاره چې د یوه بل هېواد کورنی صنعت له منځه یوړل شي، له ډمپینګ څخه کار اخلي. په دې معنا، کله چې د یو هېواد له خوا محصولات د خپل اصلي قیمت څخه په ټېټه بیه نورو هېوادونو ته صادر شي، نو په دغه وخت کې ډمپینګ رامنځته کېږي. دغه هېواد دغه کار د دې لپاره کوي، چې د بل هېواد داخلي صنعت له منځه یوسي. له همدې امله، کله چې د اړوندو توکو په برخه کې د مقابل هېواد صنعت ته تاوان ورسېد، نو بیا د هغه هېواد بازار انحصاروي او د همغه توکي بیه بېرته لوړوي. په افغانستان کې د ډمپینګ په برخه کې لازم پوهاوی نشته، هیله ده، چې د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا په موخه په دې برخه کې قوانین ایجاد او په بشپړه توګه عملي کړل شي.

**د ایران او افغانستان ترمنځ لازم الاجرا اقتصادي تړونونه**

افغانستان له ایران سره په بېلابېلو برخو کې مهم اقتصادي تړونونه لاسلیک کړي دي. د یادو تړونونو پر بنسټ دواړو هېوادونو هڅه کړې، چې په خپلو اقتصادي اړیکو کې خنډونونه له منځه یوسي او له یو بل سره په ازاده فضا کې خپله سوداګري سرته ورسوي.

**الف ـ د ایران او افغانستان تر منځ د پانگونې دوه اړخېزه تړون (BIT)**

د دوه اړخیزې پانگونې تړون (BIT) هغه ډول تړونونه دي، چې د دوو هېوادونو ترمنځ لاسلیک کېږي. په دې ډول تړونونو کې د تړون دواړه لوري ژمنه کوي، چې په خپلو هېوادونو کې به د یو بل د اتباعو د مستقیمې پانگونې (FDI) په برخه کې لازم امتیازات او حقوق ورکوي او په تړون کوونکو هېوادونو کې به د یو بل د اتباعو د پانگونې د خوندیتوب په برخه کې درانه مسئولیتونه مني. د افغانستان او ایران ترمنځ د پانگونې دوه اړخېزه تړون په ۲۰۰٦ز.کال کې لاسلیک شوی دی.[۳۰] دغه تړون په دې موخه لاسلیک شوی، چې په افغانستان کې د ایرانیو پانگوالو او په ایران کې د افغان پانگوالو د پانگو د خوندیتوب لپاره یو لړ تضمینونه رامنځ ته کړي.دغه تضمینونه په عمومي توگه عادلانه او مساوي چلند، له استملاک څخه ساتنې او د پانگې امنیت او خوندیتوب ته شاملېږي. یاد تړون دواړو لوریو پانگوالو ته د شخړو د حل بدیل میکانیزم ته اجازه ورکوي، چې پر بنسټ یې یو پانگوال کولای شي، له هغو حقوقو څخه د سرغړونې له امله د کوربه هېواد د محاکمو پر ځای حکمیت ته مراجعه وکړي، چې د پانگونې په تړون کې ځای پر ځای شوي دي. دغه تړون افغان او ایراني پانگوال ته حق ورکوي، چې د ایران او افغانستان د حکومتونو پر وړاندې خپله دعوه اقامه کړي، چې د پانگونې له تړون څخه یې سرغړونه کړې ده، تر څو مالي خساره تر لاسه کړي. د شخړو د حل دغه ډول میکانیزم ته د پانگوال او دولت د شخړې د حلولو مکانیزم[۳۱] وایې.

په وروستیو کلونو کې، د دوه اړخیزې پانگونې تړونونو په چټکۍ سره وده کړې؛ په عملي توگه هر هېواد لږ تر لږه یو غړی دی.[۳۲] اوس مهال د نړۍ پرمختللي هېوادونه (لکه هندوستان او امریکا) د پانگونو د نمونوي (Model) تړونونو لرونکي دي او د هغو له مخې له نورو هېوادونو سره د پانگونې تړونونه لاسلیکوي. په دې اړه باید افغان دولت له ایران سره د پانگونې پر یاد تړون بیا کتنه وکړي. له بیا کتنې څخه وړاندې افغان لوري باید د خپلو ملي گټو له مخې د پانگونې په اړه نمونوي تړون جوړ کړي او د هغه پر بنسټ باید له نورې نړۍ سره د پانگونې دوه اړخیز تړونونه لاسلیک کړي.

### ب ـ د چابهار تړون

د چابهار هوکړه لیک د افغانستان، ایران او هند تر منځ د نړیوال ترانزیټ او د حمل او نقل د دهلیز د رامنځته کېدو په موخه لاسلیک شوی دی. دغه هوکړه لیک یوه سریزه او پنځلس مادې لري، د تهران په ښار کې د ۲۰۱٦ز.کال د مي پر ۲۳ نېټه لاسلیک شوی دی. دغه هوکړه له لاسلیک څخه دېرش ورځې د لسو کلونو لپاره نافذ ګڼل کېږي. د یادولو ده، چې که کوم لوري ترې د انصراف غوښتنه ونه کړه له لسو څخه د زیاتو کلونو لپاره هم نافذ کېدای شي. له یاد هوکړه لیک سره د الحاق لاره د ټولو هېوادونو پر مخ خلاصه ده او هر هېواد چې وغواړي له نوموړی هوکړه لیک سره یو ځای کېدای شي.[۳۳] د چابهار د هوکړه لیک موخه د چابهار د سمندریز بندر له لارې د مسافرینو او د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد او ټرانزیټ لپاره د باور وړ دهلیز رامنځته کول دي، تر څو په کم لګښت سره د یادو هېوادونو محصولات په اسانۍ سره نړیوالو بازارونو ته ورسېږي.[۳۴] د دغه هوکړه لیک پلي کېدل په سیمه کې د افغانستان د سوداګریزو توکو د لېږدرالېږد لپاره د کراچۍ بندر د بدیل په توګه استفاده کېدای شي.

د چابهار بندر د مکران په ساحل کې د عمان اوبو ته نږدې د هرمز تنګي په خوله کې موقعیت لري. چابهار له فارس خلیج څخه بهر پروت دی، چې په دغه خلیج کې د هېوادونو تر منځ له جنجالونو څخه خوندي پاتې کېږي. یاد بندرد ایران یوازینی بندر دی، چې د هند سمندر ته مستقیمه لار لري. چابهار د سیستان بلوچستان له مرکز زاهدان څخه ۷۰۰ کیلو متره، د زاهدان له لارې د افغانستان له پولې څخه ۹٦۲ کیلومتره، د ترکمنستان تر پولې پورې ۱۸۲۷ کېلومتره او د هندوستان له ممبی څخه ۱۵٦۰ کیلومتره لرې پروت دی.[۳۵]

د چابهار ټرانزیټي دهلیز د سیمې په اقتصادي او سیاسي اړیکو کې ستراتیژیک اهمیت لري او کولای شي، چې د مرکزي او جنوبي آسیا په سیاسي او اقتصادي مناسباتو او د سیمې د سوداګریزې او ټرانزیټي جغرافیې په بدلون کې مهم رول ولوبوي. په نړیوالې سوداګرۍ کې د افغانستان تر ټولو لویه ستونزه په مستقیمه توګه سمندري بندرونو ته د دغه هېواد د لاسرسي نه لرل دي. افغانستان په تېرو کلونو کې خپله ډېره برخه سوداګري

د کراچۍ بندر له لارې تر سره کوي. افغان سوداګرو له دې لارې ډېر زيانونه او ستونزې ګاللې. پاکستان له ډېرو کلونو راهيسې افغانستان ته د ټرانزيټي لارې ورکوونکي هېواد په توګه له خپل موقعيت څخه د دغه هېواد پر وړاندې د سياسي فشار د وسيلې په توګه ګټه پورته کوي او ډېر کله افغان سوداګر د پاکستان له لوري د خپلو سوداګريزو توکو له بې ځايه ځنډېدلو او درولو څخه شکايت کوي، چې په پايله کې يې ډېر توکي خرابېږي، چې له امله يې افغان سوداګرو ته بار بار ميليونونه ډالره زيان رسېدلی دی.

د شمېرو له مخې افغانستان تقريبا اتيا سلنه بهرنۍ سوداګري له پاکستان او د کراچۍ له بندر څخه تر سره کوي، پر پاکستان د افغانستان دغې اقتصادي تکيې د دغه هېواد لپاره ګڼې اقتصادي او سياسي ستونزې رامنځ ته کړې دي. افغانستان او پاکستان په ۲۰۱۰ز کال کې د اپټا (APTTA) په نوم ګډ ټرانزيټي تړون لاسليک کړ،[۳۶] چې پر بنسټ يې دواړه هېوادونه د سوداګرۍ او ټرانزيټ په موخه لازمې اسانتياوې رامنځ ته کړي؛ خو له ياد تړون څخه وروسته پاکستان نه يوازې د افغانستان د ټرانزيټ لپاره کومه اسانتيا رامنځته نه کړه، بلکې په دې برخه کې يې څو برابره ستونزې جوړې کړې. له دې پلوه چابهار، افغانستان ته د سلګونو ميليونو ډالرو د ټرانزيټ پر حق سربېره، پر پاکستان د افغانستان سوداګريزه او ټرانزيټي تکيه ختموي او افغانستان کولای شي، چې خپل بهرنۍ سوداګريز سياست پر پاکستان باندې په کمې اتکا سره طرح کړي. د چابهار بندر آزادو اوبو ته د منځنۍ آسيا د پنځو هېوادونو (تاجکستان، قزاقستان، ازبکستان، قرغزستان، ترکمنستان) او افغانستان لپاره له نږدې لارو څخه ده. افغانستان کولای شي يادو هېوادونو ته د ټرانزيټ پر اصلي مسير بدل شي.

په لنډه توګه ويلای شو، چې د چابهار تړون پلي کېدل افغانستان لپاره لاندې ښېګڼې لري:

- ✓ افغانستان نړيوالو اوبو ته يوه بديله لاره پيدا کوي؛
- ✓ افغانستان خپل صادرات په کم لګښت سره نړيوالو بازارونو ته رسولای شي؛
- ✓ افغانستان خپل سوداګريز توکي په اسانۍ سره واردولای شي؛
- ✓ افغانستان له اقتصادي پلوه پرمختګ کوي؛

✓ افغانستان پر پاکستان باندې له اقتصادي تکیې څخه خلاصېږي؛

✓ د غوره ټرانزیټي لارې په شتون کې افغان تولید کوونکي هڅول کېږي تر څو خپل تولیدات زیات او بهر ته یې صادر کړي؛

✓ افغانستان د مرکزي آسیا په وچه کې ایسارو هېوادونو د ټرانزیټي مسیر په توگه له حق العبور څخه برخمن کېږي.

**ج ـ د افغانستان او ایران ترمنځ مهم گمرکي تړونونه**

د ۱۴۰۱ل.کال د چنگاښ پر دویمه نېټه د افغانستان اسلامي امارت او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ د دوه اړخیزو سوداگریزو اړیکو د ښه والي په موخه د شیخ ابو نصر فراهي په بندر کې ناسته جوړه شوې وه، چې په پایله کې یې گمرکي تفاهم نامې لاسلیک شوې.[۳۷] د دې تفاهم نامې له مخې ټول ټرانزیټي مالونه چې له چاه بهار او عباس بندر څخه د شیخ ابو نصر فراهي بندر ته لیږدول کیږي، پرته له کوم خنډ څخه به د شیخ ابو نصر فراهي بندر له لارې افغانستان ته صادریږي.[۳۸] همدارنگه، که د فراه ولایت د گمرک ریاست او د نورم او معیار ریاست له لوري سوداگریز توکي بې کیفیته وپېژندل شي؛ باید بیرته ایران ته ستانه شي او د ماهیرود سرحدي چارواکي دې په دې برخه کې همکاري وکړي.[۳۹] د همدې تفاهم نامې له مخې افغانستان ۶۰۰ باروړونکو موټرو ته د ورځې د تگ راتگ اجازه ورکول شوې وه، (چې اوس مهال ۱۲۰۰ باروړونکو موټرو ته اجازه وکول کېږي). د تفاهمنامې په بله برخه کې د افغانستان او ایران له خلکو سره دواړو هېوادونو ته په تگ او راتگ کې د ښه چلند یادونه شوې ده. د یادونې وړ ده، چې دغه تفاهم لیک د دواړو هېوادونو د مشرانو له خوا تصویب شوی او د دواړو لوریو ترمنځ پلی کېږي.[۴۰]

**د ـ د افغانستان او ایران گډ اقتصادي کمیسیون تفاهم لیکونه**

افغانستان له ایران سره د اقتصادي اړیکو د رغولو، د پانگونې د جلب او دوه اړخیزو همکاریو په موخه د ایران په گډون له گاونډیو هېوادونو سره دوه اړخیز اقتصادي او سوداگریز کمیسیونونه جوړ کړي وو.[۴۱] د اقتصادي تفاهم لیکونو په لړۍ کې په ۱۳۹۴ل.کال کې له ایران سره د اقتصادي همکاریو بین الحکومتي

کمیسیون مالیې وزارت ته وسپارل شو. دې کمېسیون ۲۰۱٦ز.کال د اګسټ پر اتمه او نهمه نېټه په تهران کې پنځمه ناسته ترسره کړه. تمه وه، چې یاد کمیسیون به شپږمه ناسته په ۱۳۹۹ل.کال کې ترسره کړې وای، خو د ځېنو دلایلو پر بنسټ دغه ناسته وځنډېول شوه.

د ۱۳۹٦ل.کال د غبرګولي پر ۲۸-۲۹ نېټه د ایران او افغانستان تر منځ اقتصاد ـ ټرانزیټ لومړۍ کمېټه، چې د دواړو هېوادونو د ستراتیژیکو همکاریو د سند په چوکاټ کې رامنځته شوې وه، په تهران کې جوړه شوه، خو په دې ناسته کې د اختلاف له امله بې پایلې شوه. د همدې کمېټې دویمه ناسته د همدې کال په لیندۍ میاشت کې په کابل کې جوړه شوه، خو بیا هم د دواړو لوریو ترمنځ د اختلاف له امله پکې کوم پرمختګ ونه شو. د همدې کمېټې درېیمه ناسته د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کې په تهران کې جوړه شوه، چې د ډامپینګ، د اجناسو د قاچاق او پر تعرفو باندې د اختلاف له امله یو ځل بیا کومې پایلې ته ونه رسېده او د دې ناستې ځینې اختلافي مسایل د دواړو هېوادونو ګډ کمیسیون ته ولېږدول شول.

**و ـ د افغانستان، ایران او ازبکستان تر منځ د نړیوالو ټرانسپورټي لارو په اړه تړون**

دغه تړون د افغانستان، ایران او ازبکستان ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو د پراختیا په موخه د ټرانسپورټي لویو لارو جوړولو په برخه کې لاسلیک شوی دی. د دې تړون په لومړۍ ماده کې د یادو هېوادونو ترمنځ د نړیوالو ټرانسپورټي لارو جوړولو په موخه د چټکو ګامونو د اوچتولو یادونه شوې، چې اروپا، د منځنی ختیځ له هېوادونو، د فارس خلیج او د عمان له سمندر او له نورو سمندري بندرونه سره ونښلول شي. د دې تړون په دویمه ماده کې د ځمکنیو لارو د پراختیا یادونه شوې، چې باید په اساسي ډول پراختیا ورکړل شي.

- ✓ دلارام ـ هرات ـ شبرغان ـ مزارشریف ـ ترمذ ـ تاشکند
- ✓ عباس بندر ـ دوغارون ـ هرات ـ شبرغان ـ مزارشریف ـ ترمذ ـ تاشکند
- ✓ بازارګان- تهران- مشهد- دوغارون- هرات- شبرغان- مزارشریف- ترمذ- تاشکند

همدارنگه په دې ماده کې د سنگان ـ هرات ـ تاشکند تر منځ د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو د ارزونې د ترسره کولو د مکلفیت یادونه شوې وه. د دې تړون په لسمه ماده کې د دې یادونه شوې، چې دغه تړون د لسو کلونو لپاره لاسلیک شوی او وروسته د یادو هېوادونو په رضایت سره د نورو کلونو لپاره هم تمدید کېدای شي.

د دې تړون پر بنسټ د درې واړو هېوادونو استازو وخت ناوخت د ټرانزیټ په برخه کې ناستې کړې او په دې برخه کې یې کاري ډلې گومارلي دي. په ۱۳۹۹ل.کال کې د درې واړو هېوادونو د چارواکو ترمنځ ویډیو کنفرانس ترسره شو. په دې کنفرانس کې د شته پرمختگونو راپور شریک شو او د ټرانزیټ په برخه کې د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وشوه. دغه راز ایراني لوري د یاد تړون د تمدید وړاندیز وکړ.[42] دا چې اوس هم د افغانستان د سوداگرۍ او صنعت وزارت په رسمي ویبپاڼه کې یاد تړون د نافذو تړونونو په لېست کې ځای لري، په غالب گومان چې د دغه تړون د تمدید په اړه د ایراني لوري یاد وړاندیز منل شوی او تړون لازم الاجرا گڼل کېږي.

**هـ ـ د افغانستان، ایران او هندوستان ترمنځ گډ تفاهملیکونه**

د افغانستان، ایران او هندوستان ترمنځ د دوو درې اړخیزه کمیسیونونو د رامنځته کېدلو په برخه کې تفاهملیکونه لاسلیک شوي دي.[43] لومړی تفاهملیک د ایران په تهران ښار کې د ۲۰۰۳ز.کال د جنوري پر ۵مه لاسلیک شوی دی. په لومړي تفاهملیک کې د درې واړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو او سوداگرۍ د پراختیا او د درې واړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټي لارو د زیاتولو په موخه د لازمو گامونو د اخېستلو هوکړه شوې ده.[44]دوهم تفاهم لیک هم د ۲۰۰۳ز.کال د جنوري میاشتې پر ۵مه نېټه په تهران کې لاسلیک شوی دی. په دې تفاهملیک کې د چابهار ـ میلاک ـ زرنج ـ دلارم ترمنځ د ټرانزیټ او ټرانسپورټي لارې د رغولو په موخه د لازمو گامونو په ترسره کولو هوکړه شوې ده، تر څو له دې لارې درې واړه هېوادونه یو له بل سره ونښلول شي.[45] د دې تفاهم لیکونو له امله د درې واړو هېوادونو ترمنځ د سوداگرۍ او ټرانزیټ په برخه کې د پام وړ کار شوی دی. هندوستان په افغانستان کې ځینې لویې لارې ورغولې، تر څو خپل صادرات له همدې لارو افغانستان او د ازبکستان په گډون د منځنۍ اسیا نورو هېوادونو ته ورسوي.

افغانستان او ایران د سوداګرۍ په برخه کې ځینې نور تړونونه هم لاسلیک کړي، چې د منابعو د نشتون له امله نه شو کولای، د هغو محتوا ته وګورو. څه موده وړاندې د ۱۴۰۲ز.کال لړم میاشت کې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر ایران ته شپږ ورځنی سفر درلود، چې په ترڅ کې یې افغانستان او ایران ٦٨ اقتصادي او سوداګریز هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.[٤٦] دغه تړونونه د دواړو لوریو ترمنځ د سوداګرۍ د لا پراختیا په موخه لاسلیک شوي دي.

**د ایران او افغانستان د سوداګریزو اړیکو راتلونکی**

که څه هم ایران او افغانستان د امریکا تر بندیزونو لاندې دي، خو د دواړو هېوادونو تر منځ تجارت د ودې په حال کې دی. ایران د تیلو د غني زیرمو له حیثه د نړۍ څلورم بډایه هېواد دی، چې کولای شي افغانستان ته یې د تېلو صادرات لاوغوړېږي. افغانستان ته د ایران مهم صادراتي توکي له تیلو او ګازو څخه عبارت دي. ایران افغانستان ته د ۲۰۲۰ز.کال له مي میاشت څخه د ۲۰۲۱ز.کال تر همدې میاشتې پورې څلورسوه زره ټنه نفت صادر کړي دي.[٤٧] اوس دا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له بیاواکمنۍ سره د ایران او افغانستان تر منځ سیاسي اړیکې تر بل هر وخت زیاتې ګرمې شوې دي، نو داسې ښکاري چې د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري به په ډېره چټکۍ سره وغوړېږي.

اسلامي امارت بیا ځلي واک ته له رسېدو سره سم له سیمې او نړۍ سره د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا ته خپله ژمنتیا ښودلې ده. د اسلامي امارت چاروکو د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا په موخه د ایران په ګډون ډېرو هېوادونو ته ګڼ شمېر سفرونه وکړل. د بېلګې په توګه ایران ته د رئیس الوزرا د اقتصادي مرستیال په وروستي سفر کې د دواړو لوریو تر منځ د سوداګرۍ په برخه کې د ستونزو او خنډونو د له منځه وړلو لپاره بېلابېلې کمېټې جوړې شوې، چې څه وخت وړاندې یې په لومړۍ ناسته کې د دواړو لوریو ترمنځ د اقتصادي اړیکو په برخه کې ځینې خنډونه له منځه یوړل.

په همدې توګه اسلامي امارت او ایران په سیمه کې دواړه یو بل نږدې سوداګریز شریکان بولي او یو بل ته په اقتصادي اړیکو کې ځانګړی ځای ورکوي.[۴۸] یو له مهمو دلایلو څخه د افغانستان لپاره د ایران ځانګړی موقعیت دی. اوس مهال افغانستان له نړۍ سره د سوداګرۍ په موخه زیاتره د پاکستان د کراچۍ له سمندریز بندر څخه استفاده کوي. وخت ناوخت پاکستان د سیاسي مسایلو له امله افغان سوداګرو ته ستونزې جوړوي او ډېر ځله د افغان سوداګرو د مالونو پر مخ خپلې لارې او پولې تړي. له همدې امله افغانستان کولای شي، ایران د یوې بدیلې لارې په توګه وکاروي او له نړۍ سره خپلې سوداګري ته دوام ورکړي. دغه چاره به له افغانستان سره مرسته وکړي، چې پاکستان ته وښيي، افغانستان له نړۍ سره د سوداګرۍ لپاره نور غوراوي هم لري. د همدې کار لپاره اسلامي امارت باید د چابهار د تړون مواد په ټېنګه تعقیب کړي. سربېره پر دې، ایران چې د غرب له بندیزونو څخه کړېږي، د خپلو تولیداتو لپاره د نږدې بازار په لټه کې دی. یاد هېواد د خپلو توکو د خرڅلاو لپاره د افغانستان غوندې نږدې بازار په لټه کې دی، چې له یوې خوا د پیسو راکړه ورکړه اسانه ده او له بلې خوا د توکو ټرانزیټ یې په اسانۍ سره ترسره کېږي. ایران په ۲۰۲۳ ز.کال د خپلو صادراتو له کبله څه باندې یو نیم میلیارد ډالر ترلاسه کړي دي. همدارګه ایران کولای شي، په راتلونکې کې د افغانستان له لارې له ازبکستان او چین سره د ځمکې له لارې ونښلي. د دې کار لپاره افغانستان ته په کار دی، چې د هېواد په دننه کې ټرانسپورټي لارې چارې په اساسي ډول ورغوي او د اوسپنې پټلۍ د جوړولو لپاره کوټلي ګامونه واخلي. دغه موضوع د ایران له بېلابېلو چارواکو سره د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر په وروستي سفر کې مطرح شوې وه.

دغه راز، ایران غواړي له افغانستان سره د خپلو اقتصادي اړیکو په لړ کې خپله سوداګري لس میلیاردو ډالرو ته ورسوي. په دې اړه د افغانستان په چارو کې د ایران د جمهور رئیس ځانګړي استازي سلاکار ویلي، چې د افغانستان په اړه د دې هېواد اقتصادي ستراتېژي په دې ډول ده، چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې د دواړو لوریو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري لس میلیارده ډالرو ته ورسېږي او په دې اړه زیات

ګامونه ترسره شوي دي. د بېلګې په توګه د ټرانزيټي اسانتياوو رامنځته کولو په موخه د هرات او خواف د اوسپني پټلۍ فعالول، په ګمرکونو کې د ۲۴ ساعته خدماتو وړاندې کول او داسې نور د يادولو وړ دي.[۴۹]

پر دې سربېره، ايران په افغانستان کې کولای شي، بې له کوم خنډه پانګونه وکړي. په افغانستان کې د امريکا شتون د ايران د پانګونې پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ بلل کېده.[۵۰] په افغانستان کې د اسلامي امارت په بياواکمنۍ سره ايران ته د دې زمينه برابره ده، چې په افغانستان کې د کانونو په استخراج او په نورو بنسټيزو برخو کې پانګونه وکړي. په دې برخه کې ايراني پانګوالو څو ځله افغانستان ته سفر وکړ، تر څو په افغانستان کې د پانګونې د فرصت ارزونه وکړي.[۵۱] د يادولو ده، چې افغانستان او ايران د پانګونې دوه اړخيز تړون لاسليک کړی، چې په افغانستان کې د ايرانيانو او په ايران کې د افغانانو پانګې خوندي او له ګڼ شمېر اسانتياوو څخه برخمنې کړي.

د همدې پورتنيو دلايلو له مخې ويلای شو، چې د افغانستان او ايران ترمنځ اقتصادي اړيکې او سوداګرۍ به لا وغوړېږي او د افغانستان له لوري د صادراتو په زياتوالي سره به دوه اړخېزه سوداګرۍ دوه برابره ډېره شي. دغه راز، د چابهار بندر فعالېدل او په افغانستان کې بهرنيو پانګونو ته د خوندي چاپيريال رامنځته کول به دواړو هېوادونو په اقتصادي نږدېوالي کې ډېره مرسته وکړي.

**پایله**

د ايران او افغانستان د اقتصادي اړيکو په دې لنډه مطالعه کې دې پايلې ته رسېږو، چې افغانستان او ايران يو له بل سره ډېرې ژورې اقتصادي اړيکې لري. دغه اقتصادي اړيکې د امارت په راتګ سره لا پياوړې شوې او په راتلونکي کې يې د لاپراختيا هيلې شته. اوسمهال که څه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخېزه سوداګري کمه شوې ده، خو دا په دې معنا نه ده، چې ګويا د افغانستان او ايران ترمنځ اقتصادي اړيکې کمزورې شوې، بلکې په ټوله کې د افغانستان واردات له ټولې نړۍ څخه کم شوي دي. دغه کمښت د افغانانو له لوري د توکو د تقاضا په کمښت او د افغانستان پر بانکونو د محدوديتونو له امله رامنځته شوی دی. دواړه

هېوادونه اوسمهال د غرب له اقتصادي بندیزونو سره مخامخ دي، چې د خپلمنځي سوداګرۍ د زیاتوالي له امله کولای شي، دغه ننګونه په فرصت بدله کړي او خپلمنځي سوداګري په دوه اړخیز ډول پراخه کړي.

اوسمهال د ایران او افغانستان ترمنځ سوداګري په لویه کچه یو اړخیزه ده. افغانستان له ایران څخه په ۲۰۲۳ز.کال کې څه باندې یونیم میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت واردات درلول، چې په مقابل کې یې افغانستان یوازې د پنځوس میلیونه ډالرو په ارزښت توکي ایران ته صادر کړي وو. په بل عبارت د ایران او افغانستان ترمنځ په سوداګرۍ کې له افغانستان څخه یو نیم میلیارد ډالر ایران ته لېږدول شوي دي، په داسې حال کې چې افغانستان یوازې پنځوس میلیونه ډالر له ایران سره د سوداګرۍ په پایله کې ترلاسه کړي دي. له همدې امله اړتیا ده، چې افغانستان د کورني صنعت د پیاوړتیا په وسیله دغه سوداګري دوه اړخیزه کړي.

ایران او افغانستان د اقتصادي اړیکو په برخه کې بېلابېل تړونونه لري، چې د ټرانزیټ او سوداګریزو خنډونو د له منځه وړلو لپاره لاسلیک شوي دي. د یادو تړونونو مواد ډېر خواره واره (پراګنده) دي، چې دواړه لوري له ستونزو سره مخامخ کولای شي. د همدې ستونزې د حل لپاره په اوسنۍ نړۍ کې هېوادونه د اقتصادي اړیکو د تنظیم لپاره یو هر اړخیز او جامع تړون ( Comprehensive Economic Agreement) لاسلیکوي، چې د اقتصادي اړیکو هره برخه (سوداګري، ټرانزیټ ، پانګونه او نور) پکې رانغاړي. پر همدې بنسټ د افغانستان او ایران ترمنځ هم د همداسې دوه اړخیز تړون اړتیا لیدل کېږي. پر دې سربېره ، د څو اړخېزو تړونو په لړ کې د چابهار تړون بشپړ پلي کېدل افغانستان ته د دې فرصت ورکوي، چې له نړۍ سره د سوداګرۍ لپاره د پاکستان د کراچۍ بندر ترڅنګ یوه بله دروازه هم پرانیزي.

**وړاندیزونه**

د مقالې له لیکلو وروسته لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱- اسلامي امارت ته وړاندیز کېږي، چې له ایران سره د اقتصادي اړیکو په موخه یو داسې جامع تړون، چې په اوسنۍ نړۍ کې ورته

(Comprehensive Economic Agreement) وايي، لاسليک کړي، چې ټولې اقتصادي برخې پکې را ونغاړل شي.

۲- د افغانستان اسلامي امارت باید په پوره توګه هڅه وکړي، چې د افغانستان لپاره د ایران له غوره موقعیت څخه ګټه واخلي، تر څو پر پاکستان سربېره له دې لارې هم له نړۍ سره د سمندر له لارې سوداګري وکړي.

۳- ایران او افغانستان دواړه د لوېدیځ له بندیزونو څخه کړېږي، له همدې امله باید خپلمنځي سوداګري لا پراخه کړي او د سوداګرۍ د خنډونو په له منځه وړلو کې یو له بل سره لا زیاته همکاري وکړي او په دې اړه له ایران سره ګډ سوداګریز او ټرانزیټي کمېسیونونه جوړ کړي، تر څو د دواړو لوریو ترمنځ د ستونزو د پیداکېدو په صورت کې حللارې ولټوي.

**مأخذونه**

1-Iran says its embassy in Kabul remains open, August 17, 2021, available at https://www.reuters.com/world/asia-pacific/iran-says-its-embassy-kabul-remains-open-2021-08-17 [Accessed: 11, December 2023].

2-Melissa Galbraith, Taliban Say No One Will Use Afghanistan to Attack Another Country, Global live Media, August 17, 2021, available at https://globelivemedia.com/taliban-in-afghanistan-2021/taliban-say-no-one-will-use-afghanistan-to-attack-another-country/ [Accessed: 16, December 2023].

۳- افغانستان او ایران په سیاسي، امنیتي، پانګونې، سوداګرۍ او ګمرک، کډوالو، د اوبو، برېښنا، انرژۍ حوزې، فرهنګي، علمي او روزنې برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړه کړې، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د لړم د ۲٦ مې نېټې ګڼه.

۴- د اسلامي امارت د رياست الوزرا مرستيال د افغانستان لپاره د ايران له ځانګړي استازي سره وکتل، باختر آژانس ويبپاڼه، ۱۴۰۰ لمريز کال د لړم ۲٦ مه، /https://bakhtarnews.af [مراجعه: 1402/11/05 ل.].

5-Taliban foreign minister in first trip to Iran, Al Arabiya English, January 8, 2022, available at https://english.alarabiya.net/News/middle-east/2022/01/08/Taliban-foreign-minister-in-first-trip-to-Iran- [Accessed: 17, December 2023].

٦- کابل او تهران د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو پر پراختيا ټينګار وکړ، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمريز کال د مرغومي ۲۱ مه نېټه

۷- طالبان وايي ايران لسګونه ميله وسلې او پوځي وسايط بېرته ورسپارلي، امريکا غږ پښتو ويبپاڼه، ۱۴۰۱ لمريز کال د غبرګولي ۱۸ مه، لاسرسی https://www.pashtovoa.com/a/6607966.html[مراجعه: ۱٤۰۲/۱۰/۱۷ ل.].

8- Abdul Qahar Balkhi on Twitter: "Notice IEA-MoFA informs all Afghans residing in I.R Iran...., available at https://twitter.com/QaharBalkhi/status/1629907296628219905?ref_src=twsrc%5Etfw, [Accessed: 5, December 2023].

9-Taliban takes over Afghan embassy in Iran capital Tehran, The New Arab, 2 March 2023, available at https://www.newarab.com/news/taliban-takes-over-afghan-embassy-iran-capital-tehran [Accessed: 8, December 2023].

10-Bozorgmehr Sharafedin and Julia Payne, EXCLUSIVE-Iran resumes fuel exports to neighboring Afghanistan, Reuters, August 23, 2021, available at

https://www.nasdaq.com/articles/exclusive-iran-resumes-fuel-exports-to-neighbouring-afghanistan-2021-08-23 [Accessed: 20 December, 2023].

۱۱- فغانستان او ایران په سیاسي، امنیتي، پانگونې، سوداګرۍ او ګمرک، کډوالو، د اوبو، برېښنا، انرژۍ حوزې، فرهنګي، علمي او روزنې برخو کې د ګډو کمېټو پر جوړولو هوکړه کړې، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د لړم ۲٦ مه نېټه.

12-Tehran Times, First meeting between a top Iranian diplomat and Taliban, December 19, 2021, available at https://globelivemedia.com/taliban-in-afghanistan-2021/taliban-say-no-one-will-use-afghanistan-to-attack-another-country/ [Accessed: 17, January 2024].

۱۳- هند او ایران له افغانستان سره پر همکارۍ ټینکار وکړ، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د مرغومي ۲۱ مه نېټه.

14-Taliban foreign minister in first trip to Iran, Al Arabiya English, January 8, 2022, available at https://english.alarabiya.net/News/middle-east/2022/01/08/Taliban-foreign-minister-in-first-trip-to-Iran- [Accessed: 17, January 2024].

۱۵- کابل او تهران د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ، هېواد ورځپاڼه، ۱۴۰۰ لمریز کال د مرغومي ۲۱ مه نېټه

16-Afghan earthquake: Iran sends two aid shipments as death toll crosses 1,000, 22 June 2022, available at

https://www.presstv.ir/Detail/2022/06/22/684354/Iran-send-two-aid-shipments-Afghanistan-Embassy [Accessed: January 20, 2024].

۱۷- هیئت اقتصادی ایران به کابل آمده است، د اریانا ټلویزیون ویبپاڼه، ۱۴۰۲/۰۷/۱٦ل، لاسرسی https://www.ariananews.af/fa/%d9%87 / [مراجعه: ۱۴0۲/۰۹/۲2 ل.].

۱۸- ملا عبدالغني برادر په رسمي سفر ایران ته تللی، بي بي سي پښتو پاڼه، ۱۴۰۲/۰۸/۱۳، لاسرسی
https://www.bbc.com/pashto/articles/c282d1nnl8do [مراجعه: 140۲/۰۹/012 ل.].

۱۹- ایران ته د ملابرادر د سفر پایلې،کلید گروپ، ۱۴۰۲/۰۸/۱۷. لاسرسی https://tkg.af/pashto/2023/11/08/%D8%A7 [مراجعه: 140۲/۰۹/15 ل.].

۲۰- هماغه سرچینه

۲۱- توافق کمیته های مشترک ایران و افغانستان برای افزایش سطح تجارت، خبرگزاری تسنیم،، ۱۴۰۲ - ۱۴:۰۵ لاسرسی
https://www.tasnimnews.com/fa/news/1402/10/17/3019062/%D8%AA%D9[مراجعه: 140۲/۰۹/04 ل.].

۲۲- هماغه سرچینه.

۲۳- هماغه سرچینه.

۲۴- توافق کمیته های مشترک ایران و افغانستان برای افزایش سطح تجارت، خبرگزاری تسنیم، ۱۴۰۲ - ۱۴:۰۵ لاسرسی
https://www.tasnimnews.com/fa/news/1402/10/17/3019062/%D8%AA%D9[مراجعه: 140۲/۰۹/04 ل.].

۲۵- نشست‌های مقدماتی کمیته‌های مشترک میان افغانستان و ایران به هدف افزایش تجارت برگزار شد، آریانا نیوز، جدی ۱۷،
۱۴۰۲ https://www.ariananews.af/fa/%d9%86%d8/[مراجعه:
۱٤۰۲/۰۹/۰۵ ل].

26-Exploring Iran-Afghanistan Trade Dynamics: A Year in Review, BNN, July 22, 2023, available at
https://bnnbreaking.com/analysis/exploring-iran-afghanistan-trade-dynamics-a-year-in-review/ [Accessed: 17, January 2024].

۲۷- د افغانستان صادرات تېرو دریو میاشتو کې ۱۵ سلنه لوړ شوي، پښتو، بي بي سي پښتو ویبپاڼه، ٦ چنګاښ ۱۴۰۰لاسرسی
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-57631293 [مراجعه:
1402/۰۹/16 ل].

28- Exploring Iran-Afghanistan Trade Dynamics: A Year in Review - BNN Breaking,BNN, July 22, 2023, available at https://bnnbreaking.com/analysis/exploring-iran-afghanistan-trade-dynamics-a-year-in-review/[Accessed:01, January 2024].

29- Exploring Iran-Afghanistan Trade Dynamics: A Year in Review - BNN Breaking,BNN, July 22, 2023, available at https://bnnbreaking.com/analysis/exploring-iran-afghanistan-trade-dynamics-a-year-in-review/[Accessed:01, January 2024].

30-Prospects of economic relations between Iran and Afghanistan, Strategic Council on Foreign Relations, 2021/09/14, available at https://www.scfr.ir/en/economy/136151/prospects-of-economic-relations-between-iran-and-afghanistan/
[Accessed:01, December 2023].

31-Afghanistan – Iran BIT (2006)

32- investor-state dispute settlement (ISDS).

33-Tobin, Jennifer L.; Busch, Marc L. (2010). "A BIT is Better Than a Lot: Bilateral Investment Treaties and Preferential Trade Agreements". World Politics. 1–42

. doi:10.1017/S0043887109990190. S2CID 12007652.

۳۴- عبدالمجید حاجي زوی. د سوداګرۍ بین المللي حقوق، کابل پوهنتون، ۱۴۰۱ لمریز کال، ۱۲۷- ۱۲۸ مخونه

۳۵- هماغه سرچینه

۳٦- ایرج افشار سیستاني. چابهار و دریای فارس، لومړی چاپ، انتشارات صدیقي: تهران، ۱۳۷۲ل، ٦۸ مخ.

۳۷-عبدالله حلیم. موافقت نامه ای تجارتی و ترانزیتی اپتا، چالش ها و راه حل ها، د هشت صبح ورځپاڼې سایټ، ۲۷/ 11/ ۱۳۹۷، لاسرسی: https://8am.af/opts-business-transactional-agreement-challenges-and-solutions/، [مراجعه: ۱402/۰۹/۲۳ ل.].

۳۸- تفاهمنامه های مهم گمرکی میان افغانستان و ایران، وزارت مالیه افغانستان، ۱۴۰۲/۰۴/۰۲ لاسرسی:

https://mof.gov.af/dr/%D8%AA%D9%81%D8 [مراجعه: ۱۴۰۲/۰۹/۲۵ ل].

۳۹- هماغه سرچینه

۴۰- هماغه سرچینه

۴۱- هماغه سرچینه

۴۲- قرار داد ها و تفاهمنامه های مالی، وزارت مالیه، لاسرسی:

https://mof.gov.af/dr/%D9%82%D8%B1% [مراجعه: 140۲/۰۹/30 ل.].

۴۳- گسترش همکاری‌های ترانزیتی بین ایران، افغانستان و ازبکستان – ایسنا، ۱۳/شهریور/۱۳۹۹، لاسرسی

https://www.isna.ir/news/99061309401/%DA%AF%l [مراجعه: 1402/10/۰2 ل.].

44-Agreements, Ministry of Industry and Commerce of Afghanistan, available at https://moci.gov.af/en/agreements [Accessed: 15, December 2023].

45-Memorandum of Understanding on the Trilateral Joint Commission of the Islamic Republic of Iran, the Transitional Islamic State of Afghanistan, and the Republic of India.

46- Memorandum of Understanding Trilateral Meeting on the Development and Construction of Transit and Transport Infrastructures in Chabahar-Milak-Zaranj-Delaram route Between the Islamic Republic of Iran, Government of India and the Transitional Islamic State of Afghanistan.

۴۷- زین الله محبوبي، افغانستان و ایران ٦٨ تفاهمنامه اقتصادی و تجاری را امضا کردند ، پژواک خبري اژانس،۱۹/ عقرب/۱۴۰۲ لاسرسی: https://pajhwok.com/fa/2023/11/10/mullah-baradar-afghanistan-and-iran-signed-dozens-of-economic-and-trade-agreements/[مراجعه: 1402/10/05 ل.].

48- Prospects of economic relations between Iran and Afghanistan, Strategic Council on Foreign Relations, 2021/09/14, available at https://www.scfr.ir/en/economy/136151/prospects-of-economic-relations-between-iran-and-afghanistan/ [Accessed:01, December 2023].

۴۹- عبدالشکور سالنگي، نگاهي به روابط اقتصادي امارت اسلامی با ایران، تحلیل هفته، مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوي، ۱۰ قوس، ۱۴۰۲، شماره ۴۲۱.
۵۰- عبدالشکور سالنگي، نگاهي به روابط اقتصادي امارت اسلامی با ایران، تحلیل هفته، مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوي، ۱۰ قوس، ۱۴۰۲، شماره ۴۲۱.
۵۱- هماغه سرچینه
۵۲- سفر هیئت ایرانی به کابل برای بررسی فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان، شفقنا افغانستان، لاسرسی af.shafaqna.com/FA/581076 [مراجعه:۱۴۰۲/۰۹/۱۹ ل.].

څېړندوی رحمت الله همت مظلوم یار

# پر مرکزي آسيا د روسيې او اوکراين جګړې سياسي او امنيتي اغېزې

# The Russia- Ukraine war and its political and security impacts On Central Asian Countries

**Asst. prof. Rahmatullah Hemat Mazlumyar**

## Abstract

Russia’s military attack on Ukraine and the ongoing war have political, economic, and security Repercussions on Central Asian Countries. With the prolongation of this war, the Territorial integrity of the Central Asia countries will have been threatened by Russia if these countries want to oppose the policies of Moscow, also arose problems to the multilateral foreign policy of Central Asian countries. The role of Russia in Central Asia was limited on the other hand the influence of the USA, China, and Turkey increased.

Russia has an important role in consolidating the security of Central Asia. However, if these countries distance themselves from Russia and move closer to the West, Russia might threaten the security of the region, because Russia has military bases in Tajikistan, Kyrgyzstan, and Kazakhstan, on the other hand, the Russian diaspora lives in Central Asian countries. During the Russia-Ukraine war, the role of the Collective Security Treaty Organization has also become weak. Central Asian countries striving manage the balance of relations with both Russia and the West, aiming to satisfy both, but this is proving to be a challenging task.

**لنډیز**

پر اوکراین د روسیې نظامي برید او جګړه د مرکزي آسیا پر هېوادونو سیاسي، اقتصادي او امنیتي اغېزې لري. د دې جګړې اوږدیدو سره د مرکزي آسیا هېوادونو ارضي تمامیت له ګواښ سره مخ شو او د څو اړخیزه بهرني سیاست پر وړاندې یې ستونزې رامنځته شوې او په مرکزي آسیا کې د روسیې رول کمرنګه خو د امریکا، چین او ترکیې نفوذ زیاتیدلو ته زمینه برابره شوه.

د مرکزي آسیا د امنیت په ټینګښت کې روسیه مهم رول لري، که چیرې د مرکزي آسیا هېوادونه له روسیې واټن واخلي او غرب ته نږدې شي، روسیه کولای شي د سیمې امنیت له ګواښ سره مخ کړي، ځکه له یوه لورې په تاجکستان، قرغزستان او قزاقستان کې روسیه نظامي اډې لري او له بل لورې روسي دیاسپورا د مرکزي آسیا په هېوادونو کې استوګن دی. د روسیې او اوکراین جګړې په اوږدو کې د ټولیز امنیت تړون سازمان رول هم کمزوری شوی او لامل یې د مرکزي آسیا هېوادونو په ځانګړې توګه د تاجکستان او قرغزستان ترمنځ د سرحدي پولې پر سر د جګړو مخنیوي کې د دغه سازمان کمزوري دریځ دی. د مرکزي آسیا هېوادونه هڅه کوي له روسیې او غرب سره خپلې اړیکې په سمه توګه مدیریت کړي ورته مهال هڅه کوي مسکو او غرب دواړه راضي وساتي خو د دواړو لوریو همهاله راضي ساتل ستونزمن دي.

**سریزه**

اوکراین د ۱۹۹۱زکال خپلواکی وروسته هڅه کوي له مسکو واټن واخلي او غرب ته نږدې شي او په اروپایي ټولنه او ناټو سازمان کې غړیتوب واخلي، خو روسیه د اوکراین دغه پالیسی سره مخالف دی. په ۲۰۱۴زکال روسیې د کریمیه سیمه له اوکراین څخه جلا او خپلې خاورې سره الحاق کړه. روسیه غواړي چې اوکراین بې

پرې او غیر نظامي پاتې شي او د ناټو غړو هېوادونو لخوا د اوکراین په قلمرو کې وسلې او توغوندي ځای پر ځای نه شي. اوکراین په ورته وخت کې د روسیې او غرب دواړو لپاره اهمیت لري. د هالفورد مکیندر نظریې له مخې که چا د نړۍ پر زړه یا هارټلند باندې حاکمیت درلود، نو پر ټوله نړۍ به واکمن وي، د شرقي اروپا یوه برخه چې اوکراین هم په کې شامل دی، د مکیندر د هارټلند نظریه کې شامله ده. که اوکراین په ناټو سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړي، دا د روسیې ملي امنیت ته د ګواښ په معنی دی، ځکه چې له مخې به یې د ناټو ځواکونه او توغوندي به د روسیې سرحدي پولو ته څېرمه په اوکراین کې ځای پرځای شي. اوکراین د روسیې لپاره د جیوپولیټیک او جیوستراتیژیک اهمیت سربېره تاریخي او مذهبي اهمیت هم لري. له تاریخي اړخه روسان د اوکراین پلازمېنې کیف ته د خپل اصلي ټاټوبي په سترګه ګوري او د روسانو لومړۍ پلازمېنه وه او د ارتودوکس کلیسا په کیف کې د روسانو لپاره مهم مذهبي ځای و.

دا چې اوکراین غوښتل له ناټو سازمان سره یوځای شي او له روسیې واټن واخلي، نو د ۲۰۲۲زکال فبروري میاشت کې روسیې پر اوکراین نظامي برید وکړ. روسیې غوښتل د لوهانسک او دونتسک ښارونه چې د دونباس سیمې په نوم شهرت لري، په څو اونیو کې ونیسي او له روسیې سره یې الحاق کړي، خو جګړه اوږده شوه او له اوکراین څخه غرب ملاتړ وکړ، مالي او نظامي تجهیزاتو مرستې ورسره کوي او پر روسیه یې بندیزونه ولګول. د روسیې او اوکراین جګړه پر نړیوال نظم او اقتصادي وضعیت مهمې اغېزې لري، همدارنګه د روسیې پر نږدې ګاونډیو په ځانګړې توګه د مرکزي آسیا پر هېوادونو مهمې اغېزې لري. په دې مقاله کې د مرکزي آسیا پر هېوادونو د روسیې او اکراین  جګړې سیاسي او امنیتي اغېزې څېړل شوې دي.

## د څېړنې هدف او مبرمیت

د دې مقالې پر مرکزي آسیا د روسیې او اوکراین جګړې سیاسي او امنیتي اغېزو څېړل دي. پر اوکراین د روسیې برید پر نړیوال نظم همدارنګه د مرکزي آسیا پر هېوادونو چې له روسیې سره نږدې اړیکې لري، په مختلفو برخو کې له دې جګړې څخه اغېزمن شوي. افغانستان هم د مرکزي آسیا هېوادونو سره ګډې پولې لري او اقتصادي اړیکې ورسره پالي، د دې جګړې له اغېزو لېرې پاتې کیدلای نه شي، نو اړینه ده چې پر مرکزي آسیا د روسیې او اوکراین جګړې اغېزې وڅېړل شي.

## د څېړنې پوښتنه

د روسیې او اوکراین جګړه د مرکزي آسیا پر هېوادونو کومې سیاسي او امنیتي اغېزې لري؟

## فرضیه

د مرکزي آسیا پر هېوادونو باندې د روسیې او اوکراین جګړې مهمې اغیزې لري چې ځینې یې مثبتې او ځینې یې منفې اړخونه لري.

## څېړنې میتود

د دې مقالې په لیکلو کې له تشریحي ـ تحلیلي میتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

**الف: د مرکزي آسیا پر هېوادونو د روسیې او اوکراین جګړې سیاسي اغېزې**

په سیاسي برخه کې د روسیې او اوکراین جګړې پر مرکزي آسیا هېوادونو مهم اغېزې لري. چې د جګړې په اوږدیدو سره د مرکزي آسیا هېوادونو ارضي تمامیت له ګواښ سره مخ شوه او د بهرني څو اړخیزه سیاست پر وړاندې يې ستونزې ایجاد شوې او د مرکزي آسیا کورنۍ ستونزو کې د روسیې منځګړیتوب او نقش کمرنګه همدارنګه په مرکزي آسیا کې د امریکا، چین او ترکیې نفوذ زیاتیدلو ته زمینه برابره شوه. په دې برخه کې د دې جګړې سیاسي اغېزو باندې بحث شوی دی.

**۱- د مرکزي آسیا هېوادونو حاکمیت، ارضي تمامیت او خپلواکۍ پر وړاندې ګواښونه**

د روسیې او اوکراین جګړې اوږدیدو سره ممکن د مرکزي آسیا هېوادونو ارضي تمامیت له ګواښ سره مخ شي، د مرکزي آسیا په هېوادونو کې د روسانو لږکي ژوند کوي او له خپل مورنۍ هېواد (روسیې) سره معنوي اړیکې لري او روسیه هم د پوتین دوباره واک ته رسیدو سره یو ځل بیا د شوروي اتحاد جماهیر بیا رامنځته کولو په هڅه کې ده تر څو د ۱۹۹۱زکال دمخه قلمرو باندې دوباره تسلط ولري.

د مرکزي آسیا هېوادونه په ځانګړې توګه د قزاقستان ارضي تمامیت او خپلواکۍ پر وړاندې ګواښ ډېر جدي دی. قزاقستان نږدې ۲۰ میلیونه جمعیت لري چې نږدې ۳،۵ میلیونه روس ټبره او ۲۵۰۰۰۰ اوکرایني ټبره وګړي دي، همدارنګه نږدې یو میلیون قزاقان د روسیې تابعیت لري.[۱] د قزاقستان شمالي سیمو پاولودارسک، سمی‌پالاتینسک، اوست کامانوګورسک، پتروپاولسک ښارونو کې روسان ژوند کوي، د قزاقستان خپلواکۍ اعلان وروسته د قزاقستان په شمال کې ځینو ناسیونالیست ملي پلوه روسانو غوښتل چې د قزاقستان شمالي برخه له روسیې سره الحاق او یوځای شي. قزاقستان ویره لري، چې روسیه به په راتلونکي کې د روس ټبره وګړو حقونو څخه دفاع او ملاتړ په بهانه پر قزاقستان یرغل وکړي او

د قزاقستان شمالي برخې، چې اوسيدونکي يې روس ټبره وګړي دي، له روسيې سره الحاق کړي.

په ۲۰۱۴زکال له روسيې سره د کريمې الحاق او ضميمه کېدو سره قزاقستان په اندېښنه او وېره کې و، چې ممکن روسيه د قزاقستان شمالي سيمې هم چې زيات شمېر روسان په کې ميشت دي، له قزاقستان څخه جلا او د خپلې خاورې سره الحاق کړي، قزاقستان ددې ګواښ له منځه وړلو لپاره ځينې قزاقان له جنوب څخه د هېواد شمالي برخو ته وليږدول.[۲] په قزاقستان کې د جمعيت قومي جوړښت بدلون او د قزاقانو جمعيت زياتوالي په موخه حکومت په ۲۰۱۱زکال د مهاجرت قانون تصويب کړ، چې له مخې يې هغه قزاقان چې په نورو هېوادونو کې ژوند کوي هغوی ته به د قزاقستان تابعيت ورکړل شي او ځانګړي امتيازات (د تابعيت ورکول، د ځمکو او کورونو ورکول) يې ورته ورکول، چې له دې اقدام سره زيات شمېر قزاقان چې په چين کې اوسيدل د قزاقستان تابعيت ترلاسه او د قزاقستان په شمالي سيمو کې ځای پر ځای شول. د قزاقستان دولت د برنامې پر اساس تمه وه چې د ۲۰۱۸-۲۰۲۲زکال پورې ۵۹ زره کورنۍ له جنوبي سيمو څخه شمالي سيمو ته وليږدوي. ددې کار اصلي موخه د قزاقستان په شمال کې د نفوس قومي ترکيب او جوړښت کې بدلون راوستل دي.

هغه مهال چې قزاقستان خپلواکي اعلان کړه د نفوس ۴۰ سلنه جمعيت قزاقان و، خو د دولت له لورې د تشويقي برنامو له امله زيات شمېر قزاق قوم وګړي له نورو هېوادونو څخه قزاقستان ته راغلل او اوسمهال د قزاقستان نفوس۷۰ سلنه جمعيت قزاقان تشکيلوي. له ۱۹۹۱زکال راپديخوا نږدې ۱،۱ ميليون قزاقان له ازبکستان(٪۷۰)، چين(٪۱۰) او ترکمنستان(٪۷) څخه قزاقستان ته راغلي دي او د قزاقستان په ترکستان، ژامبيل او آلماتی ښارونو کې استوګن شوي. روس ټبره وګړي د قزاقستان نفوس ۱۵ـ ۱۸سلنه تشکيلوي، چې د قزاقستان په شمالي برخو کې

استوګن دي.[۳] همدارنګه له افغانستان څخه د ۱۹۹۱زکال راپدیخوا نږدې ۱۳۰۰۰ قزاق وګړي قزاقستان ته تللي دي.[۴]

د اوکراین جګړې وړاندې د قزاقستان ارضي تمامیت په اړه پوتین څرګندونې کړې وې او د ۲۰۱۸زکال په یوه مصاحبه کې ویلي و، چې نظربایف په سیمه کې یو هوښیاره مشر دی، څکه نوموړی بریالی شو، په داسې قلمرو کې دولت رامنځته کړي، چې وړاندې هلته هیڅ دولت شتون نه درلود، چې خپلواکه حاکمیت ولري، همدارنګه پوتین له روسیې سره د قزاقستان ځینو برخو الحاق غوښته کړې وه او ادعا یې کړې وه، چې دغه سیمې د پخواني شوري اتحاد پر مهال قزاقستان ته د هدیې په توګه ورکړل شوې وې.[۵]

د روسیې دوما مجلس مرستیال ویاچسلاو نیکونوف هم د ۲۰۲۰زکال په وروستیو کې ویلي و، چې په ۱۹۱۷زکال د شوروي اتحاد جماهیرو رامنځته کېدو پر مهال قزاقستان د یو واقعي هېواد په توګه موجود نه و، د قزاقستان شمالي برخو کې خلک استوګن نه و. همدارنګه د ۲۰۲۲زکال جنوري په میاشت کې د روسیې کمونیست ګوند ریس ګنادی زیوګانوف وویل، چې د قزاقستان شمال د تاریخې اړخه د روسیې قلمرو دی او د دې سیمې روس تبره وګړو پر وړاندې د قزاقستان ملي تحرکاتو څخه روسیه باید ساتنه وکړي او روسیه همدارنګه په قزاقستان کې د بایکونور فضایي اډې او یورانیم صنعت په خپل لاس کې واخلي.[۶]

د قزاقستان چارواکي له دې اندېښمن دي، چې روسیه ممکن د اوکراین دونباس سیمې په څېر د قزاقستان شمال کې د پتروپاولوفسک سیمې کې ستونزې رامنځته کړي. د ۲۰۲۳زکال مارچ پر ۱۹ نېټه په پتروپاولوفسک ښار کې یو شمېر نارینه او ښځینه سره راټول شول او په یوه خونه کې کنفرانس جوړ کړی و، د پتروپاولوفسک خلق شورا اعلان کړ او یوه اعلامیه یې ورکړه، چې موږ نارینه او ښځینه کارکونکي ددې لارې خپله خپلواکي له قزاقستان څخه اعلان کوو، د پتروپاولوفسک کارکونکو خلق شورا د قزاقستان

په شمالي برخه کې جوړو. ددې شورا رامنځته کېدل ممکن د روسیې یوه طرحه وي، چې جدایي غوښتونکي غوځښتونه رامنځته کړي.[۷]

قزاقستان او اوکراین په سیاسي او ټولنیزو برخو کې زیات ورته والی لري، په دواړو هېوادونو کې زیات شمېر روسان استوګن دي، چې د روسي ناسیونالیست لیډلوري له مخې د روسیې برخه دي او د اوکراین په دونباس او د قزاقستان په شمالي برخو چې په جنوبي سیبریا باندې هم یادېږي ژوند کوي. د قزاقستان مساحت د اوکراین پنځه برابره دی او د روسانو لږکي پکې استوګن دي، چې د قزاقستان ۱۹ میلیونه نفوس نږدې څلورمه برخه جوړوي همدارنګه قزاقستان له روسیې سره اوږده سرحدي پوله لري.[۸]

پر اوکراین د روسیې برید وروسته د ازبکستان ولسمشر شوکت میرضیایف په غیر مستقیم ډول غبرګون وښوده او زیاته یې کړه، چې ازبکستان هڅه کوي اقتصادي پراختیا او دفاعي ځواک لوړ کړي تر څو وکولای شي هر ډول بهرني برید دفع کړي. د یو لوري میرضیایف هڅه کوله د دویم دور جمهوري ټاکنو کې د ټولیز امنیت پیمان سازمان ملاتړ له ځان سره ولري تر څو د محلي اعتراضونو رامنځته کېدو په صورت کې وضع کنټرول کړي او د بل لوري پر اوکراین د روسیې برید سره میرضیایف سره دا اندېښنه هم پیدا شوه، چې پوتین د شوروي اتحاد جماهیرو بیاځلې رامنځته کولو هڅې کوي، چې ممکن تشویقي برنامې ولري یا د زور څخه کار واخلي، چې له دې سره د مرکزي آسیا هېوادونو امنیت او اراضي تمامیت له ګواښ سره مخ کیږي.[۹]

د مرکزي آسیا هېوادونه له خپل ارضي تمامیت څخه دفاع په موخه نظامي تجهیزاتو او الوتکو ته اړتیا لري. د ترکیې بایرکتار بی پیلوټه الوتکې چې په ۲۰۲۰زکال د ناګورنو قرباغ په جګړه کې او له هغه وروسته په اوکراین کې وکارول شوې، د مرکزي آسیا هېوادونو پام ځانته را جلب کړ. ترکمنستان د ترکیې څخه د بایرکتار بی ۲ الوتکې واخیستې او همدارنګه قرغزستان له تاجکستان سره د ګډې پولې کنټرول او امنیت ټینګښت په موخه له ترکیې څخه د بایرکتار الوتکو پېرلو اعلان وکړ. تاجکستان هم د ترکیې څخه د بایرکتار

الوتکې پېرلې دي او د ایران ابابیل بی پیلوټه الوتکو جوړلو کارخانه په تاجکستان کې د ایران لخوا پرانیستل شوه، همدارنګه قزاقستان هم د ترکې له هوانوردې سازمان سره یو تړون لاسلیک کړی دی، چې له مخې به یې په قزاقستان کې د ترکیې آنکا الوتکو کارخانه جوړېږي او الوتکې به تولیدوي. په نظامي برخه کې ترکیې له قزاقستان سره هم تړون لاسلیک کړ تر څو نظامي محرمانه اطلاعات ورسره تبادله کړي، همدارنګه ترکیې له ازبکستان سره د ازبک نظامیانو روزلو او وسلو ورکولو برخه کې تړون لاسلیک کړ.[۱۰]

## ۲- د مرکزي آسیا هېوادونو د بهرني څو اړخیزه سیاست پر وړاندې ستونزې رامنځته کېدل

د مرکزي آسیا هېوادونه د تاریخي اړخه د روسیې د نفوذ سیمه ده او د نږدې خارج کلمه ورته کاروي او د روسیې لپاره زیات اهمیت لري. د بل لوري د مرکزي آسیا هېوادونه د خپلواکی اعلان وروسته هڅه کوي د څو اړخیزه بهرني سیاست له مخې د روسیې، امریکا، چین او غرب سره په خپلو بهرنیو اړیکو کې بیلانس وساتي او یو لوري ته تکیه ونه کړي. د ۲۰۲۲زکال فبروري میاشتې ۲۴ نېټې وروسته چې روسیې پر اوکراین نظامي برید وکړ، د مرکزي آسیا هېوادونو لپاره د څو اړخیزه بهرنی سیاست پلې کېدل ستونزمن شوي دي او نشي کولای دواړه لوري همهاله راضي وساتي او هر لورې ته د نږدې کېدو سره د بل لورې لخوا له ګواښونو سره مخامخ کېدلای شي. په دې برخه کې د مرکزي آسیا هېوادونو څو اړخیزه بهرني سیاست پر وړاندې ستونزو او د روسیې او اوکراین جګړې هکله دریځونو باندې بحث شوی دی.

### ۲-۱: پر اوکراین د روسیې د برید په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو دریځ

د ۲۰۲۲زکال فبروري میاشت کې پر اوکراین د روسیې برید سره د مرکزی آسیا او روسیې ترمنځ اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې، د مرکزي آسیا هېوادونو پر اوکراین د روسیې له نظامي برید څخه یې ملاتړ ونه کړ. قزاقستان او ازبکستان په ښکاره توګه د اوکراین له ارضي تمامیت څخه ملاتړ وکړ او بشردوستانه مرستې یې

اوکراین ته واستولې. د مرکزي آسیا هېوادونه هڅه کوي له روسیې او غرب سره اړیکو کې توازن وساتي، ځکه د مرکزي آسیا امنیتي ثبات کې روسیه مهم رول لري.

په قزاقستان کې د ۲۰۲۲زکال جنوري میاشتو خونړیو لاریونو وروسته چې د ټولیز امنیت پیمان سازمان په مرسته کنټرول شول او د قاسم جومارت توکایف حکومت یې له نسکورلو څخه وژغوره، له هغه وروسته داسې وړاندوینه کېده، چې ګواکې توکایف به پر اوکراین د روسیې له برید څخه ملاتړ کوي، خو برعکس توکایف بی طرفي اعلان کړه او له روسي ځواکونو سره د قزاقستان ځواکونو یوځای کېدل او په اوکراین پر وړاندې د جګړې کول یې رد کړل. د قزاقستان د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۲۲زکال د سپتامبر ۲۶ نېټه اعلان وکړ، چې له روسیې سره د اوکراین څلورو سیمو (لوهانسک، دونتسک، خرسون او زاپوریژیا) د یوځای کېدو په اړه ټولپوښتنه په رسمیت نه پیژني او دغه ټولپوښتنه یې د دولتونو ارضي تمامیت اصل نقض کونکې بللي. «د قزاقستان ولسمشر قاسم ژومارت توکایف د ۲۰۲۲زکال په جون میاشت کې د روسیې په سن پترزبورګ ښار کې د نړیوال اقتصاد کلنۍ غونډې پر مهال هم ویلي و، چې د روسیې پر وړاندې د غرب له لورې بندیزونه مراعت کوي او همدارنګه د اوکراین څخه د لوهانسک او دونتسک جلا شویو سیمي په رسمیت نه پیژني.» [11]قزاقستان په روسیه کې داسې ښکاره ډول مخالفت له روسیې سره تراوسه څرګند کړی نه و.

قزاقستان چې له روسیې ګډه پوله لري او د قزاقستان شمالي برخه کې ۳،۵ میلیونه روس تبره وګړي استوګن دي، د قزاقستان ولسمشر د روسیې او اوکراین ولسمشرانو سره ټلیفوني اړیکې ونیولې او همدارنګه د دونتسک او لوهانسک په رسمیت پېژندلو څخه یې ډډه وکړه، چې ددې کار له امله د روسیې لخوا د CPC (Caspian Pipeline Consortium) نللیکې له لارې د قزاقستان تیلو لیږد بهیر قطع شو.[12]

ازبکستان د روسیې او اکراین ترمنځ د جګړې پای ته رسیدو لپاره پر ډیپلوماتیک حل لارې باندې ټینګار وکړ او اوکراین ته یې بشردوستانه مرستې او طبي تجهیزات ولیږل او همدارنګه په روسیه کې میشت ازبک وګړو ته یې ګواښ ورکړ، چې د روسیې په پوځ کې د خدمت ترسره کولو په جرم به تر ۵ کلونو بند محکوم شي او همدارنګه له اوکراین څخه جلا شوې سیمې په رسمیت نه پیژني او د اوکراین ارضي تمامیت باندې یې ټینګار وکړ.

قرغزستان د روسیې له برید څخه ښکاره ملاتړ نه دی کړی، خو په بیشکک ښار کې د روسیې جنګ پر ضد لاریونونه یې منع کړل او اعلان یې وکړ، چې هغه کسان چې لاریون کوي جریمه به شي، خو سربېره پر دې هم د مدني ټولنو کسانو لاریونونه وکړل، خو وروسته د قرغزستان بهرنیو چارو وزیر د ارضي تمامیت اصل باندې ټینګار وکړ او په اوکراین کې د بشردوستانه پایداره کوریډور جوړولو غوښتونکی شو .قرغزستان هڅه کوي د اوکراین پر وړاندې د خپل سیاست له امله د مسکو غوسه ونه پاروي، ځکه د قرغزستان دولت په کلي ډول د روسیې سیاست په مسیر کې قرار لري. روسیه د قرغزستان سوداګریز شریک دی، خو د اوکراین څخه جلا شویو سیمو خپلواکي او له روسیې سره الحاق یې په رسمیت و نه پیژاندله.

تاجکستان په اقتصادي برخه کې روسیې پورې تړلی دی، تاجکستان نفتي محصولات، لرګي او فلزات له روسیې پېري او د بندیزونو په صورت کې له روسیې څخه تاجکستان ته پر صادراتو منفي اغېز لري. د غرب د بندیزونو له امله په روسیه کې تاجک مهاجر کارکونکي بی روزګاره شوي او خپلې دندې یې له لاسه ورکړې دي او بیرته خپل هېواد ته راځي. تاجکستان پر اوکراین د روسیې له نظامي برید ملاتړ ونه کړ ځکه د نړیوالې انزوا سره مخامخ کېده او له روسیې سره د اوکراین څلورو سیمو (دونتسک، لوهانسک، خرسون او ژاپوریژیا) الحاق په رسمیت ونه پیژانده.[۱۳]

ترکمنستان چې بې طرفه بهرنۍ سیاست لري او همدارنگه له روسیې سره امنیتي اړیکې لري او په ۲۰۲۰زکال د دواړو هېوادونو ترمنځ د مشترکې امنیتي همکاري هوکړه لاسلیک شوه، ددې هوکړې له مخې له ترهگرۍ، سازمان شویو جرمونو، نشه یي توکو قاچاق او پولشویي سره مبارزې او د امنیت په نورو برخو کې ترکمنستان او روسیه یو بل سره همکاري کوي، خو سربېره پر دې چې ترکمنستان بې طرفي اختیار کړې ده، د ترکمنستان بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ، چې اوکراین ته به بشري مرستې ولیږي.[۱۴]

روسیې د جگړې په پیل کې هڅې وکړې تر څو د اوکراین څخه جلا شوي سیمې پر خپلو متحدینو او شریکانو باندې د فشار پر راوړلو سره په رسمیت وپېژني، خو دغه هڅو پایله ورنکړه د مرکزي آسیا هېوادونو د ابخازیا او جنوبي اوستیا په شان د اوکراین څخه جلا شوې سیمې په رسمیت ونه پېژندلې.

**۲-۲: د روسیې پر ضد د ملگرو ملتونو قطعنامو په اړه د مرکزي آسیا هېوادونو دریځ**

د ۲۰۲۲زکال مارچ ۲ نېټې قطعنامه کې له روسیې غوښتل شوي دي، چې په اوکراین کې نظامي عملیات فوري ډول پای ته ورسوي او د اوکراین پر حاکمیت، خپلواکۍ او ارضي تمامیت ټینگار شوی دی. په دې قطعنامه کې ۱۴۱ هېوادونو موافقه رایه، ۵ هېوادونو مخالفه رایه، ۳۵ هېوادونو ممتنع رایه ورکړه او ۱۲ هېوادونه غیر حاضر و. د مرکزي آسیا دریو هېوادونو تاجکستان، قزاقستان او قرغزستان ممتنع رایه ورکړه، ترکمنستان او ازبکستان غیر حاضر و.[۱۵]

د ۲۰۲۲زکال مارچ ۲۴ نېټې د ملگرو ملتونو عمومي مجمع قطعنامه کې د اوکراین له خاورې څخه د روسیې ځواکونو وتلو غوښتنه کړې وه او د روسیې له لورې پر غیر نظامي وگړو او په عامه المنفعه بنسټیزو جوړښتونو بریدونه غندلي

و. په دې قطعنامه کې ۱۴۰ هېوادونو موافقه رایه، ۵ هېوادونو مخالفه رایه، ۳۸ هېوادونو ممتنع رایه ورکړه او ۱۰ هېوادونه غیر حاضر و. د مرکزي آسیا څلورو هېوادونو تاجکستان، قزاقستان، ازبکستان او قرغزستان ممتنع رایه ورکړه، ترکمنستان غیر حاضر و.[۱۶]

د ۲۰۲۲زکال اپریل ۷ نېټې قطعنامه کې د ملګرو ملتونو بشر حقونو شورا څخه د روسیې غړیتوب وځنډولو شو او ۹۳هېوادونو موافقه رایه، ۲۴ هېوادونو مخالفه رایه، ۵۸ هېوادونو ممتنع رایه ورکړه او ۱۸هېوادونه غیر حاضر و. د مرکزي آسیا څلورو هېوادونو تاجکستان، قزاقستان، ازبکستان او قرغزستان مخالفه رایه ورکړه، ترکمنستان غیر حاضر و.[۱۷]

د لوهانسک، دونتسک، خرسون او ژاپوریژیا سیمو کې له ټولپوښتنې وروسته دغه څلور سیمې له روسیې سره الحاق شوې د ملګرو ملتونو سازمان عمومي مجمع د ۲۰۲۲زکال اکتوبر ۱۲ نېټې قطعنامې له مخې دغه ټولپوښتنه په رسمیت ونه پېژندل شوه او له روسیې څخه یې وغوښتل له اوکراین څخه خپل نظامیان وباسي. په دې قطعنامه کې ۱۴۳ هېوادونو موافقه رایه، ۵ هېوادونو مخالفه رایه، ۳۵هېوادونو ممتنع رایه ورکړه او ۱۰ هېوادونه غیر حاضر و. د مرکزي آسیا څلورو هېوادونو تاجکستان، قزاقستان، ازبکستان او قرغزستان ممتنع رایه ورکړه، ترکمنستان غیر حاضر و.[۱۸]

د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي مجمع فوق العاده غونډه کې د روسیې او اوکراین جګړې یو کال پوره کېدو سره سم د ۲۰۲۳زکال فبروري پر ۲۳ نېټه د ملګرو ملتونو سازمان پر اوکراین د روسیې نظامي برید غندلو لپاره قطعنامه تصویب کړه، چې ۱۴۱ هېوادونو له قطعنامې ملاتړ وکړ او ۳۲ هېوادونو ممتنع رایه او ۷ هېوادونو منفي رایه ورکړه. د مرکزي آسیا څلورو هېوادونو(ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان او قرغزستان)، چین، هند او ایران له ۳۲ هېوادونو له ډلې څخه و، چې ممتنع رایه یې ورکړه، ترکمنستان خپله رایه ونه کاروله همدارنګه روسیې، بلاروس، شمالي کوریا، سوریې، نیکاراګوا، مالي او اریتره

قطعنامې ته منفي رایه ورکړه. دغه قطعنامه که څه هم الزام لرونکې نه دی خو د روسیې لپاره یې مهم پیغام درلود.[۱۹]

## ۲-۳: د روسیې د بریا ورځې لمانځغونډه کې د مرکزي آسیا هېوادونو مشرانو ګډون

د روسیې او اوکراین جګړې له یو کال او څو میاشتو تیرېدو وروسته د ۲۰۲۳زکال د مې پر ۹ نېټه په روسیه کې د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال پر نازي المان د روسیې د بري ورځ لمانځغونډه جوړه شوه، چې په پیل کې یوازې د قرغزستان ولسمشر صدیر جباروف ته بلنه ورکړل شوې وه، خو د رسمي رژې پر مهال د مرکزي آسیا څلورو نورو هېوادونو ولسمشران، د ارمنستان لومړی وزیر نیکول پاشنیان او د بلاروس ولسمشر الکساندر لوکاشنکو هم ګډون کړی و. د مرکزي آسیا مشرانو خپل امنیت او اعتبار له ګواښ سره مخامخ کړي و. د مرکزي آسیا ولسمشرانو په ابتدا کې نه غوښتل چې د روسیې بریا ورځې په مراسمو کې ګډون وکړي او ددې لمانځغونډې دوه اونی وړاندې قاسم جومارت توکایف اعلان وکړ، چې د مې پر ۹ نېټه د نړیوال دویم جنګ پرمهال د مړه شویو کسانو په یاد په آستانې ښار کې غونډه نیسي. د مرکزي آسیا ولسمشرانو ته د پوتین لخوا د مې پر ۷ نېټه د ټلیفوني اړیکې له لارې ځانګړې بلنه ورکړل شوې وه. د مرکزي آسیا هېوادونه څو اړخیزه بهرنۍ سیاست لري او د غرب او روسیې سره اړیکې پالي، پر اوکراین د روسیې برید وروسته د مرکزي آسیا هېوادونو لپاره د غرب او روسیې دواړو همهاله خوشاله ساتل ستونزمن دي.[۲۰]

په روسیه کې پر نازي المان د روسیې بري ورځې لمانځلو وروسته په روسیه کې د سن پټرزبورګ کلنۍ اقتصادي ناسته جوړه شوه او د قزاقستان ولسمشر قاسم ژومارت توکایف اعلان وکړ، چې د ۲۰۲۳زکال په جون میاشت د روسیې سن پټرزبورګ کلنۍ

اقتصادي ناسته کې ګډون نه کوي. پر اوکراین د روسیې برید وړاندې په دې ناسته کې به نړۍ مشرانو او لویو سوداګریزو شرکتونو استازو به ګډون کاوه خو د روسیې او اوکراین جګړې وروسته دغه ناسته کمرنګه شوې حتی د روسیې نږدې متحد قزاقستان ولسمشر هم له ګډون څخه ډډه وکړه او له قزاقستان څخه د لومړي وزیر مرستیال رومن اسکلیار او د اقتصاد وزیر تیمور ژاکسیلیکوف ګډون وکړ. د سن پترزبورګ ښار اقتصادي ناسته د ۱۹۹۷زکال راپدیخوا هر کال په سوئیس کې د داووس ناستې په غبرګون کې جوړیږي.[۲۱]

**۳- مرکزي آسیا ته په جګړه کې د نه ګډون کونکو روسانو تېښته**

د روسیې او اوکراین جګړې بله مهم اغېزه مرکزي آسیا هېوادونو ته د هغه روسانو تېښته ده، چې د جګړې مخالف و او نه یې غوښتل چې په عمومي بسیج کې د اوکراین پر وړاندې جګړه وکړي. د روسیې او اوکراین جګړې اوږدیدو او تلفاتو زیاتیدو سره د روسیې ولسمشر پوتین لخوا فرمان ورکړل شو، تر څو د جګړې لپاره ذخیره ۳۰۰ زره نوي سربازان جذب کړي، چې له فرمان وروسته په زرګونو کسان له روسیې څخه قزاقستان، قرغزستان او ازبکستان ته وتښتیدل تر څو په جنګ کې ګډون ونه کړي. له روسیې زیات شمېر راتښتیدونکې کسان د قزاقستان اورال ښار کې په پارکونو او د سینما په سالون کې راغونډ شوي و. قزاقستان ته روسانو زیات شمېر کسانو راتګ سره د کورونو کرایې لوړې شوې. د اوکراین جګړې لپاره د نور ځواکونو بسیج او لېږلو په اړه د ۲۰۲۲زکال سپتمبر پر ۲۲ نېټه د پوتین فرمان وروسته زیات شمېر روسان ګرجستان او فنلند ته هم وتښتیدل تر څو په جګړه کې ګډون ونه کړي.[۲۲]

د ۲۰۲۲زکال په پای کې د قزاقستان کار او ټولنیز ملاتړ وزیر تامارا دویسنووا د خبرو له مخې ۴۰۰۰۰۰ روسان قزاقستان ته راتښتیدلي و. په لومړۍ کې قزاقي چارواکي د راتښتیدلو کسانو راتګ پر وړاندې مثبت لیدلوری درلود او ټینګار یې کاوه، چې هغه کسان کې په خپل هېواد کې له ستونزو سره مخ دي، لوستي او مسلکي کسان وي نو د قزاقستان په اقتصادي پراختیا کې مرسته کولای شي، خو ددې کسانو راتګ قزاقستان ته

د توکو قیمتونو د کورونو د کرایو لوړېدو لامل شو.[۲۳] د یادونې وړ دی، چې د ترکمنستان پرته د مرکزي آسیا نور هېوادونو ته روسي اتباع کولای شي پرته له ویزې څخه سفر وکړي.

**۴- د مرکزي آسیا هېوادونو ته د غرب ثانویه بندیزونو ګواښ**

د روسیې او اوکراین جګړې اوږدیدو سره غربي هېوادونو پر روسیې سیاسي او اقتصادي بندیزونه ولګول او د روسیې د نفتو او ګازو پیرل د اروپایي ټولنې لخوا تحریم شول همدارنګه که چیرې نور هېوادونه له روسیې څخه نفت اخلي نو د هغو لپاره یې د قیمت سقف وټاکلو تر څو د هغه نرخ څخه په لوړه بیه له روسیې څخه تیل و نه پیري. «پر روسیې د غرب او امریکا بندیزونو وضع کېدو سره د خزر نللیکې له لارې نفتو لیږدول هم تحریم شول، د خزر نللیکه چې د روسیې له جنوب څخه غځېدلې اود توري بحیرې پر لور د نووروسیسک بندر پورې اوږدوالی لري، قزاقستان خپل نفت د همدې نللیکې له لارې اروپا ته صادرول، خو وروسته د امریکا مالیې وزارت له لورې قزاقستان مستثنی وګڼل شو او د نفتو صادرولو اجازه ورکړل شوه.»[۲۴] همدارنګه د غرب او امریکا له لورې پر هغه ثالث هېوادونو د ثانویه بندیزونو لګولو ګواښ وشو، چې له روسیې سره مرسته کوي تر څو د غرب له بندیزونو څخه تېښته وکړي او بندیزونه بې اغېزې کړي.

د ثانویه بندیزونو په اړه د اروپایي شورا ریس شارل میشل په یو مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې اروپایي ټولنه ژمنه کوي، چې د غرب بندیزونو څخه خلاصون په موخه له روسیې سره د مرکزی آسیا هېوادونو مرستې په صورت کې د مرکزی اسیا پر هېوادونو باندې بندیزونه به اعمال نه کړي او هیله لري، چې په ډیپلوماتیک ډول به د مرکزي آسیا هېوادونو ته قناعت ورکړي تر څو له روسیې څخه ملاتړ ونه کړي. مخکې له دې ځینې رسنیو راپور ورکړی و، چې اروپایي ټولنې وړاندیز کړی دی، چې پر هغه ثالث هېوادونو او شرکتونو په ځانګړي توګه چین او

مرکزي آسیا باندې به بندیزونه وضع کړي، چې روسیې ته ځینې تجهیزات او قعطات صادروي.[۲۵] د غرب له لورې پر روسیې د بندیزونو وضع کېدو موخه د روسیې د پوځ د تجهیز او مالي تامین مخنیوی دی. د ځینو راپورونو له مخې له قزاقستان څخه نظامي قطعات روسیې ته صادرېږي. همدارنګه په ۲۰۲۲ز کال قزاقستان ته له اروپا څخه د بې پیلوټه او میکرو الکترنیک الوتکو واردات زیات شوي دي او دغه وارداتي اقلام له قزاقستان څخه بیا روسیې ته صادرېږي.[۲۶] د بریټانیا پارلمان ځینو غړو له روسیې سره د اوکراین پر برید کې د قزاقستان همکارۍ له امله پر قزاقستان د بندیزونو لګولو وړاندیز وکړ، چې د قزاقستان له لورې سخت غبرګون سره مخامخ شول.

همدارنګه د روسیې او اوکراین جګړې وروسته زیات شمېر روسان د مرکزي آسیا هېوادونو په ځانګړې توګه قزاقستان ته ولاړل او هلته یې د غرب بندیزو څخه خلاصون لپاره بانکي حسابونه پرانستل.[۲۷] په ۲۰۲۲ز کال نږدې ۵۰۰۰۰۰ بانکي حسابونه په قزاقستان کې د روسانو لخوا پرانستل شوي دي، تر څو د غرب له بندیزونو څخه په امن کې وي او په آسانۍ سره وکولای شي بانکي خدماتو ګټه واخلي. بل لورې قزاقستان د غرب له ثانویه بندیزونو څخه اندېښنه کې دی او په نمایشي توګه ځینې قوانین یې د روسي مشتریانو لپاره وضع کړي. د روسیې رسنیو د راپور له مخې د Tinkoff بانک ژمن دی، چې خپلو مشتریانو ته د قزاقستان Freedom Bank له لارې MasterCard ورکړي تر څو له نورو هېوادونو څخه حوالې ترلاسه کړي، له دې خبر سره سم د قزاقستان Freedom Bank دغه خبره رد کړه، چې بهرنیو وګړو ته ماستر کارت ورکوي.[۲۸]

پر روسیې د غرب له لورې دبندیزونو ۱۱ بستې په ترځ کې په ازبکستان کې مستقر دوه هغه شرکتونه چې د مسکو له نظامي عملیاتو پر ملاتړ باندې تورن دي هم بندیزونه ولګیدل. امریکا او غرب هغه سوداګریز توکي چې روسیه ترې په نظامي او فني برخو کې ترې ګټه اخلي او د اوکراین جګړه باندې اغېز لري، منع کړي دي. ازبکستان پر روسیه د غرب بندیزونو بې اغېزې کولو لپاره روسیې ته د دې ډول توکو پر صادراتو تورن دی.

## ۵- په مرکزي آسیا کې د روسیې رول کمرنګه کېدل

روسیه د مرکزي آسیا په کورنیو چارو کې مهم رول لري او همېشه یې د مرکزي آسیا هېوادونو ترمنځ د اختلافاتو او ستونزو رامنځته کېدو په صورت کې منځګړیتوب کړی خو له اوکراین سره د جګړې پیل راپدیخوا په مرکزي آسیا کې د روسیې نقش کمرنګه شوی دی. د مرکزي آسیا هېوادونو ترمنځ سرحدې پولو او د اوبو زېرمو پر سر اختلافات شتون لري، چې وخت ناوخت یې ترمنځ شخړې کیږي. د تاجکستان او ازبکستان ځینې سیمې د قرغزستان قلمرو په داخل کې موقعیت لري او همدارنګه د سرحدي پولو ته څېرمه سیمو پر سر اختلاف لري، چې دغه اختلافونه او شخړې د روسیې په منځګړیتوب به پای ته رسیدې.

د تاجکستان او قرغزستان ترمنځ د ۲۰۲۲زکال سپتمبر میاشت کې د ګډې سرحدې پولې پر سر جګړې له امله نږدې ۱۰۰ تنه ووژل شول.[۲۹] دا چې روسیه له اوکراین سره په جګړه کې بوخت ده د تاجکستان او قرغزستان ترمنځ د سرحدي پولو پر سر د خونړۍ شخړې پر مهال روسیې یوازې د سوله ییزو لارو د ستونزې حل کولو باندې بسنه وکړه.

## ٦- په مرکزی آسیا کې د ترکیې او چین نفوذ زیاتیدل

پر روسیه د غرب له لورې پر اوکراین برید له امله د بندیزونو وضع کېدو سره اروپایي ټولنې له روسیې څخه د نفتو او ګازو وارداتو کچه راکمه کړې ده او د خپلې اړتیا وړ ګازو لپاره د نویو زېرمو په هڅه کې ده. ترکیه هڅه کوي د روسیې خلا ډکه کړي او له ترکمنستان او اذربایجان څخه ګاز د کسپین سیند له لارې باکو او له هغه ځایه د نللیکې له لارې د ګرجستان له قلمرو څخه ترکیې ته ولیږدوي او د اروپایي ټولنې پر غړو هېوادونو باندې وپلوري، له همدې امله د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د ۲۰۲۲زکال ډسمبر په میاشت کې ترکمنستان ته سفر وکړ او

د کسپین سیند له لارې د ترکمنستان د ګازو له صادرولو څخه یې ملاتړ وکړ. د بل لوري ترکیه د قفقاز او مرکزي آسیا ترک تبره هېوادونو ترمنځ د یووالي لپاره هڅې کوي لومړی یې د ترک ژبې هېوادونو همکارۍ شورا جوړه کړه، چې د ۲۰۲۱ زکال وروسته یې نوم د ترک هېوادونو سازمان ته بدل شو. ترکیه ددې سازمان له لارې هڅه کوي چې له غړیو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي او په سیمه کې پر مهم جیوپولیټیک ځواک بدل شي.[۳۰]

روسیه له اوکراین سره په جګړه بوخته دی له دې سیاسي خلا څخه په ګټه اخېستلو سره ترکیه هڅه کوي په مرکزي آسیا هېوادونو کې خپل نفوذ پراخه کړي. ترکیه د ناټو غړي هېواد په توګه د سیمې پر هېوادونو یې د وسلو پلورلو کچه لوړه کړې ده. د مرکزي آسیا هېوادونو هم د ترکیې له کړنلارې څخه هرکلی کړی، تر څو په سیمه کې د ترکیې نفوذ زیاتیدلو سره به روسیې او چین پورې د سیمې هېوادونو وابستګي راکمه شي. قزاقستان او ترکمنستان د ګازو او تیلو تولیدنکو هېوادونو په توګه هڅه کوي د خپلې انرژۍ صادراتو لپاره نوي مسیرونه پیدا کړي تر څو د روسیې مسیر پر ځای د خزر سیند له لارې ازربایجان،ګرجستان او ترکیې او بالاخره اروپا ته خپل تیل او ګاز ولیږدوي.

د روسیې او اوکراین جګړې پیل څخه راپدیخوا د ترکیې ولسمشر رجب طبیب اردوغان درې ځله د مرکزي آسیا هېوادونو ته سفر وکړ، ازبکستان ته د۲۰۲۲زکال مارچ پر ۲۹ او ۳۰ نېټه رسمي سفر وکړ او بیا ځلې د نومبر پر ۱۰ او ۱۱ نېټه د ترک دولتونو سازمان غونډې کې ګډون په موخه ازبکستان ته سفر وکړ، همدارنګه د اکتوبر پر ۱۳ نېټه د آسیا اعتماد جوړونې او تعامل کنفرانس کې د ګډون په موخه د قزاقستان پلازمېنې آستانې ته سفر وکړ.[۳۱]

د ۲۰۲۲زکال په فبروري میاشت کې د پوتین لخوا په اوکراین کې د ځانګړو نظامي عملیاتو اعلان وروسته په مرکزي آسیا کې د روسیې نفوذ او نقش کمېدو په

حال کې ده او برعکس چین ته زمینه برابره شوه تر څو له دې خلا څخه په ګټې اخېستلو سره خپل نفوذ پراخه کړي. په مرکزي آسيا کې د چین اقتصادي نفوذ زیات شوی دی، د ۲۰۲۲زکال رسمي شمېرو له مخې د چین او مرکزي آسيا ترمنځ سوداګري د تیر کال په پرتله ۴۰ سلنه زیاته شوې ده او ۷۰ میلیارد ډالرو ته رسیده. د ۲۰۲۳زکال فبروري پر ١٦ نېټه د چینپه تسینګتائو ښار کې د چین او مرکزي آسيا پانګونې، صنعتي مرستو مجمع درې ورځنۍ غونډه جوړه شوه او د چین ولسمشر د مرکزي آسيا له هېوادونو سره ژمنه وکړه، چې د صنعت په برخه کې پرمختللې تکنالوجي به د مرکزي آسيا هېوادونو ته ورکوي.[۳۲] د بل لوري د روسيې او اوکراین جګړې پیل سره د ترانزیټ مسیر بدیل شوی دی او نږدې ۸۰ سلنه د چین سوداګریز قطارونه د مرکزي آسيا له لارې اروپا ته لیږدول شوي دي. چین د مرکزي آسيا دګازو لوی پېرودونکی دی او همدارنګه چین لیوالتیا لري مرکزی آسيا په هېوادونو کې د لمریزې برېښنا، تلفني شبکو، سړکونو او ریل پټلۍ جوړولو برخه کې پانګونه وکړي.

**۷- د مرکزی آسيا ټرانس کسپین کوریډور جیوستراتیژیک ارزښت زیاتیدل**

د روسيې او اوکراین جګړې سره د مرکزي آسيا هېوادونو ستراتیژیک موقعیت اهمیت زیات شوی، د جګړې وړاندې ډیری سوداګریز توکي د چین او مرکزي آسيا څخه د روسيې له لارې اروپا ته لیږدول کیدل، خو د جګړې وروسته پر روسیه د بندیزونو وضع کېدو سره د کسپین سیند ساحلي هېوادونو هر یو قزاقستان، ترکمنستان او اذربایجان جیوستراتیژیک ارزښت زیات شو

ی دی او له اروپا سره راکړه ورکړه له همدې مسیر څخه ترسره کیږي. د ۲۰۲۲زکال فبروري میاشت پر اوکراین د روسيې برید وروسته د ټرانس کسپین لیږد

رالیږد کوریډور اهمیت زیات شوی دی او د ۲۰۲۲زکال په لومړیو ۹ میاشتو کې ددې لارې د سوداګریزو توکو ټرانزیټ کچه درې برابره لوړه شوې ده.[۳۳]

د روسیې شمالي کوریډور، چې ختیځ له لویدیځ سره نښلوي، نقش یې کم شوی او پر ځای یې  د ټرانس کسپین کوریډور اهمیت زیات شوی دی، چې سوداګریزو توکي د ختیځې آسیا او چین څخه د قزاقستان او ترکمنستان بندرونو له لارې د کسیپن سیند څخه آذربایجان له لارې ګرجستان او بیا ترکیې او اروپا ته لیږدول کیږي. د ټرانس کسپین کوریډور د مرکزي آسیا ترک ټبره هېوادونو او ترکیې لپاره اهمیت لري. دغه کوریډور د جیوپولیټیک او جیوایکانومیک نظره د غرب لپاره هم مهم دی، دا چې سوداګریز توکي د روسیې کوریډور پر ځای د ټرانس کسپین کوریډور باندې اروپا ته لیږدول کیږي او د روسیې شمال کوریډور ارزښت او اهمیت کمېدو لامل کیږي.[۳۴]

د شمال کوریډور چې ځمکنی کوریډور دی او د روسیې او بلاروس څخه تیریږي او چین له اروپا سره نښلوي، د روسیې او اوکراین جګړې وروسته د غرب له لورې پر روسیې بندیزونو او ددې کوریډور تحریم سره د ټرانس کسپین کوریډور اهمیت زیات شوی دی او سوداګریز توکي له چین څخه د مرکزي آسیا له لارې د ټرانس کسپین کوریډور له طریقه قفقاز، ترکیې او اروپا ته لیږدول کیږي.[۳۵]

**۸- له مرکزي آسیا سره د c5+1 فارمټ کې د امریکا اړیکې**

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتونی بلینکن د قزاقستان آستانې ته په رسمي سفر کې، چې د ۲۰۲۲زکال فبروري په ۲۸ نېټه ترسره شو او د C5+1 فارمټ په اډانه کې د مرکزي آسیا پنځه هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو سره ناسته ترسره کړه او په دې ناسته کې ورسره ژمنه وکړه، چې له مرکزي آسیا هېوادونو سره له روسیې څخه د وابستګې کمولو او پر روسیې د غرب له لورې د بندیزونو له امله پر مرکزي آسیا ناوړه اقتصادي اغېزو راکمولو په موخه ۲۵ میلیونه ډالر مرسته کوي، همدارنګه

بلینکن زیاته کړه، چې امریکا د بندیزونو له امله د روسیې شریکانو ته رامنځته کېدونکې زیان جبرانولو ته ژمنتیا لري او امریکا د مرکزي آسیا هېوادونو حاکمیت، خپلواکی او ارضي تمامیت څخه ملاتړ کوي. د امریکا بهرنیو چارو وزیر انتونی بلینکن د مرکزي آسیا له حاکمیت او خپلواکی یې ملاتړ وکړ. همدارنګه د مرکزي آسیا پر هېوادونو د روسیې احتمالي برید خطر یادونه وکړه. د قزاقستان بهرنیو چارو وزیر مختار تیلو بردی وویل، چې قزاقستان له روسیې سره اوږده سرحدي پوله لري د مسکو له لورې یې کوم ګواښ نه دی لیدلی او قزاقستان له روسیې او همدارنګه له اوکراین سره نږدې او تاریخي اړیکې لري، قزاقستان به اجازه ورنکړي چې له خاورې یې د روسیې هر ډول برید یا د بندیزونو څخه خلاصون په موخه ګټه واخېستل شي.[٣٦]

**ب: امنیتي اغېزې**

د روسیې او اوکراین جګړې د مرکزي آسیا پر هېوادونو په امنیتي برخه کې مهمې اغېزې لري، د یو لورې د مرکزي آسیا زیات شمېر مهاجر کارګر چې په روسیه کې په کار بوخت دي د روسیې له لورې د امتیازاتو په ورکولو سره په اوکراین کې د روسیې په ګټه د جګړې لپاره جذب شول او د بل لورې د مرکزي آسیا امنیت هم له ګواښ سره مخامخ دی. دا چې په قرغزستان، تاجکستان او قزاقستان کې روسیه نظامي اډې لري او د مرکزي آسیا امنیت کې مهم رول لري او همدارنګه په سیمه کې د روسیې په مشری د ټولیز امنیت تړون سازمان شتون لري چې د روسیې او اوکراین جګړې سره یې اهمیت کم شوی دی. په دې برخه کې پر مرکزي آسیا د روسیې او اوکراین جګړې امنیتي اغېزې څېړل شوې دي.

### ۱- د روسیې پوځ په لیکو کې د جګړې لپاره د مرکزي آسیا اتباعو ګومارل

د قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان ګڼ شمېر وګړي پر اوکراین د روسیې برید پیل سره په جګړه کې ګډون کړی دی، ځینې یې د اوکراین پوځ لپاره او ځینې یې د روسیې پوځ لپاره جګړه کوي. د مرکزي آسیا هېوادونو ډېری وګړي د روسیې پوځ لپاره جګړه کوي. ډېری ازبک او تاجک وګړو درې میاشتیني او شپږ میاشتیني ترون له مخې جګړه کوله او د میاشتې ۵۹۰ ډالره تنخوا ورکول کېده. د ځېنو څېړونو له مخې په جګړه کې ګومارل شویو کسانو ته د سربازی خدمت ترسره کولو لپاره د ۳۰۰۰ ډالرو او همدارنګه د روسیې تابعیت ورکولو ژمنه شوې ده. د مرکزي آسیا ځینې وګړي د اوکراین پوځ لپاره هم جګړه کوي، چې د هغې له جملې څخه ژاسولان دیویسمبین له قزاقستان څخه دی، چې د ۲۰۲۱زکال کې د اوکراین له پوځ سره یوځای شو او له اوکراینی ښځې سره یې واده هم وکړ.[۳۷]

د ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان  کارګر مهاجر په روسیه کې پر کار بوخت دي. روسیه هڅه کوي د مرکزي آسیا مهاجر کارګر د اوکراین سره د جګړې لپاره وګوماري او د ددې وګړو ګومارلو لپاره په ازبکي، قرغزي او تاجکي ژبو تبلیغات کوي چې د روسیې پوځ سره د یوځای کېدو په صورت کې د روسیې پاسپورت ترلاسه کوي او د ثبت نام لړی یې ادامه لري.[۳۸] په عادي حالت کې د مرکزي آسیا وګړي باید تر پنځه کلونو صبر وکړي او ټول طی مراحل تیر کړي. روسیه د مرکزي آسیا هغه وګړو ته چې اوکراین ته د روسیې په پلوی د جګړې لپاره ځي له شپږ میاشتو وروسته د روسیې پاسپورت او تابعیت ورکوي، ډېر هغه وګړي چې د روسیې پاسپورت ترلاسه کولو په موخه اوکراین ته د جګړې لپاره تللي دي، په جګړه کې مړه یا اسیران شوي.[۳۹]

له بل لوري روسي چارواکي هغه کسان چې د تاجکستان او روسیې دواړو تابعیتونه لري او شمېر یې زرګونو کسانو ته رسیږي، د روسیې په پوځ کې د نوم

لیکلو لپاره بلنه ورکوي او وروسته اوکراین ته د جګړې لپاره لېږي. د روسیې کورنیو چارو وزارت شمېرو له مخې په ۲۰۲۲زکال کې ۱۷۴۰۰۰ تاجکانو د روسیې تابعیت اخېستی دی په داسې حال کې چې په ۲۰۲۱زکال ۱۰۴۰۰۰ تنه تاجکانو د روسیې تابعیت اخیستی و، د یادونې وړ دی، چې د ۱۹۹۷زکال هوکړې له مخې چې د روسیې او تاجکستان ترمنځ لاسلیک شوه، د تاجکستان وګړي کولای شي دوه تابعیته ترلاسه کړي. د روسیې تابعیت لرونکي تاجکان اړ نه دي، چې په روسیه کې د کار جواز واخلي، چې زیات لګښت پر راځي او له بانکي خدمتونو څخه برخمن وي او همدارنګه په روسیه کې د تقاعد حقوق هم ترلاسه کولای شي. د روسیې دوما مجلس غړي میخائیل ماتویف په وینا هغه تاجکان چې په روسیه کې له حقوقو برخمن دي، د کورنۍ او ماشومانو څخه ملاتړ لپاره مرسته ورسره کیږي او زیات امتیازات ترلاسه کوي او اوس باید ژمن اوسي تر څو د سربازی خدمت هم وکړي. د تاجکستان بهرنیو چارو وزارت اعلامیې پر اساس د تاجکستان وګړي باید په ثالثو هېوادونو کې د جګړې څخه ډډه وکړي، که چیرې د تاجکستان کوم وګړی د واګنر په شان خصوصي سازمانونو یا نورو ډلو کې د نوم لیکنې او جګړه کې برخه اخېستلو باندې تورن شي تر ۲۵ کلونو زندان مجازاتو سره به مخامخ شي.[۴۰]

د تاجکستان قوانینو له مخې د تاجکستان وګړي په بهرنیو جګړو کې ګډون څخه منع شوي او جزاګانې یې ورته پیشبیني کړې دي، ولې سربېره پر دې هغه تاجکان چې د روسیې تابعیت هم لري د روسیې په پلوی د اوکراین سره په جګړه کې ګډون کوي. ځینې تاجک جنګیالي چې د روسیې په پوځ کې د اوکراین پر وړاندې جګړه کوله د اوکراین لخوا نیول شوي دي او ځینې نور تېپیان او وژل شوي دي. د ځینو تاجک جنګیالیو جسدونه په اوکراین کې ورک شوي او ځینو یې روسیې او یا هم تاجکستان ته لیږدل شوي. د تاجکستان رسنیو د راپور له مخې جمشید خلف او شهرت عبدالله اف د تاجکستان درواز سیمې اوسیدونکې د روسیې

په پلوی جګړه کې په اوکراین کې وژل شوي دي، شهرت عبدالله اف چې یو انجینر و، په تانګ کې دننه سوځېدلی . د روسیې سپوتنیک راپور له مخې د ځلور تاجک جنګیالیو،چې په اوکراین کې په اتلولی سره وجنګیدل او په جګړه کې ووژل شول، جسدونه یې تاجکستان ته ولیږدول شول، چې دوه تنه یې د سغد ولایت او دوه نور یې د ختلان ولایت څخه و. د روسیې دولت هغه مهاجر تاجک کارکونکو ته د تابعیت ورکولو ژمنه کړې، چې په روسیې په پوځ کې جذب او اوکراین ته د جګړې لپاره لاړ شي. په روسیه کې زیات شمېر تاجک مهاجر کارکونکي اوسیږي او په ۲۰۲۱زکال د روسیې هېواد د شمېرو له مخې یو میلیون او شپږ سوه تاجک کارکونکي په روسیه کې استوګن و، دغه مهاجر کارکونکي د کال ۲ میلیارده ډالر تاجکستان ته حواله کوي.[۴۱]

په روسیه کې د قزاقستان، قرغزستان او ازبکستان دیپلوماتیکو نماینده ګیو لخوا هم د جلا جلا بیانیو له لارې په روسیه کې خپل وګړي په اوکراین کې د جګړې کولو څخه منع کړل، دغه اعلامیې هغه مهال خپرې شوې، چې د ولادیمیر پوتین لخوا د نویو ځواکونو بسیج فرمان ورکړل شو. د یادونې وړ دی، چې د روسیې پارلمان داسې قانون تصویب کړ، چې له مخې یې هغه بهرنیو وګړو ته به ډېر ژر د روسیې تابعیت ورکړي، چې د دې هېواد د پوځ په لیکو کې داخل شي. د ازبکستان څارنوالی خپلو وګړو ته له بهرنیو پوځونو سره د یوځای کېدو اړه ګواښ وکړ، چې د قوانینو سره به سم مجازات شي.[42]

د قرغزستان محکمې د ۲۰۲۳زکال مې میاشتې پر ۱٦ نېټه یو قرغیز ۳۲ کلن قرغیز وکړی د اوکراین په ختیځ کې د روسي ځواکونو په پلوی د جګړې له امله په ۱۰ کاله زندان محکوم کړ. د قرغزستان ددې پریکړې له امله د روسیې دوما مجلس استازي سرګئي میرونوف قرغزستان، قزاقستان او ازبکستان دا ډول کړنې وغندلې چې خپل وګړي د خپلو قوانینو له امله مجازات کوي، حال

دا چې د مرکزي آسيا درې هېوادونه قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان د اوراسيا اقتصادي ټولنې غړي دي، که چېرې ددې هېوادونو وګړي وغواړي د اوراسيا اقتصادي ټولنې له بل غړي هېواد سره مرسته وکړي باید له جنايي تورونو سره مخامخ نشي. د قرغزستان پارلمان مرستيال دستان بيکشف لخوا ميرونوف ته د غبرګون په ترځ کې وويل، چې اوراسيا اقتصادي ټولنه یوه اقتصادي ټولنه ده، نه نظامي بلاک. [۴۳]

## ۲- د ټولیز امنیت تړون سازمان اهمیت کمېدل

په مرکزي آسيا کې قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان د ټولیز امنیت پیمان سازمان غړي دي. که چېرې د مرکزي آسيا هېوادونه له روسيې څخه واټن واخلي او غرب ته نږدې شي نو روسيه کولای شي د دې سيمې امنيت له ګواښ سره مخ کړي، ځکه په د يو لورې د تاجکستان، قرغزستان او قزاقستان په هېوادونو کې نظامي اډې لري او د بل لوري روسي دياسپورا په دې هېوادونو کې استوګن دي او روسيه کولای شي په خپله ګټه ترې کار واخلي.

د روسيې او اوکراين جګړې پيل وروسته د ټولیز امنیت پیمان سازمان نقش هم د کمزوري کېدو په حال کې ده. د ټولیز امنیت پیمان سازمان په ۱۹۹۲زکال کې تاسيس شو، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان، ارمنستان، روسيه او بلاروس يې غړي هېوادونه دي ازبکستان له دې سازمان څخه په ۲۰۱۲زکال بهر شو. د بلاروس پرته د ټولیز امنیت پیمان سازمان نورو غړو هېوادونو پر اوکراين د روسيې نظامي بريد څخه ملاتړ ونه کړ. د ټولیز امنیت پیمان سازمان کمزوري کېدو بل لامل د مرکزي آسيا هېوادونو په ځانګړې توګه د تاجکستان او قرغزستان ترمنځ د سرحدي پولو پر سر د جګړو مخنيوي کې د ټولیز امنیت پیمان سازمان کمزوری دريځ دی. په دې سرحدې جګړه کې له ۱۰۰ تنو زيات کسان ووژل شول.[۴۴]

د ټولیز امنیت پیمان سازمان دوه غړي قرغزستان او ارمنستان ددې سازمان له نقش څخه ناخوښه دي، قرغزستان له تاجکستان سره د سرحدي پولې پر سر سخته جګړه وکړه چې زیات شمېر کسان په کې ووژل شول او همدارنګه ارمنستان د ناګورنو قرباغ پر سر د اذربایجان سره جګړه کې زیاته سیمه له لاسه ورکړه، خو په دې دواړو پېښو کې د د ټولیز امنیت پیمان سازمان غړو هېوادونو کوم جدي دریځ نه درلود. قرغزستان په غبرګون کې د ۲۰۲۲زکال اکتوبر پر ۱۰-۱۴ نېټې نظامي مانورونو او تمریناتو کې ګډون ونه کړ. ارمنستان له اذربایجان سره جګړې پر مهال د ټولیز امنیت پیمان سازمان له نظامي مداخلې نه کولو ناخوښه دی او ددې سازمان ۴ مادې باندې استناد وکړ، چې له مخې یې پر دسته جمعي دفاع باندې ټینګار شوی دی، د ارمنستان لومړی وزیر نیکول پاشینیان د ۲۰۲۲زکال سپتامبر میاشت کې وویل، چې د د ټولیز امنیت پیمان سازمان څخه د ارمنستان وتلو ویره شتون لري.[۴۵]

**پایله**

د مرکزي آسیا هېوادونه هڅه کوي د روسیې او غرب سره خپلې اړیکې په سمه توګه مدیریت کړي، د یو لورې له روسیې سره نږدې اړیکې او ستراتیژیک مشارکت لري او د بل لورې د غرب پالیسیو سره د نږدې کېدو له امله ممکن د مسکو له غبرګون سره مخامخ شي. نوموړي هېوادونه هڅه کوي هم مسکو راضي وساتي او هم پر روسیې د غرب له لورې د بندیزونو رعایت وکړي او د مسکو سره د همکارۍ ډېره وکړي تر څو د غرب او امریکا له ثانویه بندیزونو ځان وژغوري، خو دواړو لوریو راضي ساتل ورته ستونزمن دی.

پر اوکراین د روسیې برید پر مرکزي آسیا هېوادونو منفي اغېز درلود، د غذایي توکو بیې لوړې شوې، تورم او د بې روزګارۍ کچه لوړه شوه، د مرکزي آسیا هېوادونو په صادراتو کې اختلال رامنځته شو او زیات شمېر روسانو د نظامي جبري خدمت

له ویرې د مرکزي آسیا هېوادونو ته تېښته وکړه. قزاقستان ته له جبري خدمت له ویرې تښتیدلو روسانو سفرونو زیاتیدلو سره ددې هېواد هویت لپاره ګواښ رامنځته کړی دی او په ځانګړې توګه د هغه روس ټبره وګړو چې د روس پلوه لیدلوری لري او د قزاقستان ارضي تمامیت لپاره په ګواښ بدلیدلی شي. قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان د ټولیز امنیت پیمان سازمان غړي دي او له روسیې سره نږدې اړیکې لري، خو سربېره پر دې د مرکزي آسیا هېوادونو اعلان وکړ، چې د غرب له لورې وضع شویو بندیزونو مراعت کوي او داسې چارې نه ترسره کوي، چې له بندیزونو څخه د روسیې د خلاصون او تیښتې لامل شي.

د روسیې او اوکراین جګړې اوږدیدو سره په مرکزي آسیا کې د روسیې نقش کمرنګه شوی دی او د چین، ترکیې اروپایي ټولنې او امریکا سره یې اړیکې پراخه شوې دې، د بل لورې په مرکزي آسیا کې د ټولیز امنیت پیمان سازمان او اوراسیا اقتصادي ټولنې په څېر روس محوره بنسټونو ارزښت کم شوی دی او ورسره د مرکزي آسیا جیوستراتیژیک ارزښت زیات شوی او له چین څخه سوداګریز توګې د روسیې شمالي کوریډور پر ځای د ټرانس کسپین کوریډور له لارې اروپا ته لیږدول کیږي.

د روسیې او اوکراین جګړه د مرکزي آسیا په هېوادونو په ځانګړې توګه د قزاقستان په راتلونکي هم اغېز لري، په دې جګړه کې د روسیې ماتې په صورت کې قزاقستان د مسکو له ملاتړ پرته هم کولای شي خپلې چارې په ښه توګه ترسره کړي، خو د روسې بریالي کېدو پر مهال ممکن روسیه هڅه وکړي د خپل حاکمیت سیطره پراخه او د قزاقستان شمالي برخه هم د روسیې برخه وګرځوي، چې له دې سره د قزاقستان ارضي تمامیت، خپلواکي او حاکمیت له ګواښ سره مخامخ کیږي.

**وړاندیزونه**

د روسیې او اوکراین جګړې په اړه د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ سیاست باید پر بې پلوی باندې ولاړ وي او دغه سیاست ته دوام ورکړي، ځکه له یو لورې غرب او امریکا سره تقابل د افغانستان په ګټه نه دی او د تقابل یا د مسکو څخه ملاتړ په صورت کې افغانستان د غرب له بندیزونو سره مخ کیږي د بل لورې د مرکزي آسیا هېوادونه او روسیه د افغانستان لپاره اهمیت لري، افغانستان د مرکزي آسیا هېوادونو سره اقتصادي محوره اړیکې لري او یادو هېوادونو څخه نفت،ګاز، خوراکي توکې په ځانګړې توګه غنم او اوړه واردوي، نو افغانستان اړ دی، چې د روسیې او اوکراین جګړې په اړه بی طرفه سیاست ولري.

**ماخذونه**

1-Anealla Safdar, Kazakh official: Not the time to resolve differences through war, 6 Apr 2023, available:https://www.aljazeera.com/news/2023/4/6/kazakh-official-not-the-time-to-resolve-differences-through-war{accessed: 12/5/2023}

2- byIlayda Nijhar, What does the Russia-Ukraine war mean for Central Asia?, 04 March 2022, available:https://odi.org/en/insights/what-does-the-russia-ukraine-war-mean-for-central-asia/{accessed: 13/2/2023}

3- Farangis Najibullah, Ethnic Balancing? Kazakhstan Settles Returnees In Regions With Significant Russian-Speaking Populations, November 09, 2022, available:https://www.rferl.org/a/kazakh-settles-returnees-russian-speaking-regions/32122862.html{accessed;24/4/2023}

4-How Kazakhstan became more Kazakh, Jan 29th 2022, available: ttps://www.economist.com/asia/2022/01/29/how-kazakhstan-became-more-kazakh{accessed: 23/4/2023}

۵- احمد قاسم زاده، جنگ اوکراین؛ چالش‌های قزاقستان با روسیه و غرب ، ۱۳ مرداد ۱۴۰۱، لاسرسی:

https://www.iess.ir/fa/note/3183/[مراجعه: ۲۳ جوزا ۱۴۰۲]

٦- تغییر مسیرهای ارتباطی آسیای مرکزی با جنگ اوکراین، سه شنبه ۲۲ فروردین ۱۴۰۲، لاسرسی:

https://www.ettelaat.com/mobile/archives/341986?device=phone[مراجعه: ۱۷/ثور ۱۴۰۲]

7- Kazakhstan: The rise and fall of the separatists that weren't, Apr 5, 2023, available: https://eurasianet.org/kazakhstan-the-rise-and-fall-of-the-separatists-that-werent {accessed: 22/May 2023}

۸- فرامرز نوروزی، انتقام روسیه قزاقستان را نگران می کند، ٦ اگست ۲۰۲۲ ،لاسرسی:

https://kayhan.london/1401/05/15/294483/[مراجعه:۲۸جون ۲۰۲۳]

۹- پیامدهای جنگ روسیه در اوکراین برای کشورهای آسیای مرکزی، ۹ فروردین ۱۴۰۱، لاسرسی:

https://www.iess.ir/fa/translate/3036/[مراجعه: ۱۲ثور ۱۴۰۲]

۱۰- با کاهش نفوذ روسیه، آسیای میانه به سمت ترکیه می‌رود؟، ۱۹ دسامبر ۲۰۲۲، لاسرسی:

https://www.bbc.com/persian/articles/c0dr3pvp74go[مراجعه: ۱۱مارچ ۲۰۲۳]

11- Thomas Matussek, How Kazakhstan changed in light of the Russian invasion of Ukraine, Mar 9, 2023, available: https://www.euractiv.com/section/central-asia/opinion/how-kazakhstan-changed-in-light-of-the-russian-invasion-of-ukraine/{accessed:11/3/2023}

12- Beate Eschment, Responses From Central Asian States to the Russian Invasion of Ukraine, Mar 31 2022, Available:https://www.e-ir.info/2022/03/31/responses-from-central-asian-states-to-the-russian-invasion-of-ukraine/{accessed: 24.4.2023}

۱۳- پیامدهای جنگ روسیه در اوکراین برای کشورهای آسیای مرکزی، ۹ فروردین ۱۴۰۱، لاسرسی:

https://www.iess.ir/fa/translate/3036/[مراجعه: ۲۴ثور ۱۴۰۲]

14- Caspian Policy Center, The Caspian Region's Reactions to the Current Russo-Ukrainian War, a Series: Turkmenistan, 2 Nov 2022, available: https://www.caspianpolicy.org/research/security-and-politics-program-spp/the-caspian-regions-reactions-to-the-current-russo-ukrainian-war-a-series-turkmenistan{accessed:12/2/2023}

15- General Assembly resolution demands end to Russian offensive in Ukraine 2 March 2022, available:
https://news.un.org/en/story/2022/03/1113152{accessed:24/2/2023}

16- General Assembly Adopts Text Recognizing Scale of Humanitarian Woes Arising from Russian Federation's Ukraine Offensive as Unseen in Many Decades, 24 MARCH 2022,
available:https://press.un.org/en/2022/ga12411.doc.htm{accessed:27/4/2023}

17- General Assembly Adopts Text to Suspend Russian Federation from Human Rights Council, Continuing Emergency Special Session on Humanitarian Crisis in Ukraine,7APRIL2022,available:https://press.un.org/en/2022/ga12414.doc.htm{accessed:24/4/2023}

18- With 143 Votes in Favour, 5 Against, General Assembly Adopts Resolution Condemning Russian Federation’s Annexation of Four Eastern Ukraine Regions,12 OCTOBER2022,available:https://press.un.org/en/2022/ga12458.doc.htm{accessed;15/3/2023}

19- PAUL STRONSKI, The Common Theme in Central Asia’s Response to Russia’s Invasion of Ukraine , 30 march 2022, Available: http://council.gov.ru/en/events/news/133544/{accessed: 12 April 2023}

20- Temur Umarov, Why did Central Asia’s leaders agree to attend Moscow’s military parade? May 12, 2023, available: https://kyivindependent.com/temur-umarov-why-did-central-asias-leaders-agree-to-attend-moscows-military-parade/{accessed:14 July 2024 }

21- Reuters, Kazakh president to skip 'Russian Davos',June 9, 2023, available: https://www.reuters.com/world/kazakh-president-skip-russian-davos-government-2023-06-09/ {access: 11 June 2023}

۲۲- رادیو فرد، ده‌ها هزار نفر از مردان روس برای فرار از بسیج جنگی پوتین به آسیای مرکزی گریختند، ۰۶/مهر/۱۴۰۱، لاسرسی:
https://www.radiofarda.com/a/almost-100-000-russians-have-crossed-into-kazakhstan-since-putin-s-mobilization-order/32056255.html [مراجعه: ۲۳جوزا ۱۴۰۲]

23- Marie Dumoulin, STEPPE CHANGE: HOW RUSSIA’S WAR ON UKRAINE IS RESHAPING KAZAKHSTAN, April 2023, available:

https://ecfr.eu/publication/steppe-change-how-russias-war-on-ukraine-is-reshaping-kazakhstan/{accessed: 14, May 2023}

24- byIlayda Nijhar, What does the Russia-Ukraine war mean for Central Asia?, 04 March 2022, available:https://odi.org/en/insights/what-does-the-russia-ukraine-war-mean-for-central-asia/{accessed:19 June 2023}

25- EU does not intend to impose sanctions on Central Asian countries — European Council president, 3 june 2023, available: https://buzb.uz/en/news/eu-does-not-intend-to-impose-sanctions-on-central-asian-countries-european-council-president/{accessed:23 June 2023}

26- Maria Zholobova, Kazakhstan Has Become a Pathway for the Supply of Russia's War Machine. Here's How It Works, 19 May 2023 , available: https://www.occrp.org/en/investigations/kazakhstan-has-become-a-pathway-for-the-supply-of-russias-war-machine-heres-how-it-works{accessed: 12 June 2023}

۲۷- احمد قاسم زاده، جنگ اوکراین؛ چالش‌های قزاقستان با روسیه و غرب ، ۱۳ مرداد ۱۴۰۱، لاسرسی:https://www.iess.ir/fa/note/3183/ [مراجعه: ۲۸ جوزا ۱۴۰۲]

28- Kazakhstan: Banks flummoxed by Russian money whack-a-mole, Jun 2, 2023, available: https://eurasianet.org/kazakhstan-banks-flummoxed-by-russian-money-whack-a-mole?utm_source=dlvr.it&utm_medium=facebook&fbclid=IwAR1P7QQiN6GJL_miZbJMalK-iBMTl3Gmhnk5iiAc9sjiWwHLfjXWHMFx5pY{accessed:29June 2023}

۲۹-چشم انداز اقتصادی_سیاسی آسیای مرکزی در ۲۰۲۳| تأثیرات روسیه در منطقه، لاسرسی:

https://www.tahlilbazaar.com/news/199254/[مراجعه: ۲۲ جون ۲۰۲۳]

30-Natalia Konarzewska, Energy Crisis Places Turkmenistan in the Geopolitical Spotlight, 10 MARCH 2023, AVIALABLE: http://www.cacianalyst.org/publications/analytical-articles/item/13749-energy-crisis-places-turkmenistan-in-the-geopolitical-spotlight.html{accessed:19 March2023}

۳۱- با کاهش نفوذ روسیه، آسیای میانه به سمت ترکیه می‌رود؟، ۱۹ دسامبر ۲۰۲۲، لاسرسی:

https://www.bbc.com/persian/articles/c0dr3pvp74go[مراجعه: ۱۲ جون ۲۰۲۳]

۳۲- جان سی.کی. دالی ، رونمایی «طرح بزرگ» چین برای آسیای میانه، ژباړه هشت صبح، ۲۷ حمل ۱۴۰۲، اوراسیا دیلی مانیتور، لارسرسی:

https://8am.media/china-unveils-grandiose-plan-for-central-asia/ [مراجعه: ۱۲/جولای ۲۰۲۳]

33- Eugene Chausovsky، Caspian Connectivity and the Ukraine Conflict: An Outlook for 2023, Jan 9,2023,available:https://www.caspianpolicy.org/research/energy-and-economy-program-eep/caspian-connectivity-and-the-ukraine-conflict-an-outlook-for-2023{accessed:22 March2023}

34- Selçuk Çolakoğlu, the Middle Corridor and the Russia-Ukraine War: the Rise of New Regional Collaboration in Eurasia? Featured, 31 JANUARY 2023,

available: http://www.cacianalyst.org/publications/analytical-articles/item/13744-the-middle-corridor-and-the-russia-ukraine-war-the-rise-of-new-regional-collaboration-in-eurasia?.html{accessed:21,2,2023}

35-Tuba Eldem, Russia's War on Ukraine and the Rise of the Middle Corridor as a Third Vector of Eurasian Connectivity, October 2022, The Centre for Applied Turkey Studies (CATS),available:https://www.swpberlin.org/publications/products/comments/2022C64_MiddleCorridor.pdf{accessed:10,April, 2023}

36-Blinken warns Central Asian nations of dangers from war in Ukraine, Feb 28, 2023, available:https://www.pbs.org/newshour/world/blinken-warns-central-asian-nations-of-dangers-from-war-in-ukraine

37-Nurbek Bekmurzaev, Central Asians fighting in Ukraine are both defending and attacking it, 23 March 2023, available: https://globalvoices.org/2023/03/23/central-asians-fighting-in-ukraine-are-both-defending-and-attacking-it/{access:12/april/2023}

تشکیل می‌دهد از یکسو کشورهای منطقه را از مسیر زمینی بهم پیوند می‌زند، از سوی دیگر شرق دور و آسیای مرکزی را به غرب آسیا و در نهایت به اروپا وصل می‌کند. بنابرین، این جاده از یکسو فرایند حمل و نقل و ترانزیت کالاهای تجارتی را از طریق افغانستان در منطقه تسهیل می‌بخشد و برای افغانستان منافع اقتصادی ببار می‌آورد، از سوی دیگر زمینه را برای صدور کالاهای افغانستان به مارکیت‌های منطقه و جهان تسریع می بخشد. این امر می‌تواند فرایند توسعه در افغانستان را شدت بخشد، که همه از نتیجه موقعیت خوب و موثر افغانستان می باشد. به همین شکل تطبیق و جریان کامل پروژه های اقتصادی دیگری مانند پروژه کاسا یکهزار، پروژه تاپی، پروژه توتاپ، تقویت سیستم ترانزیت آسیای مرکزی به جنوب آسیا، استفاده بهتر از موقعیت و جغرافیای افغانستان، مدیریت بهتر و بیشتر منابع آبی افغانستان، از جمله عوامل و عناصری می باشد که سبب تقویت سیستم اقتصادی و توسعه اقتصادی و سیاسی افغانستان می شود.

آنچه بیان شد، در نهایت به همگرایی منطقه‌ای منتهی می‌شود. این همگرایی می‌تواند در عرصه‌های اقتصادی، سیاسی، فرهنگی و... جلوه‌گر شود. این همگرایی یکی از نیازها و در عین حال خواسته‌های افغانستان چنانکه در استراتیژی همکاری‌های منطقه‌ای افغانستان نیز تبلور یافته است. بنابراین، افغانستان با همگرایی منطقه‌ای می‌تواند گام های استوار و پایداری برای توسعه اقتصادی، سیاسی، اجتماعی، صنعتی و ... خویش بردارد.

## پیشنهادها

۱- به سایر محققین و پژوهشگران پیشنهاد می‌نمایم که تا در رابطه به موقعیت ژیوپلیتیکی و استراتیژیکی افغانستان تحقیقات بیشتر نموده تا مزایای موقعیتی و ژیوپلیتیکی این کشور را بر ملت و دولت بهتر و بیشتر آشنا ساخته و از مزایای آن ملت و دولت ها مستفید گردد.

۲- به زمامداران و رهبران حکومتی و سیاسی کشور پیشنهاد می نمایم که از مزایای جغرافیایی، ژیواکونومیکی و ژیوپلیتیکی افغانستان استفاده بهینه در ثبات سیاسی و اقتصادی این کشور نماید.

۳- به تمام گروه‌های قومی، زبانی، فرهنگی، مذهبی و سیاسی کشور پیشنهاد میشود که دست به دست هم داده و متحد و یک پارچه شده از مزایای موقعیتی کشور استفاده نموده و بر توسعه سیاسی و اقتصادی این کشور استفاده نماید.

٤- افغانستان کلید و چهار راه قاره آسیا بوده و تمام نقاط قاره آسیا را با هم وصل می‌سازد و از مزایای موقعیتی، ترانزیتی، تجارتی و استراتیژیکی این کشور استفاده موثر صورت گیرد و نگذارد بار دیگر طعمه استعمار قدرت‌های استعماری دیگری گردد.

## منابع


۱- پیشگاهی فرد، زهرا و سردارمحمد رحیمی«جایگاه افغانستان در ژئواستراتژی نظام نوین جهانی» نشریه تحقیقات کاربردی علوم جغرافیایی، شماره ۱۱، زمستان سال: ۱۳۸۷، صفحه ۹۹-۱۳۲.

۲- مجتهدزاده، پیروز. فلسفه و کارکرد ژیوپولیتیک«مفاهیم ونظریه‌ها در عصر فضای مجازی»، چاپ دوم، انتشارات سمت: تهران ، سال: ۱۳۹۵ه ش.

۳- رحیمی، سردارمحمد. ژئوپلتیک افغانستان در قرن بیستم، چاپ اول، انتشارات سعید:کابل:سال ۱۳۹۱ه ش.

٤- احمدی، میرهارون و ضیاءالحق امیری. جغرافیای سیاسی افغانستان، انتشارات نامی:کابل، سال: ۱۳۹۳ه ش، ص ۳.

٥- عظیمی، محمدعظیم. جغرافیای انسانی افغانستان، انتشارات خراسان، کابل، سال: ۱۳۹۱ه ش، ص۲٤.
٦- بیدار، فرحت. ژئوپلیتیک افغانستان؛ فرصت‌ها و تهدیدها، استاد راهنما: محمد ستوده، پایان‌نامه ماستری، رشته فقه و معارف اسلامی، مدرسه عالی فقه و معارف اسلامی، مرکز جهانی علوم اسلامی – قم: سال ۱۳۸٤ه ش، ص٦۲.
۷- عظیمی پیشین، ص۲۸.
۸- مصلی‌نژاد، عباس. فرهنگ اجتماعی و ژئوپلیتیک قدرت در افغانستان، فصلنامه ژیوپلیتیک، شماره اول، بهار و تابستان سال: ۱۳۸۸ه ش، ص ۱۷۰.
۹- عظیمی پیشین، ص ٦۸.
۱۰- همان مأخذ، صص ۷۰-۷۲.
۱۱- مصلی نژاد پیشین، ص ۱۷۰.
۱۲- عزتی، عزت الله. ژیواستراتیژی، انتشارات سمت: تهران، سال ۱۳۸۰ه ش، ص ۸۹.
۱۳- همان مأخذ همان صفحه.
١٤- میرحیدر، دره. مبانی جغرافیای سیاسی، چاپ پانزدهم، انتشارات سمت: تهران، سال: ۱۳۸۹ه ش، ص ,۱۰۷
۱۵- نامی، محمدحسن. جغرافیای کشور افغانستان، انتشارات سازمان جغرافیایی نیروهای مسلح، تهران: ایران، ص ۳۹، سال: ۱۳۸۷ه ش.
۱٦- نامی پیشین، ص ۱۰۷.
۱۷- عارض، غلام جیلانی. جغرافیای طبیعی افغانستان، انتشارات میوند: کابل، سال۱۳۸٦ه ش، ص۳۹.
۱۸- احمدی و امیری پیشین، ص۳۲..
۱۹- رحیمی، سردارمحمد و علی دوست امیری(۱۳۹۰). ژیوپُلیتیک کشور افغانستان، وبلاک انجمن ژیوپُلیتیک افغانستان، در سایت geo-af.blogsky.com تاریخ بازید ۲۳/۴/۱۴۰۲ ه ش.
۲۰- عارفی، مهدی «بررسی چشم انداز روابط استراتیژیک افغانستان و ایالات متحده امریکا(۲۰۰۱-۲۰۱۵ م)»، استاد رهنما: سعید وثوقی، تهران ۱۳۹۱، ص ۲۷.

۲۱- همان ماخذ، ص ۳۵.
۲۲- آریا، سلطان‌احمد(۱۳۹٦). موقعیت جغرافیایی افغانستان و نقش آن در توسعه، در سایت www.khorasanzameen.net تاریخ بازدید ١٤٠٢/٧/١٦.
۲۳- بیدار، فرحت پیشین، ص ٤٧.
٢٤- رحیمی، سردارمحمد، علی دوست امیری، بیتا، ژیوپلیتیک کشور افغانستان، در سایت geo-af.blogsky.com تاریخ دانلود ١٤٠٢/٧/١٣.
۲۵- بیدار، فرحت پیشین، ص ٤٧.
٢٦- حقجو، میرآقا. افغانستان و مداخلات خارجی، انتشارات میوند: کابل ، سال ١٣٨٤ه ش، ص ١٠٢.
۲۷- همان ماخذ.
۲۸- جوادی‌ارجمند، محمد جعفر و دیگران. سیر تحول سیاست خارجی آمریکا نسبت به افغانستان بر اساس نظریات ژئوپلیتیک، فصلنامه تخصصی علوم سیاسی، سال یازدهم، شماره سی و دوم، سال١٣٩٤ه ش، ص٣٧.
۲۹- عظیمی، محمدعظیم. درآمدی برقدرت ملی افغانستان، انتشارات موسسه تحصیلات عالی افغانستان: کابل، سال: ١٣٩٤هـ.ش، ص ۹۹.
۳۰- رحیمی، سردارمحمد. ژئوپلتیک افغانستان در قرن بیستم، چاپ اول، انتشارات سعید:کابل، سال ۱۳۹۱ه ش، ص ۳۱۱.
۳۱- همان مأخذ، ص ۳۱۲.
۳۲- پیشگاهی فرد، پیشین، ص ۱۱۵.
۳۳- رحیمی پیشین، ص ۳۱۸.
٣٤- همان ماخذ همان ص.
۳۵- حسن زاده، شیرحسن(۲۰۲۰). جایگاه افغانستان در استرایتژی های قدرت های بزرگ، در روزنامه صلح، در سایت:www.peaceweekly.com تاریخ بازدید ۲۳/۴/۱۴۰۲ه ش.

ښېړندوی عبدالصبور مبارز

# په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې ډولونه او چاپیریال: په افغانستان کې یې تطبیقي مطالعه

## Environmental Study and Types of Decisions in Foreign Policy: A Case Study of Afghanistan

Asst. Prof. Abdul Saboor Mubariz

**Abstract**

Foreign policy is divided into four categories. First, One-shot or Single Decisions, Strategic or Interactive Decisions, Sequential Decision and Sequence of Interactive Decisions.

Second, Unilateral Decisions and Negotiated Decisions. Third, Unstructured Decisions and Structured Decisions, Fourth, Individual-level Decisions and group-level Decisions.

To make accurate decisions in foreign policy, it is necessary to study and evaluate the decision-making environment, especially the time and information constraints, ambiguity of situations, experience of previous decisions, risk ،pressure and accountability of their decisions to the nation.

If the Afghan government constitutes Clear foreign policy principles this will lead the country to political development.

**لنډیز**

په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه له څلورو اړخونو ډلبندي شوې. په لومړۍ ډلبندۍ کې یوځلي تصمیم نیونه، ستراتیژیک یا متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه، تسلسل لرونکې تصمیم نیونه او تسلسل متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه شامله ده. په دویمه ډلبندۍ کې یو اړخیز او مذاکراتي تصمیم نیونه شامله ده. په درېیمه ډلبندۍ کې مخکې له مخکې پلان شوې تصمیم نیونه او ناڅاپي تصمیم نیونه شامله ده او په څلورمه ډلبندۍ کې د یو شخص له لوري تصمیم نیونه، ډله ییزه تصمیم نیونه او ایتلافي تصمیم نیونه شامله ده.

همدارنګه په بهرني سیاست کې د دقیقې تصمیم نیونې لپاره اړینه ده چې د تصمیم نیونې چاپېریال مطالعه او ارزیابي شي چې په دې چاپېریال کې د وخت او معلوماتو محدودیت، د حالاتو مبهموالی، د مخکنیو پرېکړو تجربې، خطر، فشار او ملت ته د خپلو پرېکړو حساب ورکونه شامله ده.

د بهرني سیاست د تصمیم نیونې د اصولو په نظر کې نیولو سره که مدون بهرنی سیاست ترتیب شي، په سیاسي برخه کې د افغانستان د پرمختګ لامل ګرځي.

**سریزه**

د وستفالیې له تړون او له لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې وروسته په بین المللي نظام او د دولتونو ترمنځ په اړیکو کې ستر بدلون رامنځته شو. د ملګرو ملتونو په رامنځته کېدو سره حاکم خپلواک دولتونه د دغه سازمان غړي شول او خپلمنځي اړیکو په پراخه کچه پرمختګ وکړ. د دې ترڅنګ د نړیوالتوب په رامنځته کېدو سره اوس یو دولت نشي کولای په یوازې ځان خپلې اړتیاوې پوره کړي، بلکې اړ دی چې له نورو دولتونو سره نړیوالې اړیکې ټینګې کړي او د دغو اړیکو د ټینګولو وسیله بهرنی

سیاست دی. بهرنی سیاست هغه چوکاټ دی چې د یو دولت اړیکې له بل دولت سره تنظیموي. بهرنی سیاست د یو دولت کړنلاره د بل دولت په مقابل کې روښانوي. د جوسف فرنکېل (Joseph Frankel) په نظر بهرنی سیاست د یو دولت پرېکړې او اعمال دي د بل دولت په مقابل کې. که یو دولت بهرنی سیاست ونه لري مثال یې د هغې کښتۍ دی چې د سمندر په منځ کې روانه وي، خو منزل یې ناڅرګند وي.

په نړۍ کې د فرانسې، امریکا متحده ایالاتو او ځینو نورو انقلابونو او له دوو نړیوالو جګړو وروسته له حکومتونو سره دا فکر پیدا شو چې له ولس سره نږدې اړیکې ولري، د ولس ملاتړ او رضایت ترلاسه کړي، ځکه د ولس ملاتړ کولای شي حکومتونو او دولتونو ته پایښت او مشروعیت ورکړي او که د ولس او حکومت ترمنځ واټن زیاتېږي، نو د حکومت د له منځه تلو لامل ګرځي. پر همدې بنسټ له دویمې نړیوالي جګړې وروسته د سیاسي علومو اکثره پوهان پر دې نظر دي چې بهرنی سیاست یوازې یوه موخه لري او هغه ملي ګټې دي، یعنې اوس حکومتونه خپل بهرنی سیاست یوازې د ملي ګټو د ساتنې په موخه تنظیموي.

د افغانستان د پرمختګ یوه لار مدون بهرنی سیاست دی او بیا د بهرني سیاست د اصولو په نظر کې نیولو سره تصمیم نیونه ده. که اسلامي امارت د بهرني سیاست د تصمیم نیونې چاپېریال، اصولو او قواعدو په نظر کې نیولو سره تصمیم ونیسي، نو خپله بهرنی سیاست د افغانستان د سیاسي پرمختګ لامل کېږي، دا چې افغانستان مدون بهرنی سیاست او د تصمیم نیونې لیکلې کړنلاره نه لري، نو اړتیا ده چې په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه مطالعه او وڅېړل شي تر څو له یوې خوا په بهرني سیاست کې د ناسم تصمیم نیونې مخنیوی وشي او له بلې خوا د افغانستان د بهرني سیاست لیکلو ته د چارواکو پام واوړي او همدارنګه د لیکلو پرمهال دغه لیکنه ورسره همکاري وکړي.

د دې څېړنې بنسټیزه موخه په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې د ډولونو او چاپېریال مطالعه او په افغانستان کې یې تطبیقي ارزونه ده.

د څېړنې اساسي پوښتنه داده چې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې کوم ډولونه موجود دي او اسلامي امارت له کوم ډول څخه ګټه اخلي؟ د څېړنې د فرضیې په ډول ویلای شو چې اوسمهال په افغانستان کې بهرنی سیاست یو اړخیز دی.

په دې څېړنه کې له تشریحي – تحلیلي مېتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه**

په بهرني سیاست کې تصمیم په انفرادي او یا هم ډله ییز ډول نیول کېږي او دا د هر دولت د حکومتي نظامونو په ډول پورې اړه لري، خو په اکثرو هېوادونو کې په بهرني سیاست کې ستر تصمیمونه تر ډېره د دولت په رئیس پورې اړه لري. د دولت رئیس نهایي تصمیم نیسي چې له یو دولت سره جنګ کوي او که سوله؛ له لویو قدرتونو سره اتحاد کوي او که بېطرفه پاتې کېږي؛ له یوه دولت سره ډیپلوماتیکې اړیکې رامنځته کوي او که اړیکې ورسره پرې کوي؛ پر یوه دولت اقتصادي بندیزونه لګوي او که همکاري ورسره کوي او له یوه دولت سره په کومو برخو کې تړونونه لاسلیکوي. دا د بهرني سیاست د تصمیم نیونې تر ټولو ستر او مهم اړخونه دي.

په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه تر ډېره د تصمیم نیونې له چاپیریال، رواني لاملونو او نړیوالو او داخلي لاملونو څخه اغېزمن کېږي، که د دولت مشر د تصمیم نیونې پرمهال دغه لاملونه په سم ډول ارزیابي نه کړي، نو تصمیم نیونه یې کېدای شي دولت ته منفي پایلې ولري او که د تصمیم نیونې چاپیریال یې سم مطالعه کړ او له هغې وروسته یې تصمیم ونیو، نو دولت او ولس ته به یې پایلې مثبتې وي.




Source: Alex Mintz and Karl Derouen, Understanding Foreign Policy Decision Making, Cambridge University, 2010, P. 4.

**په بهرني سياست کې د تصميم نيونې ډولونه**

دلته موږ په بهرني سياست کې د تصميم نيونې پر څلور ډوله ډلبندۍ لنډ بحث کوو، البته يادونه بايد وکړو چې دا ډلبندي د بېلابېلو پوهانو نظريات دي، نو کېدای شي چې ځينې برخې سره نږدې يا شباهت ولري.

**لومړۍ ډلبندي:** په دې ډلبندۍ کې تصميم نيونه په څلورو برخو وېشل شوې ده چې دلته يې هر ډول لنډ څېړو.

**۱- يوځلي تصميم نيونه** (One-shot or single decisions)

دا ډول تصميم نيونه ساده او يوازې يوځل نيول کېږي او کوم تسلسلي اړخ نه لري. په بهرني سياست کې دا ډول تصميم نيونه ډېره کمه پېښېږي ځکه اکثره تصميمونه تسلسلي اړخ لري او يا هم متقابل اغېز لرونکې تصميم نيونه وي. په بهرني سياست کې د دې تصميم نيونې معنی دا ده چې د دې لپاره کوم تسلسلي پلان نه جوړېږي چې له يو هېواد سره لومړی بايد اړيکې پرې شي، بيا پرې بنديزونه

ولګول شي او بیا پرې حمله وشي، بلکې دا تصمیم نیونه د یو ځل لپاره نیول کېږي هماغه تصمیم پلی کېږي او پای ته رسېږي. د بېلګې په ډول په ۱۹۹۱ز. کال کې امریکا متحده ایالاتو پرېکړه وکړه چې پر عراق حمله نه کوي، یا په ۲۰۰۳ز. کال کې د امریکا متحده ایالاتو پرېکړه وکړه چې پر عراق یرغل کوي. دې ډول تصمیم نیونې ته یوځلي تصمیم نیونه وایي ځکه د یو ځل لپاره نیول کېږي او پای مومي.[1]

په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو ته د نظامي اډو د نه ورکړې پرېکړه یوځلي تصمیم نیونه ده، ځکه اسلامي امارت یوځلي تصمیم ونیو چې امریکایانو ته اډې نه ورکوو. البته که دا پرېکړه په ځینو نورو شرایطو او کړنو پورې تړل شوې وای، د بېلګې په ډول د امریکا متحده ایالات باید لومړی اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، بیا ورسره معلومه اندازه اقتصادي مرستې وکړي او بیا به اسلامي امارت نظامي اډې ورکوي، نو دا بیا یوځلي تصمیم نیونه نه ده.

**۲- ستراتیژیک یا متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه ( Strategic, interactive decisions)**

په دې ډول تصمیم نیونه کې لږ تر لږه دوه دولتونه شامل وي او هغه تصمیم نیونه ده چې یو دولت یې د بل دولت د بهرني سیاست د پرېکړې پر وړاندې نیسي. د بېلګې په توګه په ۲۰۰۰ز. کال کې د اسرییلو لومړي وزیر یهود بارک له خوا د فلسطین مشر یاسر عرفات ته د کمپ ډېوډ تړون له لارې ځینې وړاندیزونه وشول، په مقابل کې یاسرعرفات باید تصمیم نیولی وی چې دا وړاندیزونه ومني او که رد یې کړي. د منلو او نه منلو دې تصمیم نیونې ته متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه وایي.[2]

په عادي حالاتو کې اسلامي امارت غواړي له پاکستان سره ښې اړیکې ولري، خو کله چې پاکستان پر اسلامي امارت تور پورې کوي چې دوی له تحریک طالبان پاکستان سره مرسته کوي[3]، نو اسلامي امارت په داسې حال کې اړ دی چې متقابل

ځواب ورکړي او اسلامي امارت همداسې وکړل، پاکستاني لوریو ته یې وویل چې تاسو اتومي قدرت یاست خپل امنیت پخپله باید ونیسئ او مونږ پر داسې کړنو تورن نه کړئ. همدارنگه د سویډن حکومت له لوري چې کله قران وسوځول شو، نو اسلامي امارت یې په مقابل کې په افغانستان کې د هغوی پر فعالیت بندیزونه ولگول. دغه ډول تصمیم نیونې ته متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه وایي چې د عادي تصمیم نیونې خلاف وي.

**۳- تسلسل لرونکې تصمیم نیونه** (sequential decision making)

دا هغه ډول تصمیم نیونه ده چې تسلسل لري او یوازې یوځلې نه ترسره کېږي او نه هم په متقابلو اغېزو پورې تړلې ده، بلکې یو دولت د بل دولت په مقابل کې داسې بهرنی سیاست ترتیبوي چې هغه څو پړاوونه لري او هر پړاو په بېلابېلو وختونو کې پلی کېږي. د بېلگې په ډول د امریکا متحده ایالاتو له لوري پر عراق یرغل، د عراق اشغال، د عسکرو زیاتوالی او کموالی، د عسکرو ویستل یا پاتې کېدل او بالاخره د اشغال پای. دې ډول تصمیم نیونې ته تسلسل لرونکې تصمیم نیونه وایي.[۴]

همدارنگه د نړیوالې ټولنې له خوا لومړی له اسلامي امارت سره هر ډول اړیکې پرې کول، بیا اقتصادي بندیزونه پرې لگول، بیا ځینې نور فشارونه پرې راوړل او په نهایت کې په ټوله معنی انزوا ته وړل، دغه ډول تصمیم نیونې ته په بهرني سیاست کې تسلسل لرونکې تصمیم نیونه ویل کېږي.

**۴- تسلسل او متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه** (Sequence of Interactive Decisions)

دا ډول تصمیم نیونه د دویم او درییم ډول تصمیم نیونې مرکب ډول دی، یعنې کله چې په بهرني سیاست کې د دوو دولتونو ترمنځ داسې سیالي پیل شي چې هغه دوامداره وي او متقابلې اغېزې ولري، نو په دې وخت کې یو دولت د خپل سیال دولت د سیاستونو په مقابل کې تسلسل لرونکی تصمیم نیسي چې دې ته

تسلسل او متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونه ویل کېږي. د بېلګې په ډول د سړې جګړې پر مهال د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد د یو او بل په مقابل کې تصمیم نیونه، یا هم د هند او پاکستان او یا د ناټو او وارسا د یو او بل په مقابل کې تصمیم نیونه.[5]

دا چې اسلامي امارت د سیمې په سطحه تر اوسه داسې دښمن نه لري چې په دوامداره ډول ورسره سیالۍ ته ښکته شي، نو کېدای شي په بهرني سیاست کې له دې ډول تصمیم نیونې څخه تر ډېر وخت پورې ګټه وانخلي.

**دویمه ډلبندي:** په دې وېشنه کې تصمیم نیونه په دوه برخو وېشل کېږي.

**۱- یو اړخیزه تصمیم نیونه** (Unilateral Decisions)

هغه ډول تصمیم نیونه ده چې په دې کې یو دولت پرته له دې چې له بل دولت سره د اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې اترې او مذاکرات وکړي د هغه په مقابل کې تصمیم نیسي. د بېلګې په ډول د لیبیا د مشر معمر القذافي پرېکړه چې د لیبیا اټومي پروګرام یې په ۲۰۰۳ز. کال کې پرته له دې چې بل دولت سره پرې مذاکرات وکړي، له منځه یوړ او یا هم په ۱۹۸۵ز. کال کې د نیوزیلینډ پرېکړه چې په خپل بندر کې یې د ټولو هغو کښتېو پر تګ-راتګ بندیزونه وضع کړل چې هغوی د اټومي انرژۍ اړوند مواد انتقالول.

**۲- مذاکراتي تصمیم نیونه** (Negotiated decisions)

دا هغه تصمیم نیونه ده چې له یوه دولت سره له مذاکراتو وروسته د هغه په مقابل کې نیول کېږي. د ایران او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د برجام تړون چې د دواړو لوریو ترمنځ له څو ورځو مذاکراتو وروسته ایران پرېکړه وکړه چې خپل اټومي پروګرام محدود کړي او د امریکا متحده ایالاتو تصمیم ونیو چې پر ایران بندیزونه لرې کړي.

همدارنګه د اسلامي امارت او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د مذاکراتو له لارې اسلامي امارت پرېکړه وکړه چې د امريکا متحده ايالاتو د عسکرو د وتلو پرمهال به پر هغوی بريدونه نه کوي. همدارنګه له چين سره تر مذاکراتو وروسته د اسلامي امارت له لوري پرېکړه چې له هغوی سره ځينې اقتصادي تړونونه لاسليک کړي او هغوی ته په افغانستان کې د پانګونې اجازه ورکړي. دې ډول تصميم نيونې ته مذاکراتي تصميم نيونه ويل کېږي.

**درېيمه ډلبندي:** په دې ډلبندۍ کې تصميم نيونه په دوه برخو وېشل شوې ده.

**۱- مخکې له مخکې پلان شوي تصميمونه** (structured decisions)

دا ډول تصميم نيونه مخکې له مخکې تنظيم شوې او ليکل شوې وي. دې ډول تصميم نيونې ته عادي يا روټين تصميم نيونه هم ويل کېږي چې مسؤل کسان يې هره ورځ د ټاکل شوي پروسيجر له لارې پلي کوي.

د اسلامي امارت بهرنی سياست ناليکلی (غيرمدون) دی. دوه کاله يې له واکمنۍ تېر شول، خو لا هم د بهرني سياست په اړه داسې ليکلي څه نه لري چې په رسمي ډول د اسلامي امارت دريځ ترې روښانه شي [٦] او بهرنيو چارو وزارت يې په خپل ستراتيژيک پلان کې د تطبيق لپاره هڅې وکړي. همدارنګه اساسي قانون هم لا تراوسه نه دی ليکل شوی چې د هغې په رڼا کې د اسلامي امارت د بهرني سياست پر اصولو او کړنلارو پوه شو. ليکلی بهرنی سياست او د بهرني سياست ليکلي بنسټيز اصول د يو هېواد لپاره ډېر اړين دي.

**۲- ناپلان شوې يا ناڅاپي تصميم نيونه (Unstructured decisions)**

دا ډول تصميم نيونه مخکې له مخکې پلان شوې او ليکل شوې نه وي، بلکې اړتيا وي چې په ناڅاپي ډول يو تصميم ونيول شي. د تصميم نيونې دا ډول پېچلی او سخت دی ځکه په دې کې وخت محدود، فشار زيات او معلومات کم وي، چې له امله يې پرېکړه له ګواښه ډکه وي.

د اسلامي امارت اکثره پرېکړې په دې وېشنه کې راځي، ځکه تر اوسه په بهرني سیاست کې لیکلي او پلان شوي تصمیمونه نشته، بله دا چې د نړۍ نور هېوادونه هم له ناڅاپي تصمیم نیونې سره مخامخ کېږي، خو هغوی لیکلی بهرنی سیاست لري او په هغې کې عمومي اصول لیکل شوي چې د ناڅاپي پرېکړو پرمهال باید هغه اصول رعایت کړي، خو اسلامي امارت تراوسه لیکلی بهرنی سیاست نه لري چې په هغې کې د بهرني سیاست عمومي اصول لیکل شوي وي، نو د ناڅاپي تصمیم نیونې پرمهال د بهرني سیاست د عمومي اصولو د نه شتون له امله له ستونزو سره مخامخ کېږي او په دغسې حالت کې کېدای شي ناڅاپي تصمیم نیونه د هېواد په زیان تمامه شي.

**څلورمه ډلبندي:** په دې ډلبندۍ کې تصمیم نیونه په درېیو برخو وېشل کېږي.

**۱- د یو شخص له لوري تصمیم نیونه** (Individual-Level Decisions)

په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پوهان وايي چې د یو دولت مشر د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې ځانګړی رول لري او همدا رهبر دی چې د نړیوالو سیاستونو په نظر کې نیولو سره په بهرني سیاست کې تصمیم نیسي.[۷] کله چې په بهرني سیاست کې د یو دولت مشر په یوازې ځان تصمیم ونیسي، دې ته د یوه شخص له لوري تصمیم نیونه ویل کېږي.

د رهبر شخصیت او وضعیت د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې مستقیم رول لري، د یوې وېشنې له مخې رهبران په دوه برخو وېشل شوي دي:

الف- «Hawks» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت جدي وي او ډېر ژر غصه کېږي، نو د دې ډول رهبرانو بهرنی سیاست هم یرغلیز وي، لکه هټلر، موسولویني، جورج بوش، ټرمپ او نور...

ب- «Doves» رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصیت او طبیعت نرم او ارام وي، نو د دې ډول رهبرانو بهرنی سیاست هم څانساتی (محافظه‌کارانه) وي، لکه اوباما، امانویل مکرون، جوبایډن او شي جېنپنګ.[۸]

د هواکس رهبرانو بهرنی سیاست د ډوفس رهبرانو له بهرني سیاست سره توپیر لري، نو ځکه ویلای شو چې د رهبر شخصیت هم د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې مهم رول لري.

د یوه شخص له لوري تصمیم نیونه داسې مهال ترسره کېږي کله چې په یوه دولت کې رهبر د پیاوړي او تام واک خاوند وي. په چین کې ماوزیډونګ، په کېوبا کې فېډل کاسترو، په شوروي اتحاد کې جوزېف سټالین، په فرانسه کې ناپلیون، په شمالي کوریا کې کېم جېنګ اون او په عراق کې صدام حسین یې ښې بېلګې دي، چې له یوې خوا د دولت ټول واک ورسره و او له بلې خوا یې په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه په یوازې ځان کوله.

په بحراني حالاتو کې د یو شخص له خوا تصمیم نیونه غوره ده او دا یوازینی حالت دی چې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پوهان ورته جواز ورکوي. سیاسي روانپوه مارګرېټ هېرمن وایي: بحراني حالات، د لوړې کچې ډیپلوماسي او د رهبر لېوالتیا هغه لاملونه دي چې د یو شخص له لوري تصمیم نیونې ته لاره پرانیزي.[۹]

په اسلامي امارت کې هم ویلای شو چې له دې ډول تصمیم نیونې ګټه اخیستل کېږي او په بهرني سیاست کې د نهایي تصمیم نیونې واک له امیرالمؤمنین سره دی او دا خبره په دې دلیل کوو چې د نورو هېوادونو په بهرني سیاست کې د دولت مشران د لویو تړونونو، جنګ او سولې او د اړیکو پرې کولو او جوړولو په اړه د پارلمان تاییدې ته اړتیا لري، یعنې که پارلمان یې رد کړي او د دولت مشر خوښه وي په داسې حالت کې د دولت د مشر خبرې ته ارزښت نشته،

خو اوسمهال په اسلامي امارت کې کېدای شي امیرالمؤمنین به د کابینې، بهرنیو چارو وزیر او یا د علماوو شورا سره د بهرني سیاست ځینو مهمو مسایلو کې مشوره کوي، خو که امیرالمؤمنین کوم نهایي تصمیم ونیسي، بیا د هغې منل په ټولو ارگانونو واجب او د نورو هېوادونو د شوراگانو په څېر یې ردولی نشي، نو ځکه دې ډول تصمیم نیونې ته یو اړخیز تصمیم وایي. د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې چې له یوې خوا د امریکا متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې له خوا منزوي شوی، اقتصادي بندیزونه پرې لگېدلي، په رسمیت نه دی پېژندل شوی او له بلې خوا په هېواد کې دننه د هرات زلزلې، د مهاجرینو بحران او د گوتو په شمېر ډلو ټپلو له لوري له امنېتي ننگونو سره هم مخامخ دی او په داسې حالت کې د یو شخص له خوا تصمیم نیونه گټوره ده، خو که حالات عادي شي، باید تصمیم نیونه گروپي یا ډله ییز ډول ته واوړي.

**۲- ډله ییزه یا گروپي تصمیم نیونه** (Group-level Decisions)

په دې ډول تصمیم نیونه کې د یوه دولت مشر او اړوند څو ارگانونه او ادارې د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې شریک وي او د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې اوسمهال له همدې ډول تصمیم نیونې څخه گټه اخیستل کېږي. ډله ییزه تصمیم نیونه په دوو ډولونو ترسره کېږي: لومړی دا چې د یو هېواد په اساسي قانون کې څو ارگانونو ته دا مسؤلیت سپارل شوی وي، د بېلگې په ډول په امریکا متحده ایالاتو کې د دغه هېواد د اساسي قانون پر بنسټ له ولسمشر وروسته دویم لوی ارگان چې د امریکا متحده ایالاتو د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې شریک دی هغه د امریکا متحده ایالاتو کانگرس دی، ځکه:

الف- د بین المللي تړونونو د لاسلیک اجازه باید له کانگرس څخه واخیستل شي؛

ب- د امريکا متحده ايالاتو د اساسي قانون پر بنسټ د جنګ اعلان هم بايد کانګرس تصويب کړي؛

ج- د بهرنيو مرستو مديريت هم د کانګرس دنده ده؛

د- د امنيت د تأمين په موخه يو هېواد ته د امريکايي پوځيانو لېږلو اجازه هم بايد له کانګرس څخه واخيستل شي،[10] نو معلومېږي چې په امريکا متحده ايالاتو کې د ولسمشر ترڅنګ کانګرس هم د بهرني سياست په تصميم نيونه کې شريک دی او دويم دا چې د يوه دولت مشر د يوې نړيوالې مسئلې د حل او د هغې په اړه د تصميم نيونې لپاره يو کمېسيون يا ګروپ جوړ کړی وي، د بېلګې په ډول د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر کېنېډي د کېوبا د ميزايلو بحران د حل لپاره د ولسمشر کېنېډي اجرايوي کمېټه ( President Kennedy's Executive Committee (EXCOM)) رامنځته کړې وه تر څو دغه بحران حل او په اړه يې تصميم ونيسي.

د افغانستان په تېر شل کلن جمهوريت کې له دې ډول تصميم نيونې څخه ګټه اخيستل کېده، ځکه له يوې خوا ولسمشر او له بلې خوا پارلمان او کابينه د بهرني سياست په تصميم نيونه کې سره شريک وو. ځينې نړيوال تړونونه له پارلمان څخه تصويبېدل، د جنګ او سولې د اعلان اجازه پارلمان ورکوله او د بهرني سياست په ځينو نورو مهمو مسايلو کې ولسمشر د کابينې پرېکړو ته احترام کاوه او هغه يې پلې کولې، خو دا چې اسلامي امارت تر اوسه اساسي قانون نه دی تدوين کړی، نو ځکه نشو ويلای چې د بهرني سياست په تصميم نيونه کې به کومو ارګانونو ته واک ورکول کېږي.

**۳- ايتلافي تصميم نيونه** (Coalition Decision Making)

کله چې په يو دولت کې ايتلافي حکومت رامنځته او په بهرني سياست کې تصميم نيونه ترسره کړي، دې ته ايتلافي تصميم نيونه ويل کېږي، د بېلګې په ډول په پاکستان کې اوسمهال يو ايتلافي حکومت دی چې پي ډي ايم( Pakistan

(Democratic Movement(PDM ورته ویل کېږي او یا هم په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت چې یو ایتلافي حکومت و. له دویم ډول سره یې توپیر په دې کې دی چې هلته د بهرني سیاست په اړه په اجرایه قوه کې اختلاف نشته یوازې کېدای شي مقننه قوه پارلمان یا کانګرس له ولسمشر سره مخالفت وکړي، خو په ایتلافي تصمیم نیونه کې اجرایه قوه له څو مخالفو ګوندونو یا اړخونو څخه جوړه شوې ده چې د بهرني سیاست په اړه خپله د اجرایه قوې په برخه کې هم اختلافات موجود دي، د بېلګې په ډول په ملي وحدت حکومت کې ولسمشر اشرف غني و، خو بهرنیو چارو وزارت د عبدالله عبدالله رسېدلی و او صلاح الدین رباني د بهرنیو چارو وزیر په توګه څو ځلې د اشرف غني فرمانونه رد کړي او د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې یې د عبدالله عبدالله په امر ورسره مخالفت کړی دی.که ایتلافي بهرنی سیاست بریالی شي، نو ایتلافي اړخونه دعوه کوي چې زما له امله بریالی شوی دی، خو که ناکام شي، نو د ناکامۍ پړه بیا پر یو او بل اچوي.[11]

د ایتلافي تصمیم نیونې یو اړخ دا هم دی چې کله یو دولت یا دولتونه په نړیوالو امنیتي یا اقتصادي اتحادونو کې یوځای شي، نو بیا اړ دي چې د هماغه اتحاد پرېکړې هم په بهرني سیاست کې تطبیق کړي، د بېلګې په ډول ترکیه د ناټو امنیتي اتحاد غړې ده، ناټو پرېکړه وکړه چې پر افغانستان یرغل کوي، نو ترکیه باید په خپل بهرني سیاست کې دا تصمیم ونیسي چې افغانستان ته راشي چې د ترکیې دې ډول تصمیم ته په بهرني سیاست کې ایتلافي تصمیم نیونه ویل کېږي.

همدارنګه په افغانستان کې تېر شل کلن جمهوري دولت له ناټو بهر د امریکا متحده ایالاتو د متحدینو له ډلې څخه و او اړ و چې په بهرني سیاست کې د امریکا متحده ایالاتو ځینې پرېکړې عملي کړي، چې دې ته په بهرني سیاست کې ایتلافي تصمیم نیونه ویل کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت حکومت ايتلافي نه دی او نه هم د کوم نړيوال امنيتي ايتلاف غړی دی او بهرنی سياست يې بېطرفه دی، له همدې امله ويلای شو چې اسلامي امارت د بهرني سياست له دې ډول تصميم نيونې څخه ګټه نه اخلي.

## په بهرني سياست کې د تصميم نيونې چاپيريال

د تصميم نيونې يوه ستونزه داده چې د يوې موضوع په اړه چارواکو ته د پرېکړې پر مهال څو ډوله بديلونه مخې ته پراته وي، د بېلګې په ډول دا چې پر يو هېواد بريد وکړي که بنديزونه پرې وضعه کړي او که هېڅ هم ونکړي؛ يا له يو هېواد سره ډيپلوماتيکې اړيکې پرې کړي او که په خپل هېواد کې د هغوی پر هر ډول فعاليت بنديز ولګوي؛ د دې ستونزې د حل لپاره اړينه ده چې لومړی د تصميم نيونې چاپيريال مطالعه شي او له هغې وروسته تصميم ونيول شي؛ تر څو له چاپيريال څخه د ناخبرۍ په صورت کې داسې پرېکړې ونشي چې بيا پښېمانۍ او ملت ته زيان ولري.

د تصميم نيونې پرمهال بايد د وخت او معلوماتو محدوديت، د حالاتو مبهموالی، د مخکنيو پرېکړو تجربې، خطر، فشار او ملت ته د خپلو پريکړو حساب ورکونه په نظر کې ونيول شي، چې دلته پر هر يوه باندې لنډ بحث کوو.

### ۱- د وخت محدوديت (Time Constraints)

د تصميم نيونې پرمهال بايد د وخت محدوديت مطالعه شي، ځينې وخت له چارواکو سره ډېر وخت موجود وي تر څو تصميم ونيسي چې دا نارمل يا عادي حالت دی او کېدای شي چې د تصميم نيونې نور اړخونه په هر اړخيز ډول مطالعه شي او بيا تصميم ونيول شي، خو ځينې مهال وخت کم وي او بايد عاجل تصميم ونيول شي چې دا حالت بيا بحراني حالت دی او پر چارواکو د وخت فشار رامنځته کېږي، ځکه که په خپل وخت پرېکړې ونشي، کېدای شي چې د دولت حيثيت او ملي ګټو ته زيان ورسېږي. البته يادونه بايد وکړو چې د وخت محدوديت هېڅکله دا

معنی نه لري چې حتماً به په کې خرابې پرېکړې کېږي، ځینې وخت د مشرانو ذکاوت او تدبیر دومره قوي وي چې په لنډ وخت کې ډېرې ښې پرېکړې کوي او بل د وخت محدودیت ګټه دا ده چې د دولت مشران خپل ټول پام همدې یوې برخې ته اړوي چې دا پاملرنه د یوې ښې پرېکړې لامل کېږي.

دا چې اسلامي امارت تر اوسه په رسمیت نه دی پېژندل شوی، نو هره ورځ دې ته اړتیا ده چې په بهرني سیاست کې داسې تصمیمونه ونیول شي چې هغه رسمیت پېژندنې ته لاره هواره کړي او ډېر کله کېدای شي ځینې تصمیمونه د وخت له محدودیت سره مخامخ وي، نو په کار ده چې مشران د وخت د محدودیت په وخت کې بهرني سیاست ته ځانګړې پاملرنه وکړي او په ډېر دقت سره مخ ته لاړ شي، ځکه کېدای شي چې له یوه هېواد سره ډېر نږدېوالی پر بل هېواد منفي اغېز وکړي او د رسمیت پېژندنې په مخ کې خنډ واقع شي، د بېلګې په ډول له چین او روسیې سره په امنیتي برخه کې په نږدېوالي کې باید ډېر احتیاط وشي ځکه امریکا متحده ایالات عملاً له روسیې سره په اوکراین او له چین سره په تایوان کې سیالۍ لري، یا له تایوان سره د چین له ناخبرۍ پرته اړیکې نیول د چین د (One China Policy) خلاف کار دی او کېدای شي د اسلامي امارت او چین ترمنځ ستونزې پیداکړي او دا ډول تصمیمونه اکثره وخت د وخت له محدودیت سره مخامخ وي، نو د وخت د محدودیت چاپېریال باید مطالعه شي او له هغې وروسته دقیقې پرېکړې وشي.

**۲- د معلوماتو محدودیت (Information Constraints)**

د یو هېواد په بهرني سیاست کې تصمیم نیونکي چارواکي او ارګانونه دقیقو او پراخو معلوماتو ته اړتیا لري تر څو د همدغو معلوماتو په رڼا کې د اړوند دولت پر وړاندې تصمیم ونیسي. که د یو هېواد په اړه د ډاډ وړ او پراخ معلومات موجود نه وي، نو په بهرني سیاست کې تصمیم نیونکو ته دا ډېره ستونزمنه کېږي چې د

پرېکړو څو اړخونه او بديلونه تحليل او بيا پر يو اړخ تصميم ونيسي، ځکه چې معلومات نه وي، نو طبيعي خبره ده چې بېلابېل اړخونه او بديلونه به هم موجود نه وي او پرته له دقيقو معلومات تصميم نيونه کېدای شي د هېواد په زيان تمامه شي.

د نورو هېوادونو په اړه دقيق معلومات کېدای شي له بېلابېلو لارو څخه ترلاسه شي، خو د هېواد استخباراتي اداره او په نورو هېوادونو کې سفارتونه د دغه ډول معلوماتو په راټولولو کې تر ټولو مهمه ونډه لري.

دلته يوه خبره د يادولو وړ ده چې په سفارتونو او استخباراتي ادارو کې بايد د دولت د ډاډ وړ کسان وګومارل شي، ځکه ځينې وخت په قصدي ډول د دولت مشرانو ته ناسم معلومات ورکول کېږي او کېدای شي دا دوه لامله ولري، يو دا چې دا ډول خلک غواړي د دولت مشر ته چاپلوسي وکړي او هغه معلومات چې د دولت د رهبرۍ پر ضد وي، هغه نه ورکوي او دويم دا چې ځينې وخت ډېر مهم او حساس معلومات قصداً له ځانه جوړېږي، تر څو د دولت د رهبرۍ پاملرنه راجلب کړي او د هغوی په مخکې ځان مشهور کړي، نو ځکه بايد معلومات له داسې اشخاصو ترلاسه شي چې د ډاډ وړ وي، ځکه د همدوی د معلوماتو پر بنسټ تصميم نيول کېږي.

د ويتنام په جګړه کې د امريکا متحده اياالاتو ولسمشر جونسن ته همداسې ناسم معلومات ورکول کېدل او هغه به هر وخت رسنيو او پلويانو ته ويل چې دا جګړه له پلان سره سمه روانه ده او د همدغو معلوماتو پر بنسټ نوموړي تصميم نيوه چې له امله يې جګړه وبايلله.[١٢]

د افغانستان اسلامي امارت فعلاً د معلوماتو له سخت محدوديت او کمښت سره مخامخ دی، ځکه له يوې خوا يې د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې سفارتونه بند دي او له بلې خوا د استخباراتي ادارو کارکوونکي هم نشي کولای چې په خلاص مټ نورو هېوادونو ته سفرونه وکړي او بيا له هغه ځايه د اړوند دولت په اړه معلومات خپل هېواد ته راولېږي، نو اسلامي امارت بايد د سفارتونو د تسليمۍ په اړه د سيمې

له نورو هېوادونو او ان د نړۍ له ځینو هېوادونو سره جدي مذاکرات وکړي، تر څو سفارتونه ترلاسه او د اسلامي امارت په اړه د هغه هېواد د بهرني سیاست په اړه دقیق معلومات ترلاسه کړي چې اسلامي امارت د همدغو معلوماتو پر بنسټ دقیق بهرنی سیاست تنظیم او په تصمیم نیونه کې ترې ګټه واخلي.

**۳- د مخکنیو ورته پرېکړو تجربې(Familiarity with Previous Decisions)**

ځینې وخت په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه پر پخوانیو تجربو ولاړه وي، یعنې کله چې د یوې موضوع په اړه تصمیم نیونې ته اړتیا وي او چارواکي وګوري چې دا موضوع کومې پخوانۍ موضوع ته ورته ده او هلته چې یې کوم تصمیم نیولی هغه بریالی وي، نو دوی پرته له دې چې د بهرني سیاست د تصمیم نیونې چاپیریال مطالعه کړي هماغې پخوانۍ تجربې ته په کتو ورته تصمیم نیسي. د دې ډول تصمیم نیونې بنسټیز لامل دا دی چې تصمیم نیونکي فکر کوي چې پخوا دا ډول تصمیم بریالی و، نو دا ځل به هم بریالی شي.

په دې ډول تصمیم نیونه کې چارواکي نه غواړي یو ځل بیا د تصمیم نیونې چاپیریال په ارزیابي کولو سره وخت ضایع کړي، بلکې په عاجل ډول تصمیم نیسي او پر هماغو پخوانیو مطالعاتو او ارزونو بسنه کوي. دا ډول تصمیم نیونه په اصولي ډول سمه نه ده، ځکه د وخت په تېرېدو سره د هېوادونو شرایط، حالات او بهرنی سیاست توپیر کوي او که پر هماغو پخوانیو شرایطو او حالاتو تصمیم ونیول شي، نو شونې ده چې تصمیم نیونه غلطه شي او هېواد یې د دې ډول تصمیم نیونې له امله له ستونزو سره مخامخ شي، البته دا هم نشو ویلای چې دا ډول تصمیم نیونه به په بشپړ ډول غلطه ثابته شي، کېدای شي دا ځل بیا هماغه ورته تصمیم نیونه بریالۍ شي، خو د دې امکان ډېر کم وي او باید هر وار د تصمیم نیونې لپاره چاپیریال، حالات او شرایط مطالعه او ارزیابي شي او بیا د همدغو مطالعاتو پر بنسټ پرېکړه وشي.

د اسلامي امارت بياځلي واکمنۍ کې لوی مثبت توپير دا دی چې په بهرني سياست کې د تېرې دورې هغه پرېکړې چې د دوی پر حکومت يې منفي اغېزې کړې وې او د سيمې هېوادونو ورسره اړيکې په مکمل ډول پرې کړې وې، دا ځل يې تکرار نه کړې او دا ځل غواړي چې د امريکا متحده ايالاتو په ګډون د نړۍ او سيمې له هېوادونو سره مثبتې اړيکې ولري، خو د تصميم نيونې دې برخې ته هم بايد پام وکړي چې کېدای شي په تېر يا اوسني دور کې د يو هېواد په اړه يې پرېکړه مثبته وي او بهرنی سياست يې بريالی شوی وي، خو که ورته موضوع سره بيا مخامخ کېږي، نو ښه داده چې بياځلي د تصميم نيونې چاپيريال، حالات او شرايط مطالعه او ارزيابي شي او له هغې وروسته پرېکړه وشي.

**۴- د متقابل تصميم نيونې چاپيريال ( Interactive Decision Making Environment)**

په بهرني سياست کې تصميم نيونه کله د يو بل هېواد د مشر د يوې پرېکړې يا وينا په مقابل کې وي او دا د تصميم نيونې احساساتي برخه ده چې بايد ډېر احتياط پکې وشي. کله داسې هم کېږي چې د يو هېواد مشر يا د ټول حکومت پر وړاندې د پرېکړې پرمهال د احساساتو له امله د تصميم نيونې چاپيريال نه مطالعه کېږي چې له امله يې احساساتي پرېکړه کېږي او دا کېدای شي پښېماني ولري او يا هم کېدای شي دا ډول پرېکړه د هېواد د ملي ګټو خلاف وي.

د دې ډول پرېکړې ښه بېلګه په وروستيو کې د اسلامي امارت له لوري په سويډن کې د قران سوځېدلو په غبرګون کې په افغانستان کې د سويډن پر هر ډول فعاليتونو بنديز دی.

**۵- په تصميم نيونه کې د خطر قبلول**

د بهرني سياست د تصميم نيونې په چاپيريال کې بله موضوع د خطر قبلول دي. کله داسې هم کېږي چې د يوې موضوع يا يو هېواد په اړه هېڅ معلومات موجود نه وي

او یا هم مبهم یا بېلابېل معلومات راټول شوي وي، نو په داسې حالت کې تصمیم نیونه د خطر قبلول دي. خطر په دوه ډول دی، یو په لوړه کچه او بل هم په ټیټه، په لوړه کچه خطر قبلولو کې ګټه او زیان دواړه په لوړه کچه وي او په ټیټه کچه خطر قبلولو کې ګټه او زیان هم په ټیټه کچه کې وي. لنډه دا چې د تصمیم نیونې پرمهال یو حالت داسې هم راځي چې باید چارواکي یا د دولت مشر خطر قبول کړي او یو تصمیم ونیسي.

دا چې د افغانستان اسلامي امارت د نړیوالو له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی او د اسلامي امارت سفارتونه او استخباراتي ادارې چې معلومات راټولونکې ادارې دي په کم شمېر هېوادونو کې فعالیت لري، نو د اسلامي امارت د تصمیم نیونې چارواکي د نړۍ د اکثرو هېوادونو په اړه معلومات نه لري، طبیعي ده چې په داسې حالت کې د یو هېواد په اړه تصمیم نیونه له خطر څخه خالي نه ده.

**٦- د فشار په حالت کې تصمیم نیونه**

کله چې غوښتنه په ظرفیت باندې لوړه شي، نو فشار رامنځته کېږي.[۱۳] ځینې وخت نړیوال بحرانونه رامنځته کېږي او یو هېواد اړ دی چې په اړه یې چمتووالی او تصمیم ونیسي او که دا کار ونکړي، نو کېدای شي دا بحرانونه په داسې یو حالت بدل شي چې اړوند هېواد ته زیان ورسوي.

روبرټ منډل په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پرمهال د فشار لاملونه د وخت محدودیت، د شرم احساس او ژوره اندېښنه بولي.[۱۴] د بېلګې په ډول د یو هېواد ولسمشر د بل هېواد ولسمشر ته د یوې موضوع په اړه پېغور ورکوي او د دې پیغور په مقابل کې ولسمشر د شرم احساس کوي او د خپل شرم احساس له امله تر فشار لاندې راځي او اړ کېږي چې د هغه په مقابل کې تصمیم ونیسي، دا چې دا تصمیم تر فشار لاندې نیول شوی، نو کېدای شي د هېواد په زیان تمام شي. د فشار له امله کېدای شي تصمیم نیونکی پرته له دې چې د تصمیم نیونې چاپېریال مطالعه او ارزیابي کړي

تصمیم ونیسي، چې له امله یې کېدای شي غلط تصمیم ونیول شي. همدارنګه فشار د وارخطايي، د پاملرنې کموالي او د غلطیو د زیاتوالي له امله کېږي[۱۵] او دا کړنې د تصمیم نیونې پرمهال غلطې پایلې لري.

البته ځینو څېړنو ښودلې چې د کم فشار موجودیت د یو ښه تصمیم نیونې لامل کېږي. جېنس او مېن لیکلي: که د یوې مهمې پرېکړې پرمهال متوسط فشار موجود وي، نو کېدای شي چې د تصمیم نیونې لپاره ډېر مهم بدیلونه رامنځته شي او دا متوسط فشار د یوې ښې پرېکړې لامل شي. همدارنګه مکډېرمټ وايي: ځینې وخت د فشار موجودیت په دماغ کې د ځینو هورمونونو د فعالېدو لامل کېږي چې له امله یې لنډمهاله فعالیت پیاوړی کېږي[۱۶]او په پایله کې ښه تصمیم نیول کېږي.

لنډه دا چې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پرمهال باید فشار مدیریت شي او د فشار له امله وارخطايي او ژورې اندېښنې ته په ښه ډول ځواب وویل شي او که دا فشار مدیریت نشي، نو کېدای شي یو غلط تصمیم ونیول شي. د بېلګې په ډول که په پرتلیز ډول ووایو د امریکا متحده ایالاتو غوښتل چې د چین او روسیې د پرمختګ مخ کې خنډ پیداکړي تر څو په بین المللي نظام کې د دوی موقف کمزوری کړي، نو د دواړو لپاره یې پلان دا و چې د روسیې پښې د اوکراین جګړې او د چین پښې د تایوان جنګ ته راکش کړي او د دې کار لپاره یې دواړو هېوادونو ته فشارونه رامنځته کړل. اوکراین په ناټو او اروپایي ټولنه کې د ګډون چغې ووهلې او تایوان ته لوړ پوړو امریکايي چارواکو سفرونه وکړل تر څو چین او روسیه تر فشار لاندې ناسمه پرېکړه وکړي او هماغه و چې روسیې پر اوکراین حمله وکړه او تر نن ورځې پورې له دې جګړې څخه کړېږي، خو چین فشار مدیریت کړای شو او تراوسه د تایوان موضوع د خبرو له لارې حل کول غواړي.

اسلامي امارت هم باید په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پرمهال د فشار چاپیریال مطالعه او ارزیابي کړي او هڅه وکړي چې د فشار پرمهال له حوصلې کار واخلي

او فشار په ښه ډول مدیریت کړي تر څو د فشار له امله نیول شوې پرېکړې هېواد ته په زیان تمامې نشي.

په پای کې باید یادونه وکړو چې په بهرني سیاست کې تصمیم د ملي ګټو په چوکاټ کې نیول کېږي او کله چې د افغانستان لپاره د ملي ګټو خبره کېږي، نو دا باید په یاد ولرو چې افغانستان د مسلمانانو هېواد دی او فعلاً په کې یو اسلامي نظام حاکم دی، نو ملي ګټې هم باید د اسلامي شریعت په چوکاټ کې ترتیب او ولیکل شي. که اسلامي احکام وپلټل شي، نو د ملي ګټو په اړه دوه خبرې ډېرې مهمې دي:

**لومړی:** د نامسلمانو هېوادونو لپاره کېدای شي ملي ګټې یوازې مادي ګټې وي او بهرنی سیاست یې یوازې د مادي ګټو د لاسته راوړلو لپاره ترتیب شوی وي، خو په اسلامي شریعت کې ملي ګټې د مادي ګټو سربېره معنوي ګټو ته هم شاملېږي.[۱۷]

**دویم:** په اسلامي شریعت کې ملي ګټې د اسلامي مصالحو سره معادل دي. مصالح له لغوي اړخه د مصلحت جمعه او د مفسدې ضد کلمه ده. ابن منظور په لسان العرب کې لیکلي: (الصلاح: ضدالفساد) یعنې مصلحت یا اصلاح د فساد ضد دی. په اصطلاح کې امام غزالي رح وایي: (المصلحة هی عبارة فی الاصل عن جلب منفعة او دفع مضرّة) یعنې مصلحت د ګټې جلبول او د ضرر دفع کول دي.۱۸ امام غزالي د مصلحت د تعریف وروسته د مصلحت موخه د شریعت د مقاصدو حفاظت او ساتنه ښایي او د شریعت مقاصد په پنځه ډوله دي: دین، نفس، عقل، نسل او مال. یعنې د امام غزالي په نظر د دغه پنځو شیانو ساتنه د مصلحت موخه ده.۲۹

بله مهمه موضوع چې دلته یې یادونه وکړو هغه داده چې مصلحت هغه مهال مطرح کېږي کله چې د یوې موضوع په اړه د قران او احادیثو قطعي حکم موجود نه وي، که یوې موضوع اړه قطعي حکم موجود وي هلته د هغه حکم تطبیق فرض دی او مصلحت ته په کې کوم ځای نه پاتې کېږي، یعنې داسې نشي کېدای چې یو قراني حکم موږ په خپل

اجتهاد د مصلحت خلاف وګڼو او ظاهري یو عمل مصلحت یا ملي ګټه وګڼو، ځکه الله تعالی فرمايي: (...عَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئاً وَ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَ عَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئاً وَ هُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَ اللَّهُ يَعْلَمُ وَ أَنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ)[۲۰] یعنې ځینې شیان تاسې د ځان لپاره ښه نه ګڼې، خو په هغې کې خیر وي او ځینې شیان تاسې د ځان لپاره ښه ګڼې، خو په هغې کې شر وي، نو الله تعالی پوهېږي او تاسې نه پوهېږي.[۲۱]

یعنې هغه څه چې الله تعالی پر وړاندې ښه دي هماغه مصلحت او ملي ګټې دي او هغه څه چې د الله تعالی پر وړاندې بد دي هغه مفسده او د ملي ګټو خلاف دي او همدغه موضوع باید اسلامي امارت په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پرمهال په پام کې ونیسي.

**پایله**

د افغانستان اسلامي امارت اوسمهال مدون بهرنی سیاست نه لري تر څو معلومه شي چې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې له کومو اصولو پیروي کوي، خو په عملي ډول کولای شو ووایو چې اسلامي امارت د بهرني سیاست په تصمیم نیونه کې د متقابل اغېز لرونکې تصمیم نیونې، مذاکراتي تصمیم نیونې، ناڅاپي تصمیم نیونې او د یوه شخص له لوري تصمیم نیونې څخه ګټه اخلي.

همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د نړیوالو له لوري په رسمیت نه دی پېژندل شوی چې له امله یې په اکثرو هېوادونو کې سفارتونه نه دي ترلاسه کړي، سفارتونه په نورو هېوادونو کې د معلوماتو راټولو یوه مهمه سرچینه ده چې اسلامي امارت ترې بې برخې دی او له همدې امله نشي کولای د دقیقو معلوماتو پر بنسټ د نورو هېوادونو په مقابل کې بهرنی سیاست ترتیب کړي. همدارنګه په بهرني سیاست کې د اسلامي امارت اکثره پرېکړې په متقابل تصمیم نیونې ولاړې دي او له بلې خوا د نړیوالې ټولنې له لوري د فشار لاندې هم دی چې کېدای شي د دې فشار له امله داسې پرېکړې وکړي چې له خطر څخه به خالي نه وي، نو د دې لپاره چې په بهرني سیاست کې تصمیم نیونه دقیقه ترسره

شي، اسلامي امارت باید په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې چاپیریال دقیق مطالعه او ارزیابي کړي او له هغې وروسته تصمیم ونیسي.

د مدون بهرني سیاست نشتون د هېواد په زیان تمامېږي ځکه که مدون بهرنی سیاست نه وي، نو د بهرنی پالیسی لیکوونکي او پلي کوونکي له ګډوډی سره مخامخ کېږي او تر ډېره خپلسری ته لار پرانېستل کېږي، البته په عملي ډول د افغانستان د اسلامي امارت اوسنی بهرنی سیاست چې په لنډمهاله بېطرفی او اقتصاد محوری ولاړ دی تر ډېره ګټور دی.

**وړاندیزونه**

۱- اسلامي امارت دې مدون بهرنی سیاست رامنځته او په هغې کې د بهرني سیاست ټول اصول او کړنلارې ځای پر ځای کړي.

۲- د ځینو داخلي او بهرنیو ستونزو له حل وروسته دې اسلامي امارت ډله ییزه یا ګروپي تصمیم نیونه غوره کړي.

۳- اسلامي امارت دې په نړیوالو تعاملاتو کې د تقابل پرځای له تعامل کار واخلي، تر څو په رسمیت وپېژندل شي او بیا په هر هېواد کې خپل سفارت ترلاسه کړي او د دغو سفارتونو له لارې دقیق معلومات راټول او بیا د هماغو معلومات پر بنسټ دقیق بهرنی سیاست ترتیب کړي.

۴- اسلامي امارت دې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې چاپیریال دقیق مطالعه او ارزیابي کړي او بیا دې له همدې لارې په بهرني سیاست کې د تصمیم نیونې پرمهال فشار او وخت مدیریت او د پرېکړو پرمهال دې په لوړه کچه خطر نه قبلوي.

## مأخذونه

1- Alex Mintz and Karl Derouen. "Understanding Foreign Policy Decision Making", Cambridge University, 2010, P. 15.

2- Ibid, P. 16.

3- Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

4- Alex Mintz and Karl Derouen. "Understanding Foreign Policy Decision Making", Op. Cit., P. 16.

5- Ibid.

6- Kristian Berg Harpviken. "The Foreign Policy of the Afghan Taliban", Peace Research Institute Oslo (PRIO), Feb 2021, P. 3. Access link: https://www.prio.org/publications/12644

7- Walker, Stephen and Schafer, Mark. (Forthcoming). "Operational Code Analysis and Foreign Policy Decision-Making." In Advances in Foreign Policy Analysis, ed. Alex Mintz and Steven B. Redd, P. 2.

8- Bojang As. "The Study of Foreign Policy in International Relations", Op. Cit, P. 7.

9- Hermann, Margaret, Preston, Thomas, Korany, Baghat, and Shaw, Timothy. "Who Leads Matters: The Effects of Powerful Individuals." International Studies Review 3(2), 2001, P. 83–132. CrossRefGoogle Scholar

۱۰- بهاره سازمند. سیاست خارجی قدرتهای بزرگ، مؤسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر، تهران، ۱۳۹۰هـ.ش، ص ۲۴ او ۲۵.

11- Michael, Ireland and Gartner, Scott. "Time to Fight: Government Type and Conflict Initiation in Parliamentary Systems." Journal of Conflict Resolution, 2001, P. 551. Google Scholar.

12- Alex Mintz and Karl Derouen. "Understanding Foreign Policy Decision Making", Op. Cit., P. 26.

13- Jonathan Renshon and Stanley Renshon. "The Theory and Practice of Foreign Policy Decision Making." Political Psychology، 2008, P. 512, CrossRefGoogle Scholar

14- Robert Mandel. "Psychological Approaches to International Relations." Political Psychology, 1986, P. 257.

15- Ibid.

16- Rose McDermott. "Political Psychology in International Relations", Ann Arbor, MI: University of Michigan Press, 2004, P. 173- 177. CrossRefGoogle Scholar.

۱۷- محمد ابراهیم روشن ضمیر و علی ریحانی اسدآباد. جایگاه منافع ملی در سیاست خارجی از منظر قرآن، فصلنامه علمی – پژوهشی سیاست متعالیه، سال ۷، شماره ۲۷، زمستان ۱۳۹۸، ص ۱۵.

۱۸- حمزة بن عبدالعزیز المجاطي. مقدمة في التعریف بعلم مقاصد التشریع، الالوکة الشرعیة، ۲۰۱۴ میلادي، د لاسرسي وړ:

/https://www.alukah.net/sharia/0/71800

۱۹- سمیه منبری. مقاصد شریعت از دیدگاه امام غزالی، پایان نامه، ۱۳۹۲هـ.ل.، ص ۱. د لاسرسي وړ:

https://research.uok.ac.ir/~safsari/ViewResearch.aspx?ResearcherID=50491

۲۰-البقره سورت ۲۱٦ نمبر ایت.

۲۱- محمد ابراهیم روشن ضمیر و علی ریحانی اسد آباد. جایگاه منافع ملی در سیاست خارجی از منظر قرآن، ص ۱۴-۱۵.

څېړندوی عبدالخالق فردوس

# په اذربایجان کې د ایران نرم ځواک؛ فرصتونه او ننګونې

# Iran’s Soft Power in Azerbaijan; Opportunities and Challenges

Asst. Prof. Abdul KHaliq Ferdaus

**Abstract**:

Cultural relation between countries at the international level leads to the strengthening of the countries’ soft power; for this purpose, this point has been given an important rank in foreign policies of the states, governments nowadays are investing more in this area than before. Iran which is a neighboring country of Azerbaijan, has made special investments in this area in order to strengthen its cultural influence and soft power in Azerbaijan, which is considered the second largest Shite country in the world after Iran. For this purpose, Iran’ Ministry of Foreign Affairs or various other organizations related to media and non-governmental organizations such as the Islamic Culture and Relation Organization and Sadi Foundation are putting efforts to promote certain educational, religious, cultural and linguistic (Persian literature) goals based on educational programs to dominate the neighboring country with Shia religion and increase its political – religious allies in the region. According to the Iranian policy makers, systems implicated in the region by Iran’ political ideology can have a positive impact on the security and stability of the region and Iran.

**لنډیز**

په بین المللي کچه د فرهنګي اړیکو پالل دهېوادونو د نرم ځواک د پیاوړتیا سبب ګرځي؛ نو په همدې موخې دغه ټکي ته د هېوادونو په بهرنیو پالیسیو کې ځانګړی ځای ورکړل شوی او د پخوا په پرتله اوسمهال هېوادونه په دې برخه کې ډېره پانګونه کوي؛ ایران چې د جنوبي قفقاز په سیمه کې د پروت اذربایجان ګاونډی هېواد شمېرل کېږی هم په دې برخه کې ځانګړې پانګونه کړې ترڅو د سیمې د نورو هېوادونو ترڅنګ په اذربایجان کې چې له ایران وروسته په مذهبي لحاظ په نړۍ کې دویم ستر شیعه مذهبه هېواد شمېرل کېږي فرهنګی نفوذ او نرم ځواک پیاوړی کړي؛ په همدې موخه په دې هېواد کې د ایران دولتي سازمانونه لکه د بهرنیو چارو وزارت یا د ایران مختلفې رسنیزې ادارې او غیر دولتي سازمانونه لکه د اسلامی اړیکو او فرهنګ د پیاوړتیا سازمان او سعدي بنسټ فعالیتونه کوي؛ ترڅو د تعلیمي ـ تحصیلي، دیني ـ مذهبي، فرهنګي او د فارسي ژبې او ادبیاتو د زده کړې د برنامو په پلي کولو سره و کولای شي؛ دغه هېواد ته په شیعه مذهب ولاړه اسلامي ـ سیاسي ایډیالوژي ولېږدوي چې په سیمه کې خپل سیاسي ـ مذهبي متحدین زیات کړي؛ د ایران د پالیسۍ جوړوونکو له نظره په سیمه کې کې د ایران د سیاسي لید څخه اغېزمن نظامونه کولای شي د سیمې او ایران پر امنیت او ثبات مثبته اغېزه وکړي.

**سریزه**

په ۱۹۹۱ز.کال کې د شوروي اتحاد د ړنګېدو وروسته په جنوبي قفقاز کې د ایران سره د ګډې پولې په لرلو سره څو نوي دولتونو رامنځته شول؛ چې یو له هغوی څخه د اذربایجان جمهوریت دی، چې له ایران سره د ګډې پولې سربیره لرلو سربېره تاریخي، قومي، دیني او فرهنګي مشترکات لري؛ له

تاریخي اړخه دغه جمهوریت له ایران سره یوځای د فارس د امپراتورۍ یوه برخه وه؛ چې اکثریت وګړي یې مسلمانان یو شیعه مذهبه دي او د دې هېواد اکثره وګړي اذري ټبره دي؛ چې د وګړو د شمېر له مخې دغه قوم په ایران کې له فارسیانو وروسته دویم مقام لري سربېره پر دې دواړه هېوادونه په یو شمیر نړیوالو سازمانونو لکه د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) او د اسلامي همکاریو سازمان (OIC ) کې بشپړ غړیتوب لري او همدارنګه د طبیعي سرچینو له اړخه په جنوبي قفقاز کې له نورو پرتو جمهوریتونو غني هېواد شمېرل کېږي؛ له همدې فرصتونو څخه په ګټه پورته کولو ایران هڅې پیل کړې ترڅو اذربایجان سره سیاسي ولري او په دې هېواد کې خپل نفوذ پیاوړی کړي؛ دغې موخې ته د رسېدو لپاره ایران له دې هېواد سره د فرهنګي اړیکو پیاوړتیا د اذربایجان پر وړاندې د ایران د بهرنۍ پالیسۍ په سر کې ځای پیدا کړ او په تعلیمي - تحصیلي، دیني او فرهنګو برخو کې یې له اذربایجان سره همکارۍ پیل کړې.

د سیمې د هېوادونو د اړیکو په ځانګړې توګه د فرهنګي اړیکو څېړل نه یواځې داچې د سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو د مطالعې د مینه والو د پوهنیزې کچې د لوړېدو په موخه اهمیت لري؛ بلکې د هېواد د ډیپلوماسۍ دستګاه په ځانګړې توګه زموږ د هېواد ځوانو ډیپلوماتانو ته خام مواد په لاس ورکوي؛ ترڅو په مطالعه کولو سره یې ترې په عملي ډګر کې ګټه پورته کړي؛ په دې څېړنه کې هڅه شوې چې په اذربایجان کې د ایران نرم ځواک د پیاوړتیا بېلابېل میتودونه و څېړل شي او په دې برخه کې شته فرصتونه او ننګونې په ګوته شي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره د دې څېړنې پوښتنې په دې ډول مطرح شوې چې د پورته یادو شویو مشترکاتو په لرلو سره په اذربایجان کې د ایران د نرم ځواک حالت څرنګه دی؟ په اذربایجان کې د ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا فرصتونه او

ننګونې کومې دي؟ دې پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره دا څېړنه له تحلیلي او توصیفي میتود څخه په ګټې اخیستنې پیل شوې او د څطړنې د پیلېدو د مخه داسې انګېدل شوي چې ایران به په اذربایجان کې د تاریخي، قومي ژبني او دیني مشترکاتو په لرلو سره پیاوړی نرم ځواک ولري.

**نرم ځواک یا Soft Power**

نن ورځ د هېوادونو د بین المللي اړیکو په برخه کې د نرم ځواک مفهوم هم په عملي ډګر کې د دولتونو د بهرني سیاست د تطبیق او تعقیب ادارو او سازمانونو او په علمي ډګر کې د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو د پوهانو ترمنځ د پاملرنې وړ مفهوم ګرځېدلی دی. دولتونه هڅه کوي ترڅو د د نظامي توان له ګټه پورته کولو پرته خپله ارادې په داسې توګه په نورو هیوادونو تحمیل کړي ترڅو له هرڅه د مخه د هغوی ذهن او زړونه ترلاسه کړي.[1]

د ځواک له کارونې څخه که هغه نظامي ځواک وي یا نرم ځواک اساسي موخه داده ترڅو یو ځانګړی هېواد د یوه کار په کولو یا نه کولو اړ کړي؛ په نظامي ځواک کې د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره له پوځي امکاناتو ګټه اخیستل کېږي؛ خو د دې بر عکس اوسمهال دولتونه فکر کوي، چې په پوځي توګه د نورو هېوادونو نیول او پر هغوی حکومت کول له ډېرو ستونزو سره مخ دي؛ همدې ټکي ته په پام دولتونه هڅه کوي ترڅو د خپل موخو د ترلاسه کولو او د ځان په ګټه د نورو ټولنو د ژر قانع کېدو لپاره د هغوی پاملرنه په ذهني توګه ترلاسه کړي؛ چې دغه چاره په نور هېوادونو کې د رسنیزو فعالیتونو، تحصیلي پروګرامونو د برابرولو، دیني او فرهنګي مشترکاتو ته وده ورکولو او هم د اقتصادي پروګرامونو د تطبیق پر اساس ترلاسه کېدای شي.

**د نرم ځواک د پیاوړتیا په موخه د ایران ښکېل سازمانونه او ادارې**

ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره د خپل هېواد له ځو اړخیز هویت او کلتور څخه ګټه پورته کوي؛ دغه هېواد د اسلامی انقلاب له بریا وروسته په نورو هېوادونو کې د نرم ځواک د زیاتوالي لپاره بېلابېلې وسیلې کاروي لکه پان اسلامیزم، ټرانس نیشنلیزم او د اسلامي انقلاب د مفکورې لېږد؛ چې د دولت د پالیسۍ مهم اړخونه ګڼل کېږي او پر اساس یې د ایران نرم ځواک پیاوړی کوي، دغه پالیسي د دوه ډوله سازمانونو له لارې تطبیقوي، چې یو دولتي سازمانونه دي لکه د بهرنیو چارو وزارت یا د ایران اسلامي جمهوریت د خپرونو یا ( IRIB, Islamic Republic of Iran Broadcasting ) او بل یې نا دولتي سازمانونه دي، چې په فارسي ژبه کې ورته بنیاد وایي او مشر یې د ایران د رهبر له لوري ټاکل کېږي، دغه سازمانونه هڅه کوي د کلتوري، ټولنیزو او اقتصادي برنامو له لارې په نورو هېوادونو کې د ایران د اسلامي انقلاب نظریات ولېږدوي ترڅو وکولای شي د ایران نرم قدرم ته له هېواده بهر په نورو ملتونو کې وده ورکړي. دلته اړتیا لیدل کېږي چې د دوه بېلابیلو سرلیکونو په ترځ کې لومړی د دولتي سازمانونو فعالیتونه او بیا د نادولتي سازمانونو فعالیتونه روښانه کړو.

**دولتي سازمانونه-** د ایران اسلامي جمهوریت له لوري له نرم ځواک څخه د ګټې اخیستنې هڅې نوي یمې لسیزې څخه سرچینه اخلي، په دې هېواد کې د سید محمد خاتمي د واکمنۍ پر مهال د dialogue among civilizations اصطلاح یا د تمدنونو ترمنځ خبرې اترې د دې هېواد په بهرنۍ پالیسي او نړیوالو اړیکو کې ځای پیدا کړ، خاتمي له بهر سره د کلتوري او هنري تبادلې او په هېواد کې دننه د مدني ټولنې په جوړېدو ټینګار کاوه.[۲] کله چې په دې هېواد کې محمود احمدي نژاد واک ته ورسېد؛ نو دغه مهال د ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا هڅې زیاتې شوې،

د بیلگې په توګه د ایران د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز له لوري د نرم ځواک په اړه د څېړنو او خپرونو مالي ملاتړ وشو، د مسلمانانو او په ځانګړې توګه د فلسطین د ملاتړ هڅې یې زیاتې کړې ترڅو په سیمه، په ځانګړې توګه د منځنۍ ختیځ هېوادونو د پاملرنې وړ وګرځي، سربېره پر دې یې د شعیه پیوند پر اساس یې د عراق د نجف او کربلا په ښارونو کې پانګونه وکړه او د دې ښارونو محلي روحاني اشخاصو مالي ملاتړ یې پیل کړ.

حسن روحاني هم د خپلې واکمنۍ د مخه او وروسته د نرم ځواک په اړتیا ټینګار کاوه، هغه د خپلې واکمنۍ پرمهال په موثره توګه د ډیپلوماسۍ د یوې وسیلې په توګه له نرم ځواک څخه ګټه پورته کړه؛ سربېره پر دې د دې هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف هم نرم ځواک د ایران د بهرنۍ پالیسۍ مهم اړخ وباله.

د ایران د دولتي سازمانونو له هڅو سربېره یو شمیر نور اداري هم د نرم ځواک د ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا په برخه کې فعالیت؛ چې له ډلې یې د رسنیو هڅې د پاملرنې وړ دي؛ چې ښه بېلګه یې د ایران اسلامي جمهوریت د خپرونو( IRIB, Islamic Republic of Iran Broadcasting ) اداره ده، چې په ایران کې دننه او له ایران بهر د بیلابیلو چینلونو پر مټ په مختلفو ژبو خپرونې کوي. مثلاً العالم خبري شبکه چې په عربي ژبه خپرونې کوي په ۲۰۰۳ ز.کال تاسیس شوې، سحر تلویزون چې په اذربایجاني، بالکان، کردي او اردو ژبو خپرونې کوي په ۱۹۹۷ز.کال تاسیس شوی، د دې تلویزون هغه خپرونې چې په اذربایجاني ژبه کېږي په اذربایجان یا د ایران او اذربایجان په سرحدي سیمو کې د ایران د نفوذ د پیاوړي کولو لپاره پکې لاسي کېږي.[۳] الکوثر چې په عربي ژبه خپرونې کوي په ۲۰۰۶ز.کال تاسیس شوې، پریس تې وي چې په انګلیسي او فرانسوي ژبه خپرونې کوي په ۲۰۰۷ز.کال تاسیس شوې. د ایران له لوري دغه چینلونه د خپل هېواد د بهرنۍ

پالیسی د بنسټیزو اړخونو د ودې او پیاوړتیا او هم یې د هېواد په اړه د منفي تبلیغاتو د مخنیوي لپاره کاروي. ایران نه یواځې داچې په هغو چینلونو چې د دوی له لوري تاسیس شوي بسنه کوي؛ بلکې له هېواده بهر د خپل نفوذ د پیاوړتیا په موخه د هېوادونو د محلي رسنیو مالي ملاتړ کوي؛ د بیلګې د رویټرزس خبري اژانس د یوه راپور پر اساس چې د ۲۰۱۲ ز.کال د مې میاشت په ۲۴ کې خپور شوی وو د افغانستان د رسنیو له دریو څخه یوه برخه یې د ایران له لوري ملاتړ کېده.[۴]

**نادولتي دولتي سازمانونه-** د ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا بله مهمه وسیله نا دولتی سازمانونه دي، چې په فارسي کې ورته بنیاد وایي. دغه سازمانونه له ۱۹۷۹ز.کال څخه د مخه هم موجود وو؛ خو فعالیتونه یې ډېر پراخ نه وو؛ دغه سازمانونه له بېلابېلو شرایطو سره ځان عیاروي، د دولت له لوري یې څارنه نه کېږي او په مستقیما توګه مذهبي رهبر ته مسول دي او راپور ورته ورکوي، دا سازمانونه د فعالیت په ساحه کې د موخو د ښه ترلاسه کولو لپاره وړې شبکې جوړوي چې اړیکې یې پراخې او ژورې شي ترڅو د حکومت د اوږد مهاله ستراتیژیو په تطبیق کې مرسته وکړي.

دغه سازمانونه د ایراني کلتور د ودې لپاره د دیني تعلیماتو ترڅنګ د فارسي ژبې او ادبیاتو د زده کړې په برخه کې هم فعالیتونه کوي، په دې سازمانونو کې تر ټولو مهم د سازمان فرهنګ و ارتباط اسلامي یا ICRO, Islamic Culture and Relation Organization دی، دغه سازمان د هېواد له پولو هاخوا د ایراني کلتوري نورمونونو د ملاتړ لپاره یوه مهمه اداره ده؛ چې د اساسنامې له مخې یې موخې په لاندې ډول دي:

۱- په نړۍ کې د اسلامي فکر او پوهې پراختیا او را ژوندی کول، ترڅو مسلمانان بیداره شي او نړۍ ته د اسلام حقیقي پیغام ورسوي.

۲- د اسلامي انقلاب د بنسټونو، موخو او دریځونو په اړه د نړیوالو د پوهې د کچې لوړوالی.

۳- د نړۍ له بېلابېلو ملتونو او قومونو، په ځانګړې توګه له مسلمانانو او د نړۍ له مظلومو خلکو سره د کلتوري اړیکو پراخول.

۴- د ایران د کلتور او تمدن او د دې هېواد د کلتوري، جغرافیې او تاریخي ځانګړنو سمه پېژندنه.

۵- د مسلمانانو ترمنځ د یووالي د زمینې برابرول او د اسلامي اصولو پر بنسټ د متحدې جبهې جوړول.

٦- د دین، اسلام او انقلاب ضد کلتور سره فکري سیالۍ او د دښمنانو له تفرقه اچوونکو دسیسو څخه د مسلمانانو خبرول او د مسلمانانو له حقوقو څخه دفاع کول.

۷- په نړۍ کې د مسلمانانو په ځانګړې توګه د اهل بیت علیهم السلام د پیروانو د کلتوري، تبلیغاتي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز حالت وده او پیاوړتیا.[۵]

سربېره پر دې تهران د ایراني کلتور د ودې موخه په ځینو کلتوري ارزښتونو لکه د نوروز جشن اړه هم پانګونه کړې، په همدې موخه د ایران ولسمشرانو په وار وار د افغانستان، پاکستان او تاجکستان په ګډون د سیمې نورو هېوادونو ته چې دغه جشن لمانځي مبارکي استولي دي. د یادولو وړ ده چې د ایران د نرم ځواک نفوذ په منځنۍ اسیا په ځانګړې توګه په تاجکستان کې هم د پام وړ دی. ایران په عمومي ډول هلته د مذهبي اړخ او بشري مرستو پر اساس خپل نرم ځواک پیاوړی کوي؛ نو ځکه تاجک زده کوونکو ته بورسونه ورکوي ترڅو د قم مدرسې په شمول د ایران په دیني موسسو کې زده کړې وکړي او د تاجکي ژبې رسنۍ په ځانګړې توګه تاجک راډیو ملاتړ کوي ترڅو هلته له اسلام څخه د ایران روایت او د ایت الله خمیني افکارو تبلیغ کړي. سربېره پر دې

ایران په تاجکستان کې د امام خمیني د مرستې کمېټې له لارې بشردوستانه هم کوي.[٦]

سعدي بنسټ د ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا په برخه کې یو بل مهم سازمان دی او اصلي دنده يې د ایران له پولو هاخوا د فارسي ژبې د پوهې پراخول دي څکه چې د فارسي ژبې وده د ایران د نرم ځواک بله وسیله ده، دا بنسټ په۱۳۹۲هـ ش کال کې تاسیس شوی او په نړۍ کې ۴۰ نورې څانگې لري چې  د فارسي ژبې د ترویج او زده کړې په برخه کې فعالیت کوي، دغه بنسټ په ایران کې دننه په حضوري او مجازي توگه د فارسي ژبې د تدریس په برخه کې هم فعالیت کوي.[٧] دغه فعالیتونه د دې سبب گرځي چې په نړیواله سټیج کې د ایران د وقار او باور په لوړېدو مثبتې اغیزې وکړي؛ د سعدي بنسټ د ښوونې او روزنې د څانگې مرستیال رضا مراد صحرایي یو ځل ویلي وو(( کله چې یو بهرنی ځوان په ایران کې یوه میاشت تېروي، نه یوازې دا ژبه زده کوي، بلکې پوهېږي چې د ایران په اړه د بهرنیو رسنیو خبرونه حقیقت نه لري)).[٨]

دغه بنسټ د فارسي ژبې د ترویج ترڅنګ د نورو ایراني او بهرنیو سازمانونو په همکارۍ کلتوري نندارتونونه هم په جوړوي، دې سازمان په خپلو وروستیو هڅو کې د پاکستان او ترکیې په همکارۍ  په لاهور کې د اسلامي هنرونو گډ کلتوري نندارتون جوړ کړ. په پای کې ویلای شو چې  ایران په دې برخه کې ډېره پانگونه کړې ترڅو وکولای شي بهرني محصلین وهڅوي ترڅو د محصلینو د تبادلې په پروگرامونو کې برخه واخلي او یا هم په ایران کې د زده کړې وکړي.

اوس د دایران او اذربایجان د اړیکو تاریخي ـ فرهنگي پیوندونو ته راگرځو؛ چې دغه ټکي پر اساس د دواړو هېوادونو فرهنگي اړیکې وده کوي او له همدې ټکي څخه په گټه پورته کولو ایران په اذربایجان کې د نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره کار اخلي؛ او دغه مسله د دواړو هېوادونو په سیالۍ هم بدله شوې ده.

**ایران او اذربایجان؛ ګډ تاریخي پیوندونه او پیچلې اړیکې**

اذربایجان او ایران ګډ تاریخ لرونکي هېوادونه دي؛ په ۱۸۱۳ز.کال او ۱۸۲۸ز.کال د ګلستان او ترکمانچای له تړونونو دمخه چې د روسیې او ایران له لوري لاسلیک شول؛ اذربایجان د ایران یوه برخه وه؛ دغه مهال اذربایجان د محلي خانانو له لوري اداره کېده او دوی بیا د ایران د مرکزي حکومت تابع وو؛ سربېره پر دې ایران او اذربایجان په ترتیب سره په نړۍ کې لومړی او دویم ستر شیعه مذهب لروکي هېوادونه هم شمېرل کېږي؛[9] چې دغه تاریخي اړیکې او پیوندونه په دې هېواد کې د ایران نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره مهم شمېرل کېږي؛ خو کله چې په ۱۹۹۱ز.کال کې اذربایجان د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته خپلواکي ترلاسه کړه؛ له ایران سره یې د دریو مهمو لاملونو پر اساس پیچلې شوې.

لومړی لامل د ایډیالوژۍ یا نظر اختلاف دی، په ایران کې اسلامپاله شیعه ایډیالوژي واکمنه ده؛ په داسې حال کې چې اذربایجان کې د دې برعکس سیکولر ـ ملتپاله ایډیالوژي واکمني کوي؛ که څه هم په اذربایجان کې ۸۰ سلنه وګړي شیعه دي؛ نو ځکه د ایرن لپاره مهم هېواد شمېرل کېږي؛ خو د دې هېواد وګړي تر ډېره بریده یا په لنډ ډول مطلق اکثریت سره مذهب ته وفادار نه دي؛ سربېره پر دې د دې هېواد د اساسي قانون د ۱۸ مادې د احکامو له مخې دین له حکومت څخه جلا دی.[10] ایران هڅه کوي ترڅو په دې هېواد کې خپله ایډیالوژي د تاریخي؛ فرهنګي او مذهبي پیوند پر اساس چې د اذربایجان سره یې لري؛ پیاوړې کړي او هڅه کوي ترڅو خپل سیاسي نورمونونه د اذربایجان سیاسي ډګر ته ورسوي؛ چې دغه هڅې د ایران پر وړاندې د اذربایجان د اندېښنو د را منځته کېدو سبب ګرځېدلي او په پایله کې یې د دواړو هېوادونو په اړیکو منفي اغېزه کړې ده.

دویم په نړیوال ډګر کې اذربایجان له امریکا او اسرائیلو سره د انرژۍ او نورو ستراتېژیکو برخو کې پیاوړې اړیکې جوړې کړې دي دغه هېواد له ناټو، د امریکا له پوځ او هم د لوېدیځو هېوادونو د تیلو له لویو شرکتونو سره همکاري کوي.[11] په داسې حال کې چې د تهران له ۱۹۷۹ز.کال وروسته د امریکا او اسرئیلو ضد سیاست تعقیب کړی دی؛ د لوېدیځ سره د اذربایجان د اړیکو پیاوړتیا د دې هېواد د اوږدمهاله ستراتېژۍ یوه برخه ده؛ په همدې موخه د افغانستان په جګړه کې اذربایجان د متحده ایالاتو جنګي اړیکو ته اجازه ورکړه ترڅو په افغانستان کې د امریکایي سرتیزو د اکمالاتو لپاره د دې هېواد له هوایي حریم څخه ګټه پورته کړي اوهم د سپټمبر له ۱۱مې وروسته اذربایجاني پوځیان د ناټو له پوځیانو سره یوځای شول او افغانستان، عراق او کوسوو ته واستول شول. د امریکا او اذربایجان ترمنځ پیاوړې اړیکي د تهران د پالیسي جوړونکو لپاره یوه مهمه مسله ده؛ له بلې خوا اسرائیلو هم له اذربایجان سره پیاوړې اړیکې رامنځته کړي دي؛ اسرائیل اذربایجان ته د وسلو د ورکولو پر اساس په نظر کې لري ترڅو پر ایران احتمالي برید پرمهال د اذربایجان هوایي ډګرونه د اړو په توګه وکاروي؛ نو ځکه دې ته په غبرګون کې تهران هڅه کوي چې پر اذربایجان لا نفوذ پراخ کړي؛ ترڅو په راتلونکي کې وکولای شي په خپله په ګټه د دې هېواد په بهرني سیاست کې بدلون راولي.

دربېیم داچې د آذربایجان هغه برخه خاوره چې د ایران تر حاکمیت لاندې ده، هلته آذریان میشت دي، په اذري ژبه خبرې کوي او آذري کلتور لري، نو یو شمېر آذریان د خپلې پخوانۍ خاورې د خپلولو هلې ځلې کوي، او دا موضوع هغه وخت توده شوه کله چې د آذربایجان او ارمنستان ترمنځ شخړې ډېر زور واخیست حتی تر دې چې ایران د ځینو رسنیو په سانسورولو لاس پورې کړ چې هدف یې په ایران کې د آذري مېشتو د عمومې افکارو مخنیوې وه.[12]

همدارنگه د اذربایجان یو شمېر گوندونو په اساسنامو کې د ختیځ او سوېلي آذربایجان، یووالی د گوند ستره موخه گڼل شوې چې له هغې ډلې په آذربایجان کې د رهایي ملي گوند یادونه کولای شو، سربېره پر دې د آذربایجان لوړ پوړو چارواکو هم دې موضوع ته په یو نه یو ډول اشاره کړې، دبېلگې په توگه د آذربایجان پخواني ولسمشر ابوالفضل ایلچي بیگ په یوه غونډه کې خپلو ملگرو ته ویلې وه (( هر ځای کې چې آذربایجاني هستوگنه لري سفر وکړئ او هلته تبلیغ وکړئ، په ځانکړې ډول د ایران آذربایجان ته او د آذربایجان یوه واحده نقشه رسمه کړئ، موږ ته توپیر نه کوي چې په باکو کې اوسېږو یا تبریز کې، زموږ موخه د یو واحد آذربایجان رامنځته کول دي)) د لومړي ځل لپاره د ده د واکمنۍ پرمهال د پان ترکسیزم سیاست پلوي د دې هېواد په اړه د ایران اندېښنې رامنځته کړې.[۱۳] دغه مهال د واحد اذربایجان نقشې رسمې کړای شوې، په درسي کتابونو کې د واحد آذربایجان په اړه درسونه چاپ شول، د حیدرعلي اف په رامنځته کېدو سره که څه هم نوموړي د واحد آذربایجان په اړه رسماً څه نه دي ویلي خو بیا هم نوموړي په دې اړه یادونه کړې ((د تاریخ جبر د آذربایجان د یووالي لامل دی)) چې د دې وینا په تعقیب د حیدر علي اف گوند( آذربایجان نوین) د لوی آذربایجان نقشه رسمه کړه چې په کې د ایران شمالي برخې د آذربایجان د قلمرو پورې تړلې رسم کړای شوې وې خپره شوه، چې دې موضوع د دواړو هېوادونو په اړیکو ژوره منفي اغېزه وکړه ان تر دې چې په آذربایجان کې د ایران سفیر احمد قصابي وویل ((د داسې نقشو چاپول د دواړو گاونډیو هېوادونو د اړیکو د سړېدو سبب گرځي)). سربېره پر دې کله چې الهام علي اف ځواک ته ورسېد نوموړي په واشگنټن کې د یو خبرې کنفرانس په ترڅ کې په ځانگړي ډول د سوېلي آذربایجان تر عنوان لاندې وویل(( د نړۍ په بیلابیلو برخو کې تر ۵۰ میلیونو زیات آذربایجانیان استوگنه لري، چې د هغوی له ډلې څخه تر ۳۰ میلیونو په ایران کې اوسېږي او د هغوي برخلیک ټاکل د

آذربایجان دولت لپاره ډېر مهم دی او دا دولت کوښښ کوي ترڅو د هغوی د غوښتنو مطابق ورسره مرسته وکړي))[۱۴] د آذربایجان د ولس او رهبرانو له خوا داسې کړنې ترسره کول د چې د دواړو(شمالي آذربایجان او سوېلي آذربایجان) د یوځای کېدو لپاره لاره هواروي، ایران ته هېڅکله د منلو وړ نه دي.

لکه څرنګه چې پورته مو یادونه وکړه چې د اذربایجان له لوري د واحد اذربایجان موضوع رامنځته کېږي؛ د دې نظریې پر وړاندې په ایران کې هم بیلابیل غبرګونونه رامنځته کېږي؛ له یو له هغو څخه د اذربایجان جمهوریت ته د شمالي ایران نوم ورکول دي؛ دغه ډله د پان اذریسم پر وړاندې مبارزه کوي او په دې برخه کې یې مختلف سایټونه هم رامنځته کړي دي؛ دوی په دې دلیل استناد کوي چې د ګلستان او ترکمانچای د تړون پر اساس ایران له اذربایجان څخه جلا شوی او دا چې اوسمهال د دې تړونونو موده پوره شوې ده؛ نو ځکه باید د ایران جلا شوې خاوره بېرته ایران سره ونښل شي.[۱۵] په دې برخه کې د دواړو هېوادونو سیالۍ تبلیغاتي اړخ لري؛ کله چې اذربایجان خپلواکي ترلاسه کړه او د ایران له لوري یې ملي حاکمیت په رسمیت وپېژندل شو، نو په یوه ټاکلې جغرافیا کې دغه په رسمیت پېژندنه د ایران دا ادعا د علمي او عملي ستونزو سره مخامخ کوي، چې په راتلونکي کې به هم مثبته پایله ترلاسه نه کړي.

پورتني لاملونه د دواړو هېوادونو په دوه اړخیزو اړیکو کې مهم رول لري؛ که څه هم د اذربایجان د خپلواکي په لومړیو کالونو کې د باکو - تهران اړیکې پراخې شوې او دواړو لوریو یو له بل سره د مرستې ژمنتیا وښودله؛ ایران ژمنه کړې وه چې له اذربایجان سره به د اقتصادي پراختیا په برخه کې مرسته کوي؛ په داسې حال کې چې اذربایجان هڅه کوله ترڅو د اذربایجان د دواړو برخو د الحاق په اړه د ایران اندیښنې پای ته ورسوي. خو کله چې په دې هېواد کې مطلب اوف له واکه لیرې او

پرځای یې په ۱۹۹۲ز.کال کې ابو فضل ایلچي بیگ واک ته ورسېد؛ دغه مهال له یوې اذربایجان له ارمنستان سره په جګړه بوخت وو او له بلې خوا یې امریکا متحده ایالاتو او لوېدیځو هېوادونو ته نږدې شوی وو او له بلې خوا یې د ایران ضد او ملتپاله پالیسي تطبیقوله؛ نو د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې شوې؛ د ده د حکومت پرمهال د قره باغ شخړې زور واخیست تر دې چې په دې جګړه کې یې د هېواد دغه برخه له لاسه ورکړه؛ نو ځکه دی هم له واکه لیرې او پر ځای یې حیدر علي اوف وټاکل شو. ده د نورو هېوادونو ترڅنګ ایران ته هم پاملرنه وکړه او هڅه یې وکړه ترڅو له ایران سره خپلې اړیکې عادي کړي؛ ان تر دې چې څو ځله یې د دواړو هېوادونو کلتوري غني اړیکې چې د ایران او اذربایجان ترمنځ د تاریخ په اوږدو کې موجودې وې یادونه وکړه؛ خو د دې سره سره بیا هم د ده د واکمنۍ پرمهال د دې هېوادونو اړیکې له کړکیچونو خالي نه وې.

له حیدر علي اوف وروسته په اذربایجان کې الهام علي اوف واک ته ورسېد؛ چې دغه مهال د دواړو هېوادونو اړیکو بدلون پیدا کړ او په لومړیو کې یې اړیکې ګرمې شوې، تر دې چې په ۲۰۰۴ز.کال کې ایران په تبریز کې د اذربایجان د کونسلګرۍ له جوړېدو سره موافقه وکړه او د ایران په دغه ښار کې چې وګړي یې اذري ټبره دي، داذربایجان کونسګرۍ پرانېستل شوه، دغه ښار د نفوسو په تناسب د ایران له تهران، مشهد او اصفهان ښارونو وروسته په څلورم ردیف کې ځای لري او له تهران وروسته د ایران دویم صنعتي ښار شمېرل کېږي، پر دې سیمه کې آذریان استوګنه لري، په ترکیبي آذربایجاني ژبه خبرې کوي او فرهنګ یې هم له لویدیځ آذربایجان سره یوشان ده.[١٦]

سربېره پر دې په همدې کال کې د ایران ولسمشر محمد خاتمي اذربایجان ته سفر وکړ؛ په هغه کتنه کې چې د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ وشوه؛ دواړو لوریو تصمیم ونیوه ترڅو د اقتصاد، کلتور ، انرژي او ابادۍ په برخه کې یو له بل سره همکاري وکړي، له

دې وروسته محمود احمدي نژاد او حسن روحاني هم اذربایجان ته سفر وکړ، په ۲۰۱۷ کال کې په هغه کتنه کې چې د اذربایجان د ولسمشر او ایران ولسمشر حسن روحاني ترمنځ وشوه الهام علی اوف وویل (( د ایران او اذربایجان ترمنځ دوستانه اړیکې موجودې دي چې پر اساس یې کولای شو د اړیکو د لا پیاوړتیا په موخه ترې ګټه پورته کړو)).[۱۷]

دغو هېوادونو په یو شمیر مهمو پروژو کې چې لا تر اوسه تکمیلې شوې نه دي همکاري هم کړې ده؛ د بیلګې په توګه د ریل پټلۍ هغه پروژه چې دایران له قزوین ښار څخه د اذربایجان استارا ښار چې وروسته له باکو او په پای کې روسیې سره نښلول کېږي؛ سربېره پردې همکاریو بیا هم د دې هېوادونو په اړیکو کې کړکیچونه پای ته نه دي رسیدلي.

د اذربایجان او ارمنستان ترمنځ وروستۍ جګړه چې د ۲۰۲۰ ز.کال د سپټمبر له ۲۷ څخه د نومبر تر ۱۰ نېټې یې خلور ځلوېښت ورځې ونیولې او د اذربایجان په بریا سره پای ته ورسېد د جګړې د مخه او له جګړې وروسته د اذربایجان ولسمشر الهام علي اوف د ایران او په ځانګړې توګه د ایران د اذربایجان ولایت په اړه پاروونکې خبرې وکړې او ایران یې د ارمنستان په ملاتړ تورن کړ، سربېره پر دې یې له ترکیې سره یوځای پوځي تمرینات ترسره کړل او هم یې د ایران د لاریو هغه چلوونکي چې ارمنستان ته په لار وو ونیول او بندیان یې کړل.[۱۸] ځکه چې اذربایجان له ارمنستان څخه د قره باغ په سیمه کې یو شمېر سیمې ونیولې او اوسمهال د اذربایجان تر واکمنۍ لاندې دي؛ اذربایجان له ایراني چارواکو څو ځله غوښتنه کړې؛ چې د اذربایجان ملي حاکمیت ته احترام وکړي او د ترانزیټ اصول په هغه ساحه کې چې اوسمهال د اذربایجان تر واک لاندې ده؛ هم ومني؛ خو ایراني لارۍ چلوونکي پرته له دې چې اذربایجان ته د ترانزیټ محصول ورکړي؛ له دې لارې څخه تېرېدل.

**په اذربایجان کې د ایران د نرم ځواک اړخونه**

ایران په اذربایجان کې د نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره له درې اړخونو یا بعدونو څخه ګټه پورته کوي؛ مذهب، دین او فرهنګ چې په لاندې ډول یې په بېلابېلو توګه تر بحث لاندې نیسو.

**مذهبي اړخ**: د اذربایجان او ایران د کلتوري اړیکو په پراختیا کې مذهبي اړخ ډېر رول ترسره کړی، خو دا رول له یوه اړخه مثبت او له بله اړخه یې د دواړو هېوادونو د اړیکو په پیاوړتیا منفي اغېزه هم کړې ده، د ایران د لیدلوري پر اساس دیني او مذهبي اړخ باید د کلتوري اړیکو په پیاوړتیا کې مهمه ونډه ترسره کړي؛ ځکه چې له ایران وروسته اذربایجان په نړۍ کې دویم ستر شیعه مذهبه وګړي لري؛ نو همدې ټکي ته په کتو ایران هڅه کوي ترڅو په اذربایجان کې د خپل نرم ځواک د پیاوړتیا په موخه ترې ګټه پورته کړي؛ دې موخې ته د رسېدو په موخه په اذربایجان کې د ایران د کلتوري او اسلامي اړیکو د پیاوړتیا سازمان چې په فارسی کې ورته سازمان فرهنگی و ارتباط اسلامی وایي رامنځته کړی دی؛ د دې مرکز پر اساس ایران هڅه کوي ترڅو په اذربایجان کې مذهبي زده کړو ته پراختیا ورکړي او هم اذري محصلینو ته فرصتونه برابر کړي او ویې هڅوي ترڅو په ایران مذهبي ښوونځي او پوهنتونونو کې زده کړې وکړي؛ نو ویلای شو چې ایران په اذربایجان کې د مذهبي ډلو ملاتړ ته تمایل لري، په داسې حال کې چې د باکو اداره د مذهبي توندلارو د رامنځ ته کیدو مخه نیسي؛ ځکه چې دغه ټکی د خپل هېواد د ملي امنیت پر وړاندې یو له مهمو اندېښنو څخه ګڼي.[۱۹]

د سعدي بنسټ په مرسته د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۵ز.کال کې ۳۰ مذهبي روحانیون اذربایجان ته راغلل ترڅو په اذربایجان کې د مذهبي عقایدو ته وده ورکړي.[۲۰] په تاریخي لحاظ د ایران مذهبي نفوذ د اذربایجان په جنوبي برخه کې

زيات ليدل کېږي، د دې سيمې په ياردیملي ولسوالۍ کې ۱۲ مذهبي سازمانونه او ګروپونه فعاليت کوي او په دې سيمه کې په ځانګړې ډول د استارا، لنکران او ماسالي سيمې ته مذهبي لوړ پوړي چارواکي استوي ترڅو په دې سيمه کې مذهبي فعاليتونه لا پراخ کړي؛ سربېره پر دې په دې سيمه کې د ايران تلويزوني چينل هم خپرونې کوي، مذهبي په ځانګړې توګه شعيه مذهب اړوند پروګرامونه په اذري ژبه دوبله کوي او د دې تلويزيون له لارې خپروي؛ سربېره پر دې په اذربايجان کې د ايران مذهبي نفوذ د پراختيا لپاره له مختلفو ميتودونو او تکنيکونو کار اخلي، دغه هېواد هڅه کوي ترڅو د مخفي استازو د استولو، د رسنيزو پروګرامونو په ترسره کولو، مذهبي زده کړو او د مذهبي پروګرمونو د ملاتړ او پراختيا پر اساس خپلې موخې ترلاسه کړي.

د دې لپاره چې په اذربايجان کې د ايران مذهبي نفوذ لا پياوړی شي؛ نو د اذربايجان په جنوبي برخه کې د مذهبي مدرسو مالي ملاتړ کوي او له تهران څخه ورته مذهبي کتابونه او اړوند منابع استوي، سربېره پر دې ايران په اذربايجان کې له مذهبي مشرانو سره نږدې اړيکې ساتي او ان تر دې چې دوی ته سهولتونه برابروي ترڅو په اذربايجان کې زده کړې وکړي؛ له دې مشرانو څخه يو هم د په باکو کې د جامع مسجد امام الګار ابراهيموغلو نومېږي چې د ايران سره نږدې اړيکې لري او د هغه مسجد هم د ايران له لوري ملاتړ کېږي؛ دغه اړيکې هغه مهال لا څرګندې شوې کله چې په ۲۰۲۱ميلادي کال کې په ايران کې ابراهيم رييسي د ولسمشر په توګه وټاکل شو؛ نو نوموړي نه يوازې دا چې نوي ولسمشر بلکې د ايران مذهبي مشر ايات الله علی خامنه يی ته هم د مبارکۍ پيغامونه واستول؛ چې دا پخپله د دې څرګندونه کوي چې نوموړي له ايراني چارواکو سره اړيکه لري او د هغوی له لوري يې ملاتړ کېږي.[۲۱]

یوه اذربایجاني مذهبي/ ایډیالوژیکه ډله چې تهران یې ملاتړ کوي حسینیون ده. دا ډله د ایران د رسمي سیاسي ایډیالوژۍ ملاتړ کوي او له ایت الله خامنه یي سره یې بیعت کړی دی. د حسینیون د جوړېدو جزئیات لا روښانه نه دي، خو د ایران ځینې رسمي رسنۍ راپور ورکوي چې دا ډله د سوریې د کورنۍ جګړې په منځ او هم دا چې شیعه ډله د داعش سره مبارزه کوي راڅرګنده شوه.

سربېره پر دې په اذربایجان کې د ایران په ملاتړ د شیعه مذهب مراسم نمانځل کېږي د بېلګې په توګه اذربایجان یو سیکولر هېواد دی، خو د عاشورا پر ورځ ډېری خلک مسجد ته راځي تر څو په دې مراسمو کې ګډون وکړي، نو ځکه یې د ایرانیانو پاملرنه ځانته اړولې ده.[۲۲] یو شمیر ایرانیان د رخصتیو پرمهال اذربایجان ته د سیاحت لپاره ورځي؛ نو ځکه ایران وېره لري؛ چې وګړي به یې د اذربایجان له خلکو اغېزمن شي او په پای کې به یې ديني او کلتوري ارزښتونو ته پاملرنه کمه شي؛ نو له دې اړخه هم ایران هڅه کوي ترڅو د شعیه مذهب د مراسمو د نمانځلو د ملاتړ ترڅنګ نور امکانات ولري؛ چې وکولای شي په اذریانو کې شعیه مذهب پیاوړی کړي.

سربېره پر دې ایران د خپل فرهنګي نفوذ د پیاوړتیا په موخه په اذربایجان کې IPA یا Islamic Party of Azarbaijan د اذربایجان اسلامي ګوند ملاتړ هم کوي؛ دغه ګوند چې د اذربایجان د دولت د رسمي دریځ مخالف دی او په اذربایجان کې د اسراییلو او لوېدیځ ضد تمایلات خپروي؛ داچې اذربایجان یو سیکولر هېواد دی؛ نو ځکه یې دا ګوند تر سختو فشارونو لاندې راوست تر دې چې ډېری غړي یې بندیان او په پای کې د اذربایجان د حکومت له لوري په ۲۰۰۳ ز.کال کې ناقانونه اعلان شو.[۲۳] دې ګوند او غړو یې هڅه کوله ترڅو د مذهبي ټکي څخه په کارونې د اذربایجان رسمي سیکولر سیاستونه وننګوي؛ خو په دې برخه کې دغه ګوند بریالی شوی نه دی؛ د دې ګوند غړو د ګوند له منحل کېدو وروسته هم ځینو فعالیتونو کې په شخصي توګه برخه اخیستله د بېلګې په توګه کله چې په ۲۰۱۱ ز.کال کې په

اذربایجان کې د حجاب په وړاندې قانون رامنځته شو او پرېکړه وشوه چې حجاب لرونکې ښځې د دولتي ودانیو ته د ننوتلو حق نه لري؛ د دې پر وړاندې د دې گوند غړو او ځېنو نورو اسلامپالو غږ پورته کړ او لاریونونه یې وکړل؛ ان تر دې چې ایراني پالیسي جوړوونکو هم په دې اړه خپل غږ پورته کړ؛ خو دغه قانون لغوه نه شو.

پر دې حقیقت سربېره چې تهران د اذربایجان په سیاسي ډگر کې د پام وړ نفوذ نه لري، په اذربایجان کې د ایران مذهبي نفوذ هم د اذربایجان د حکومت له سخت مقاومت سره مخامخ شوی دی. اذربایجان د ایران د مذهبي نفوذ په اړه خورا حساس دی او د ایران په مدرسو کې د اذربایجان زده کونکو ته یې خبرداری ورکړی چې دوی نشي کولای په دولتي ادارو کې کار وکړي او هم هغه ملایان چې د ایران په مدرسو کې یې زده کړې کړې وي نشي کولای چې په مسجدونو کې تبلیغ وکړي.[۲۴]

د ایران مذهبي نفوذ ته بله ننگونه په اذربایجان کې د اسلام د سني څانگې خپرول دي، چې په پیل کې د سعودي او وروسته د ترکیې له خوا د نرم ځواک او د ایران سره د مقابلې لپاره د یوې وسیلې په توگه په اذربایجان کې کارول کېږي، دوی د راډیو ، تلویزیون او د مجلو د خپرولو پر اساس خپلې موخې تعقیبوي؛ یوه بله ډله چې په اذربایجان کې یو څه نفوذ لري هغه په استانبول کې د نقشبندي صوفیانو روحاني مشر عثمان نوري توپباس پیروان دي؛ دوی نه یوازې دیني تعلیمات خپروي بلکې په خیریه فعالیتونو کې هم بوخت دي چې په طبیعي ډول د اذربایجانیانو زړونه او ذهنونه یې ترلاسه کړي دي. په اذربایجان کې دغه فعالیتونه کولای شي په مذهبي ډگر کې د ایران نرم ځواک کمزوری کړي.

لکه څرنگه مو چې په پورته توگه یادونه وکړه چې ایران اذربایجان ته د اسلامي انقلابي مفکوري د لېږد او په ځانگړي ډول د شیعه مذهب د ملاتړ په موخه ډېرې هلې ځلې او پانگونې کړي او اوس هم دوام لري؛ خو دا چې د اذربایجان خلک

کلونه کلونه د شوروي اتحاد تر واکمنۍ لاندې پاتې شوي او په دې هېواد کې د اسلام ضد کمونستي سیاستونه عملي شوي او اوس هم په دې هېواد کې دغه مفکوره واکمنه ده؛ ان تر دې چې د هېواد د اساسي قانون له مخې یې حکومت سیکولر بڼه لري؛ نو ځکه د ایران دغه اقدام د دغه هېواد د پالیسو د تطبیق لپاره مطلوبه پایله نه ورکوي.

**تعلیمي او تحصیلي اړخ-** ایران په اذربایجان کې د خپل نفوذ د پراختیا په موخه د تعلیمي سکټور چې دواړه برخې (دیني او عصري) په کې شاملې دي؛ څخه ګټه پورته کوي؛ د دې لپاره چې په دې برخه کې خپلې موخې ترلاسه کړي له دوه میتودونو څخه استفاده کوي؛ لومړی داچې په اذربایجان کې د ایران د سفارت په مرسته د دې هېواد له پوهنتونونو سره د همکارۍ رامنځته کول او دویم داچې د محلصینو د تبادلې او یا د تحصیلي فرصتونو د برابرولو له لارې د بېلګې په توګه هغو اذربایجانیانو ته چې د دیني علومو د زده کړې لیواله وي، یا غواړي چې فارسي ژبه زده کړی او یا هم د ایران مطالعاتو په برخه کې زده کړې وکړي؛ ځانګړي فرصتونه برابروي.

لومړی میتود د لوړو زده کړو په موسسو او پوهنتونونو متمرکز دی، ایران په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې د اذربایجان له دولتي ښوونځیو او پوهنتونونو سره خپلې همکارۍ زیاتې کړي، په هغه کتنه کښې چې د ۲۰۲۰ کال د جولای په میاشت کښې د ایران د بهرنیو چارو وزارت د ویاند، په باکو کې د ایران د سفیر او د ایران د کلتور د وزیر ترمېنځ ترسره شوه، د ایران او آذربایجان د ګډو تعلیمي مرکزونو په جوړولو او کلتوري اړیکو په پراختیا تاکید وشو، په دې کتنه کې د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل "زموږ د هېواد څېړونکي د بشري علومو په برخه کې د همکارۍ لپاره ښه ظرفیت لري او فارسي ژبه او ادبیات مناسب ځایونه دي." هغه ټینګار وکړ چې ایران د ایران د مطالعاتو، تاریخ او لرغون پېژندنې په برخو کې د

دې توان لري چې په اذربایجان کې د لوړو زده کړو په موسیسو کې د جلا جلا ځانګو په توګه تدریس شي. په دغه کتنه کښې د نړیوالو چارو لپاره د ایران د ساینس د وزیر مرستیال او د نړیوالو علمی همکاریو د مرکز مشر حسین سالار آملی هم وویل د ایران د ګیلان پوهنتون د ملګرتیا لپاره د پام وړ ظرفیت لری او حکومت په دې لړ کښې یو لړ فعالیتونه ترسره کړی دی[۲۵].

په اذربایجان کې د تهران نفوذ په یو شمیر پوهنتونونو کې لکه د باکو دولتي پوهنتون کې څرګند دی؛ د باکو په دولتي پوهنتون کې د ایران پېژندنې څانګه د فارسي ژبې او ادبیاتو د زده کړې د فرصتونو د برابروولو په برخه کې اصلی مرکز شمېرل کېږي؛ دغه مرکز د فارسي ژبې په برخه کې تخصصي دورې وړاندې کوي؛ د باکو په دولتي پوهنتون کې دغه پوهنځی د اذربایجان کې د ایران د فرهنګي مرکز سره له نږدې کار کوي.

له دویمې طریقې سره سم، د اذربایجان یو شمېر نامتو مذهبي مشرانو د ایران په مدرسو کې زده کړې کړې دي چې ځینې وختونه په اذربایجان کې د دوی د ځورونې یا نیول کېدو لامل شوي. له دې ډلې څخه د شیخ جلال شافعیوف او ایلګار ابراهیم دیني عالمانو نومونه یادولای شو، چې په ۲۰۲۱ کال کې نیول شوی و، دوی ویلي وو چې "زموږ یوازینی ګناه [چې د اذربایجان دولت یې موږ ته د نیولو لامل شو] هغه دیني زده کړې دي چې موږ د ایران په اسلامي جمهوریت کې ترلاسه کړې، یوه بله د پام وړ خبره دا ده چې د ایراني مدرسو یو شمېر آذربایجاني فارغان د فارسي ژبې د زده کړې څخه په ګټه پورته کولو په اذربایجان کې د خپلو ایراني استادانو لیکل شوي کتابونه ژباړلي او خپاره کړي دي. د بېلګې په توګه د امام مهدي دایرة المعارف دویم ټوک چې د ایراني مذهبي عالم محمد ریشهري له خوا لیکل شوی، په آذربایجان ژبه ژباړل شوی دی.

په باکو کې د ایران سفارت هڅه کوي ترڅو هغه اذربایجانیان چې له ایراني مطالعاتو او فارسي ژبې سره لیوالتیا لري وهڅوي تر څو د ایرن په مالي ملاتړ په ایران کې خپلې زده کړې ترسره کړي؛ دا یو له مهمو میتودونو څخه دی چې ایران د اذربایجان له خپلواکۍ راهیسې د خپل نرم ځواک غوښتنې زیاتولو لپاره تعقیب کړې دی. د ۱۹۹٦ کال په نوامبر میاشت کې د دوه ویشت اذرۍ محصلینو یوه ډله ایران ته ولیږل شوه چې د ایرانی مطالعاتو په برخه کې زده کړه وکړي. په آذربایجان کې د ایران کلتوري اتشې په ۲۰۱٦ کال کې څرګنده کړه چې د ایراني آذربایجان د تبریز پوهنتون د آذربایجان محصلینو کوربه توب کوي او دوی په دغه پوهنتون کې پر ایراني مطالعاتو بوخت دي. په همدې کال کې د سعدي بنسټ استازي هم وویل چې دغه بنسټ به د فارسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د ۱۸ استادانو کوربه دی، د یادونې وړ ده چې د ایران په بېلابېلو ولایتونو په ځانګړې توګه په قم، اردبیل او تهران کې اذري محصلین پر زده کړو بوخت دي؛ چې ډېری یې دیني تعلیمات کوي؛ په ایران کې د اذري محصلینو په اړه داسې راپورونه هم شته چې دوی هلته د ایران د استخباراتو، د اسلامي انقلاب د ځواکونو او دبیسجي ځواکونو له لوري په ایډیالوژیکه توګه روزل کېږي او هم ورته پوځي زده کړې ورکوي.[٢٦]

**د فرهنګي مشترکاتو اړخ-** د اذربایجان او ایران ترمنځ فرهنګي مشترکاتو موجودیت په اذربایجان کې د ایران د نرم ځواک د پیاوړتیا لپاره مهم فرصت ګڼل کېږي، له دې فرصت څخه د ښې ګټې پورته کولو په موخه ایران له دوه میتودونو څخه کار اخلي، لومړی په اذربایجان کې د فارسي ژبې او خپرونو ترویج ته وده ورکول؛ دویم د ځینو مشترکو جشنونو او مناسباتو لکه د کلتوري اونۍ یا په ځانګړې توګه د نوي کال یا نوروز جشن نمانځل؛ چې دغه فعالیتونه د دولتي چینلونو لکه په باکو کې د ایران سفارت او نادولتي سازمانونو لکه د سعدي بنسټ له لوري ترسره کیږی.

لکه څنګه چې يادونه وشوه، ايران د آذربايجان له پوهنتونونو سره د همکارۍ له لارې په آذربايجان کې د فارسي ژبې د ودې په برخه کې په پراخه کچه بوخت دی،د ايران کلتوري مرکز چې په ۱۹۹۳ ز.کال په باکو کې تاسيس شو، د فارسي ژبې او ادبياتو په وده کې پراخ رول لري. په همدې کال کې د دې مرکز په مرسته نظامي ګنجوي مجله او شهريار ورځپاڼه په باکو کې خپاره شول. د دې مرکز اصلي موخه د آذربايجان د سيمه ييزو ارګانونو په همکارۍ د فارسي ژبې او ادبياتو په اړه د بېلابېلو غونډو تنظيمول دي دغه مرکز د فارسي ژبې کلنۍ مسابقه هم تنظيموي، او د باکو پوهنتون په همکارۍ د فارسي ژبې درسي کتابونه او قاموسونه هم خپروي.

تهران له فارسي څخه آذري ژبې ته کتابونه هم ژباړلي دي د بېلګې په توګه په ۲۰۱٦ز.کال کې په اذربايجان کې د ايران کلتوري اتشې اعلان وکړ چې د دوی په مالي ملاتړ په اذربايجان کې يې د مذهب، ادب او کلتور په برخو کې اته کتابونه ژباړلي او خپاره کړي دي. له دغو کتابونو څخه دوه يې په اصل کې د ايران د يوه نامتو او دولت سره تړلي عالم ايت الله جعفر سبحاني له خوا ليکل شوي دي . سربېره پر دې په باکو کې د ايران کلتوري مرکز د سعدي بنسټ په همکارۍ د فارسي ژبې درسي کتاب چې سرليک يې د د متنونو ژباړه ده؛ هم خپور کړ؛ دا کتاب په باکو دولتي پوهنتون کې د فارسي ژبې د تدريس مهمه منبع ګڼل کېږي، په دې کتاب کې اذري متنونه په فارسي ژبه ژباړل شوي او په هره پاڼه کې ستونزمن ټکي تشريح شوي دي؛ دا کتاب په اذربايجان کې د فارسي ژبې او ادبياتو د زده کړې مينه والو لپاره خپور شوی چې موخه يې د فارسي ژبې او ادبياتو خپرول دي.

د ۲۰۲۲ ز.کال د جنورۍ مياشت کې تهران اعلان وکړ چې د مذهب، کلتور او د ايران-عراق جګړې په اړه يې تر ۲۰ زيات کتابونه يوازې په يوه کال کې له فارسي څخه آذري ژبې ته ژباړلي دي، په دغو کتابونو کې يو يې د يران د اسلامي

انقلاب د ځواکونو د پخواني مشر قاسم سليماني په اړه ليکل شوی. دلته يو ټکی چې بايد يادونه يې وشي؛ هغه دا ده چې ايران اذري ژبې ته يو شمير کتابونه ځکه ژباړي ترڅو د کلتوري نفوذ ترڅنگ په اذريانو کې سياسي نفوذ ته هم وده ورکړي.

سربېره پر دې ايران په اذربايجان کې د نرم ځواک د پراختيا لپاره په اذربايجان کې کلتوري اونۍ ( هفته فرهنگي) نمانځي؛ د بېلگې په توگه، د ۲۰۱۸ ز.کال په جون مياشت کې په باکو او گنجا کې د پنځو ورځو لپاره ترسره شوه. په دې غونډه کې د خطاطۍ اوه دېرش اثار، د نقاشۍ او لاسي صنايعو (د حکاکۍ، د لرگيو نقاشۍ او ميناتوري) ننداري ته وړاندې شول. پر دې سربېره د ايران د سياحتي ځايونو پنځوس عکسونه، څلوېښت غالۍ او دېرش بېلابېل ډوله عنعنوي ايراني جامې په عصري ډيزاينونو کې ننداري ته وړاندې شول.

په اذربايجان کې د تهران د فرهنگي نفوذ د پراختيا لپاره تهران له اذربايجان سره گډ کلتوري جشنونه چې ښه بېلگه يې د نوروز جشن دی لمانځي؛ په دې جشن کې ايران د اذربايجان ځايی خلکو ته د ايران کلتور، ميراث او تاريخ ور پېژني. د ۲۰۱۱ ز.کال د نوروز جشن په مناسبت په اذربايجان کې د ايران سفارت يو کنفرانس جوړ کړ؛ چې په کې د اذربايجان يو شمېر پوهان، مشهور مفکران او روحاني اشخاص رابلل شوي وو. په باکو کې د ايران کلتوري مرکز هم د ايران د سياحينو د پاملرنې د جلبولو ننداارتون، د تياتر او موسيقۍ پروگرامونه او همدارنگه په آذري او فارسي ژبو د نوروز د بروشرونو د چاپ په څير يو لړ غونډې ترسره کړې. د ۲۰۱۴ کال په مارچ مياشت کې د ايران د سفارت د کلتوري برخې په هڅو د څلورو ورځو لپاره د نوروز په اړه د باکو په نړيوال فېسټيوال کې د نوروز ننداارتون جوړ شو، چې موخه يې د نوروز سره تړلي ايراني کلتوري نورمونه او دودونه معرفي کول وو.

کلتوري نورمونه د پاليسي جوړونې لپاره مهمې سرچينې دي او دا د دولتونو لپاره مهم دي چې داسې شرايط او فرصتونه رامينځته کړي چې په کې د دوی

کلتوري ارزښتونه څرګند شي ترڅو وکولای شي په مطلوبه ساحه کې د خلکو د پاملرنې وړ وګرځي. په همدې اساس ایران هڅه کوي ترڅو له بېلابېلو طریقو څخه د ګټې اخیستنې پر اساس خپل کلتوري ارزښتونه اذریانو باندې ومني؛ ځکه چې ایراني رهبران باور لري چې د ایران اسلامي کلتور نه یوازې دا چې د ایران د نړیوالو اړیکو د پراختیا بلکې د سیمې په ثبات او امنیت مثبته اغېزه کوي.[27]

که څه هم په اذربایجان کې ایران د خپل نفوذ د پیاوړتیا لپاره له بېلابېلو لارو څخه ګټه پورته کوي؛ خو په دې برخه کې هم له ځینو ستونزو سره مخ دی؛ د بېلګې په توګه د فارسي ژبې زده کړه په اذربایجان کې ډېر زیات مینه وال نه لري او د محصلینو او متعلیمینو لپاره ځانګړی اهمیت نه لري؛ که څه هم دوی ته فارسي ژبه په تیرو لسیزو کې د بهرني ژبې په توګه تدریس شوې ده، همدارنګه د باکو په دولتي پوهنتون کې د ایراني مطالعاتو څانګې د فارسي ژبې لپاره د محصلینو د جذب کچه ټیټه شوې ده، ځکه چې فارسي ژبه د کار په بازار کې دنده نشي پیدا کولای؛ نو ځکه اذري ځوانان نه غواړي چې د بهرنۍ ژبې په توګه فارسي ژبه زده کړي؛ دغه مسله د دې سبب ګرځي ترڅو د اذربایجان په علمي مرکزونو د فارسي ژبې د ودې په برخه کې لوی خنډ رامنځته کړي؛ چې له امله به یې په راتلونکي کې په دې برخه کې د ایران نفوذ کمرنګه شي.

**د فرهنګي اړیکو په برخه کې دوه اړخیزې ترسره شوې هڅې** - د ۱۹۹۱ ز.کال د مارچ په میاشت کې د لومړي ځل لپاره د ایران یو پلاوی چې د دې هېواد سیاسیون، سوداګر، د راډیو او تلویزون اړوند سازمانونو استازو او د علمي او مذهبي ادارو استازو په کې شامل وو؛ د اذربایجان پلازمېنې باکو ته سفر وکړ همدارنګه د همدې کال د مارچ او ډیسمبر په میاشتو کې د اذربایجاني کتابونو نندارتون په تهران او د ایراني کتابونو نندارتون په باکو کې جوړ شو؛ چې په دې

نندارتونونو کې تر ۳۰۰۰ ټوکه کتابونو پورې نندارې ته وړاندې شول؛ دغه نندارتونونه د هغه موافقې پر اساس چې د دواړو لوریو ترمنځ د کتابونو د نندارتونونو په ترسره کولو، د کتابونو د خپرولو او د کتابونو د خرڅلاو په اړه شوې وه؛ ترسره شوي وو؛ د دې موافقې بل اړخ کې دا هم شامل وو ترڅو په باکو، نخچیوان، تهران او تبریز کې د دواړو هېوادونو کتابتونونه پرانېستل شي.[۲۸]

کله چې په ۱۹۹۳ز.کال کې د ایران ولسمشر اکبر هاشمي رفسنجاني اذربایجان ته سفر وکړ؛ د اذربایجان له ولسمشر سره یې په بېلابېلو برخو کې ۱۴ تړونونه لاسلیک کړل؛ په دې تړونونو کې یو شمیر د دواړو هېوادونو ترمنځ د فرهنګي او علمي همکاریو او پراختیا په اړه وو چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:[۲۹]

۱- د ایران اسلامي جمهوریت د فرهنګ وزارت او د اذربایجان جمهوریت د علومو اکاډمۍ ترمنځ د علمي همکاریو تړون.

۲- د ایران اسلامي جمهوریت او د اذربایجان ترمنځ د نخچوان په خپلواکه سیمه کې د علمي ، فرهنګي او اقتصادي همکاریو تړون.

۳- د ساینس، تعلیم او څېړنې په برخه کې د اذربایجان د پوهنې وزارت او د ایران د لوړو زده کړو او فرهنګ وزارتونو ترمنځ د همکارۍ تړون.

په حقوقي او قانوني چوکاټ کې د اړیکو پالل د دواړو لوریو ترمنځ اړیکې لا ځواکمنې کوي او سیستماتیکه بڼه غوره کوي؛ ځکه چې د تړون لوریو ته مکلفیتونه او حقوق راجع کېږي او دواړه لوري یې پر تطبیق ځان مکلف ګڼي.

په همدې کال په باکو کې د ایران فرهنګي مرکز پرانېستل شو او د دې مرکز له لوري دوه خپرونې چې یوه د نظامي ګنجوي مجله او بله د شهریار په نوم اخبار په باکو کې خپاره شول؛ ترڅو ایران وکولای شي په مرسته یې خپلې دوه اړخیزې علمي او فرهنګي اړیکې پیاوړې کړي. د دې مرکز د اذربایجان د علمي او فرهنګي ادارو سره په ګډه یو شمیر نورې ګډې ناستې او کتنې برابرې

کړې ترڅو پر اساس يې وکولای شي چې په اذربايجان کې د ريسرچ او فارسي ژبې او ادبياتو په برخه کې فرصتونه رامنځته کړي؛ همدارنګه دې مرکز د اذربايجان د ساينس، ادبياتو او هنر برخې پوهانو ته فرصتونه برابر کړل ترڅو په ايران کې په ورته علمي پروګرامونو کې برخه واخلي. سربېره پر دې د دې مرکز له لوري په باکو کې د الهودا په نوم ايراني کتابتون، چې په نړيواله کچه کتابونه خپروي هم په باکو کې پرانېستل شو؛ چې مذهبي کتابونه يې ژباړل او خرڅول.

په ۲۰۰۲ز.کال کې کله چې د اذربايجان ولسمشر الهام علي اف ايران ته سفر وکړ له دې هېواد سره يې د (( د ملګرتيا، همکاري او اړيکو بنسټونه)) په نامه هوکړه لاسليک کړه؛ دې موافقې د کلتوري اړيکو په برخه کې هم د پام وړ اهميت لاره؛ ځکه چې د دې هوکړې په ترڅ کې د اذربايجان د پوهنې وزارت د ايران د ساينس، څېړنو او ټکنالوژۍ وزارت سره د څېړنو او تعليم په برخه کې هوکړه وکړه او هم د اذربايجان د کلتور وزارت او د ايران د فرهنګ او ديني ارشاداتو وزارت ترمنځ د کلتوري همکاريو يادښت لاسليک شو.

په ۲۰۰۷ کال په باکو کې د اصفهان کلتوري ورځ و نمانځل شوه او سربېره پر دې ايراني فلمونه اذري ژبې ته دوبله او په اذربايجان کې ننداري ته وړاندې شول؛ د دې هېوادونو د علمي او څېړنيزو بنسټونو ترمنځ ځينې همکارۍ پيل شوې د بيلګې په توګه د باکو دولتي پوهنتون او تهران پوهنتون ترمنځ د استادانو او محصلينو د تبادلې، د ګډو سمينارونو او کنفرانسونو د همکارۍ تړونونه لاسليک شوي.[۳۰] همدارنګه د اذربايجان د خزر پوهنتون او د ايران د علم او فرهنګ پوهنتون سره د ګډو علمي همکاريو تړون لاسليک شوی چې موخه يې د ايران او اذربايجان د څېړونکو او استادانو ترمنځ د علمي همکاريو پراختيا ده؛ دغه دوه پوهنتونونه په لاندې ځانګړو برخو کې همکارۍ لري:

۱- د څېړنيزو برنامو په ځانګړې توګه د ګډو څېړنو ترسره کول.

۲- د استادانو تبادله کول.

۳- د مشترکو تحصيلي پروګرامونو ترسره کول.

۴- په ګډه د تحصيلي اسنادو صادرول.[۳۱]

د دواړو هېوادنو ترمنځ د کلتور او علم په برخه کې دغه ډول برنامې ترسره د دې سبب ګرځي چې د دواړو هېوادونو اوسېدونکي يو بل ښه وپېژني او پر اساس يې د دواړونو ملتونو ترمنځ تاريخي؛ ژبني، قومي ګډ باورونه راتلونکو نسلونو ته په ميرات پاتې شي.

**پايله**

ايران په اذربايجان کې د فرهنګي اړيکو د پياوړتيا په موخه د د تعليمي - تحصيلي برنامو، فرهنګي فعاليتونو او مذهب په برخه کې پانګونه کړې ده او هڅه کوي چې په دې هېواد کې په ديني برخه کې خپل نرم ځواک پراخ کړي او وکولای شي دې هېواد ته د شيعه مذهب د پرنسيپونو پر اساس ولاړه سياسي - ديني ايډيالوژي و لېږدوي؛ دغه موخې په تعليمي برخه کې اذربايجاني محصلينو ته د تبادلې پروګرامونو ترسره کولو، په ايران کې اذربايجاني زده کړيالانو ته د تحصيل د فرصتونو د برابرولو او اذربايجاني محصلينو ته د فارسي ژبې او ادبياتو د زده کړې د فرصتونو د برابرولو له لارې تعقيبوي. د دې فرصتونو د برابرولو سربېره ايران په اذربايجان کې د کلتوري اړيکو او نرم ځواک د پراختيا او د کلتوري او ديني ارزښتونو د ودې په برخه کې له ننګونو سره مخامخ دی؛ دغه هېواد نه دی توانېدلی چې د فارسي ژبې او ادبياتو د زده کړې په برخه کې اذربايجاني زده کړيالان په مطلوبه توګه وهڅوي.د اذربايجان سيکولر حکومت د ايران دغو هڅو په ځانګړې توګه د مذهب په برخه کې د ايران نفوذ او د ايران د

سیاسي ایډیالوژۍ لېږد په اړه اندېښمن دی او دغه ټکي د دواړو هېوادونو ترمنځ نه یوازې داچې د فرهنګي اړیکو پیاوړتیا پر وړاندې خنډ رامنځته کړی بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ فضا د رامنځته کېدو سبب هم شوی دی، سربېره پر دې په اذربایجان کې د امریکا، اسرائیلو او ترکیې سیاسي - فرهنګي نفوذ او د واحد اذربایجان د رامنځته کولو هلې ځلې هغه مهم خنډونه دي چې د دواړو هېوادونو د فرهنګي اړیکو پر پراختیا سربېره د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا پر وړاندې مهم خنډونه شمېرل کېږي.

**ماخذونه**


۱- بصیرت. قدرت نرم چیست؟ تاریخ نشر ۱۳۸۸، تاریخ مراجعه ۲/۳/۱۴۰۲ ، دسترسی : (basirat.ir)

2-Ali Mozaffari and Ali Akbar, Iran’s Soft Power in Azerbaijan: Shifting Cultural Dynamics in the post-Soviet Era, Alfred Deakin Institute for Citizenship and Globalization, Deakin University, Australia, page No 13, PDF.

3-Rufat, Ahmadzada, Growing Iranian influence in Azerbaijan: What should be done, The times of Israel, published date, March/11/2019, access date 1/24/2023, online link : Growing Iranian influence in Azerbaijan: What should be done | Rufat Ahmadzada | The Blogs (timesofisrael.com)

4-Amie Ferris-Rotman, Reuters, Insight: Iran's "Great Game" in Afghanistan, published date: May/24/2012, access date: 1/30/2023, online link: Insight: Iran's "Great Game" in Afghanistan | Reuters.

۵- اساسنامه سازمان فرهنگ و ارتباطات اسلامی، د نشر نېټه ۱۲/۱۲/۱۴۰۰، د لاس رسي نېټه ۱۳/۱۲/۱۴۰۰۱ ، انلین لینک : اساسنامه سازمان فرهنگ و ارتباطات اسلامی . (raahesh.ir)

6-Ali Mozaffari and Ali Akbar, Iran’s Soft Power in Azerbaijan: Shifting Cultural Dynamics in the post-Soviet Era, Alfred Deakin Institute for Citizenship and Globalization, Deakin University, Australia, page No 9, PDF.

۷- بنیاد سعدي، تاریخچه، بنیاد سعدی و زبان فارسی، انلین لینک: تاریخچه - بنیاد سعدی (saadifoundation.ir).

8-Ali Mozaffari and Ali Akbar, Iran's Soft Power in Azerbaijan: Shifting Cultural Dynamics in the post-Soviet Era, Alfred Deakin Institute for Citizenship and Globalization, Deakin University, Australia, page No 9-10, PDF.

9-Ibid.

10-Constitution of Azerbaijan, Article 18, date of edition 1995, date of access 2016/5/3, http://azerbaijan.az/portal/General/Constitution/doc/constitution_e.pdf.

11-Ioana Constantin-Bercean, Impact of Iran on Azerbaijan: Means of Religious Influence, pdf.

۱۲- الیاس واحدی، براورد ستراتیژیک اذربایجان، تهران، موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر تهران، جلد اول، ۲۳۵ص، ۱۳۸۲هـ ل کال ( ۵۲٦ ص)

13-Mehmet Emin ERENDOR, Mehmet Fatih ÖZTARSU, IRANIAN RELATIONS WITH AZERBAIJAN AND ARMENIA: A COMPARATIVE APPROACH IN THE CASE OF PRAGMATIST POLITICS, Research gate, pdf, page no 162, online link https://www.researchgate.net/publication/332036446_IRANIAN_RELATIONS_WITH_AZERBAIJAN_AND_ARMENIA_A_COMPARATIVE_APPROACH_IN_THE_CASE_OF_PRAGMATIST_POLITICS.

۱۴- مرتضی اباذري، حسیب موسی زاده، محمد کریم زاده، فصلنامه تحقیقات سیاسي بین المللی ، قوم گرایی و تاثیرات ان بر روابط ایران و آذربایجان، ۱۳۹۱هـ ل کال، ۴ دوره ، ۱۳ گنه ،۲۲۲- ۲۷۷مخونه، لینک

http://fa.journals.sid.ir/ViewPaper.aspx?id=209784

۱۵- پورتنی اثر. ۲۲۹ مخ.

۱٦- فردوس، عبدالخالق، د اذربایجان او ایران د سیاسي اړیکو د ترینګلتیا لاملونه، حق علمي مجله، ۱۱ مخ.

17-Ali Mozaffari and Ali Akbar, Iran's Soft Power in Azerbaijan: Shifting Cultural Dynamics in the post-Soviet Era, Alfred Deakin

Institute for Citizenship and Globalization, Deakin University, Australia, page No 13, PDF.
18-Ibid.
19-Mehmet Emin ERENDOR, Mehmet Fatih ÖZTARSU, IRANIAN RELATIONS WITH AZERBAIJAN AND ARMENIA: A COMPARATIVE APPROACH IN THE CASE OF PRAGMATIST POLITICS, Research gate, pdf, page no 162, online link
https://www.researchgate.net/publication/332036446_IRANIAN_RELATIONS_WITH_AZERBAIJAN_AND_ARMENIA_A_COMPARATIVE_APPROACH_IN_THE_CASE_OF_PRAGMATIST_POLITICS
20-Mesiaga Mahammadli, "Azerbaijan-Iran Cultural Relations: Dynamics and Potentials", Islamic Solidarity, Caucasus International, Vol. 7, No: 2, Winter 2017,page No112, online like: (99+) Mesiaga Mahammadli, "Azerbaijan-Iran Cultural Relations: Dynamics and Potentials" | Caucasus International Journal - Academia.edu
21-Ali Mozaffari and Ali Akbar, Iran's Soft Power in Azerbaijan: Shifting Cultural Dynamics in the post-Soviet Era, Alfred Deakin Institute for Citizenship and Globalization, Deakin University, Australia, page No 22, PDF.
22-Ioana Constantin-Bercean, Impact of Iran on Azerbaijan: Means of Religious Influence, page NO 22, pdf.
23-Ibid,p.24.
24-Ioana Constantin-Bercean, Impact of Iran on Azerbaijan: Means of Religious Influence, page NO 24, pdf.
25-Ministry for Science Research and Technology of Islamic Republic of Iran, published date 20 July 2020,
Accessed 31 Jan 2023, online link:
https://www.msrt.ir/fa/news/55965.
26-Rufat, Ahmadzada, Growing Iranian influence in Azerbaijan: What should be done, The times of Israel, published date,

March/11/2019, access date 1/24/2023, online link : Growing Iranian influence in Azerbaijan: What should be done | Rufat Ahmadzada | The Blogs (timesofisrael.com)

27-Taghi, Davoodi, Political and Cultural Relations between Iran and Azerbaijan: A Review, INTERNATIONAL JOURNAL OF HUMANITIES AND CULTURAL STUDIES ISSN 2356-5926, page No 200, Special Issue January 2016, pdf.

28-Mesiaga Mahammadli, "Azerbaijan-Iran Cultural Relations: Dynamics and Potentials", Islamic Solidarity, Caucasus International, Vol. 7, No: 2, Winter 2017,page No112, online like: (99+) Mesiaga Mahammadli, "Azerbaijan-Iran Cultural Relations: Dynamics and Potentials" | Caucasus International Journal - Academia.edu

29-Ibid.

30-Ibid, p.115.

۳۱- دانشگاه علم و فرهنگ، انعقاد تفاهمنامه همکاری بین دانشگاه خرز باکو و دانشگاه علم و فرهنگ تهران. د نشر نېټه ۱۳۹۷، د لاس رسي نېټه ۱۴۰۲، لاس رسی (usc.ac.ir)

نویسنده: عزت الله سریم ساتوف
مترجم: سرمحقق عبدالرحیم بختانی

# مفهوم آسیای میانه و آسیای مرکزی
# در بازی ها و منافع سیاسی و جغرافیایی

**یاداشت مترجم**

در طول تاریخ یک تعداد از مناطق آسیای مرکزی با افغانستان کشوری واحدی را تشکیل داده بود و گاهی هم به طور مستقل اداره میگردید. در بعضی دوره های دیگر تحت تصرف امپراطوری های قدرتمند و ابر قدرت های جهانی بود.

این منطقه نظر به اهمیت جغرافیایی، سیاسی و اقتصادی آن در طول تاریخ میدان رقابت های ابرقدرت ها بود و به نام های مختلف یاد گردیده است. در این مقاله از قرن هژدهم الی قرن حاضر در مورد مفهوم آسیای مرکزی و آسیای میانه و رقابت های ابر قدرت ها در این منطقه معلومات ارایه گردیده و همچنین در مورد اهمیت اقتصادی، جغرافیایی و سیاسی آن برای کشور های جنوب آسیا، اروپا و شرق میانه تحقیق صورت گرفته.

از اینکه موضوع تجارت و ترانزیت بین کشورهای اروپایی، آسیای مرکزی و جنوب آسیا برای کشور های منطقه و افغانستان اهمیت حیاتی دارد بناً تحقیق و ترجمه چنین موضوعات برای افغانستان مهم و قابل اهمیت است.

طبق اطلاعات قبلی، در اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی دو بخش اقتصادی در این منطقه وجود داشت - آسیای میانه و قزاقستان. از دیدگاه جغرافیه فیزیکی و اقلیم شناسی، آسیای میانه نه تنها شامل چهار جمهوری شوروی سابق (تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان و قرقیزستان) بوده بلکه قلمرو قزاقستان مرکزی و جنوبی نیز در آن شامل است. برای پنج جمهوری شوروی سابق (تاجکستان، ترکمنستان، ازبکستان، قرقیزستان و قزاقستان) اصطلاح آسیای میانه به کار می رفت.

اولین فیلسوف، جغرافیه دان و سیاح آلمانی الکساندر هومبولت در سال ۱۸۴۳م آسیای مرکزی را به عنوان منطقه ای جداگانه از جهان تقسیم کرد.

آسیای مرکزی بزرگترین منطقه آسیا می باشد که ارتباط با اقیانوس ها ندارد. از نظر یونسکو این منطقه شامل مغولستان، شمال غربی چین (سین کیانگ، تبت، مغولستان داخلی، سیچوان، گانسو)، مناطق آسیایی روسیه، قزاقستان و جمهوری های شوروی سابق تاجیکستان، ترکمنستان، ازبکستان و قرغیزستان است.

از نظر تاریخی این منطقه به دلیل جاده بزرگ ابریشم و قبایل کوچی که در دشتهای بی حد و مرز آن زندگی می کردند به آسیای مرکزی مشهور بود. آسیای مرکزی به عنوان منطقه ای ظهور کرد که مردم کالاها و اجناس تجارتی را از سراسر اروپا، شرق میانه، جنوب و شرق آسیا به این منطقه می آوردند. از دوران باستان آسیای مرکزی که تصادم شرق و غرب بود، نقشی اساسی را در توسعه سیاست خارجی بین ملت ها و مردم داشته است. در دوره های مختلف تاریخی، اهمیت منطقه که به عنوان پیوندی بین اروپا و آسیای جنوبی عمل می کرد، با توجه به تغییراتی که رخ داده از اهمیت مهم برخوردار است. همان طوریکه در قرن نوزدهم و همچنین در قرن بیست ویکم عوامل اصلی تعیین کننده اهمیت منطقه اوضاع ژئیوپلیتیک و ژئیواستراتژیک منطقه بود که بعضاً منجر به جنگ ها بین قدرتهای جهانی می شد.

در دوران شوروی سابق قزاقستان به شمول چهار جمهوریت های دیگر آسیای مرکزی به نام « آسیای میانه و قزاقستان» یاد می گردید. در سال ۱۹۹۲م نورسلطان نظربایف رئیس جمهور قزاقستان در اجلاس آسیای مرکزی پیشنهاد کرد که اصطلاح "آسیای میانه و قزاقستان" لغو شود و اصطلاح "آسیای مرکزی" جایگزین شود بخاطر اینکه این منطقه شامل تمام کشورهای آسیای مرکزی بعد از فروپاشی شوروی است.

در واقع آسیای مرکزی از نظر ژئیواستراتژیک بسیار مهم میباشد. در صورت کنترل مناطق کوهستانی، می توان وضعیت را در تمام کشورهای نزدیک کنترل

کرد. افغانستان محل وصل کننده روابط بین شمال و جنوب است. به گفته (Maksimenko) (ماکسیمینکو) در این منطقه جاده هایی استند که از شمال به جنوب کشیده می شوند و از هندوکش عبور می کنند و آسیای مرکزی جدید را با پاکستان و هند ارتباط میدهد. این مسیرهای طولانی ایران را با هند و شرق نزدیک را با شرق دور متصل می کند. بنا بر این آسیای مرکزی نه تنها یک پایگاه نظامی مناسب است، بلکه یک پیوند مهم ژئیوایکونومیک در توسعه تجارت در قرن بیست و یکم بین اروپا، روسیه و آسیا است.

آسیای مرکزی در زمان تشدید تنش ها میان انگلیس و امپراتوری روسیه که از شرقمیانه آغاز و تا آسیای مرکزی گسترش یافته بود، اهمیت ژئیوپلیتیکی خود را بدست آورد.

در پایان قرن نوزدهم جنگ بین بریتانیا و امپراتوری روسیه برای آسیای مرکزی و هند آغاز شد، که محقق و نویسنده انگلیسی آرتورکانلی آن را "بازی بزرگ" نامید. به گفته کارشناسان در پایان قرن بیستم دوره جدیدی از "بازی بزرگ" آغاز شد که ایالات متحده، ترکیه، ایران و بعداً چین به آن پیوستند. "بازی کنان" شامل جمهوری های شوروی سابق نیز بودند که در میان نیرو های مقاومت باقی مانده و برای استقلال خود می جنگیدند.

آسیای مرکزی با مساحت ۳۹۹۴۴۰۰ کیلومتر مربع در حدود ۱۰ فیصد از قاره آسیا را پوشش می دهد و در عین حال یک منطقه مهم ژئیواستراتژیک در نقشه جهان است. از نظر موقعیت جغرافیایی، آسیای مرکزی با اروپا در غرب، با کشورهای آسیایی در شرق، با فدراسیون روسیه در شمال و با کشورهای جهان اسلام در جنوب، یک مرز مشترک دارد. بنا بر این کشورهای آسیای مرکزی که فقط در خشکه واقع شده اند تنها از طریق مسیرهای ترانزیتی فرصت دسترسی به اقیانوس های جهان را دارند.

از نظر منابع سوخت و انرژی (نفت و گاز)، این منطقه در جهان به درجه سوم قرار دارد و همچنین دارای ذخایر زیادی از مواد معدنی مانند طلا، مس، اورانیوم و

فلزات قیمت بها است. در مجموع خصوصیات خاص آسیای مرکزی عبارت از تقابل شرق و غرب، توسعه فرهنگ ترکی- اسلامی و اهمیت جاده بزرگ ابریشم میباشد.

آسیای مرکزی یگانه منطقه بینظیر در جهان است که چهار قدرت هسته ای ( روسیه، چین، هند و پاکستان) را به هم متصل می کند. در این منطقه وسیع بیش از ۵۰ میلیون مردم و اقوام مختلف زندگی میکنند.

کشورهای آسیای مرکزی بعد از فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی و با گرفتن استقلال خویش با دو نوع تغییرات ژئیوپلیتیکی مواجه شدند - داخلی و منطقه یی. موضوعات حل ناشده سیاسی، قومی و مرزی از دوران اتحاد جماهیر شوروی به ظهور مسائل جدی ژئیوپلیتیکی در این کشورها کمک کرده است.

مهمترین ویژگی ژئیوپلیتیک آسیای مرکزی در دوره بعد از فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی، از جمله پس از حوادث ۱۱ سپتامبر ۲۰۰۱، این است که این کشور به میدان جنگ قدرت های منطقه یی و فرامنطقه یی تبدیل شده است. در رقابت ها و جنگ های منطقه یی علاوه بر پنج کشور آسیای مرکزی ( تاجیکستان، ترکمنستان، ازبکستان، قرقیزستان و قزاقستان )، پنج کشور منطقه یی (روسیه، ایران، ترکیه، هند و پاکستان) و سه قدرت فرامنطقه ای (ایالات متحده، اتحادیه اروپا و چین) وجود دارد.

ایالات متحده بعنوان یک ابرقدرت جهانی تعدادی از منافع خاص خود را در آسیای مرکزی دنبال می کند. اول و مهمترین منافع ایالات متحده شامل دستیابی و کنترل منابع انرژی، جلوگیری از منافع و نفوذ ایران و جلوگیری از نفوذ روسیه جدید در منطقه است.

کشورهای آسیای مرکزی در دوران معاصر علاوه بر خصوصیات داخلی و جغرافیایی، عامل رقابت جدی بین ابرقدرت های منطقه ای و فرامنطقه ای شده اند. این مدرکی است بر این که نظریه جدید ژئیوپلیتیک توجه خاص به منطقه آسیای مرکزی دارد.

هالفورد مکیندر که نظریه ( هیرتلیند) (Heartland) را در سال ۱۹۰۴م توسعه داد، استدلال کرد که منطقه مرکزی قاره اورآسیا که با بحر راه نداد، می تواند

به عنوان یک سنگر مهم در خشکه باشد. با توجه به اهمیت منطقه، پیروان مکیندر متقاعد شدند که دسترسی به آن می تواند کنترل خشکه های جهان را فراهم کند. به همین دلیل آنها اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی را کاندید قدرت جهانی می دانستند.

نظریه دیگری، معروف به نظریه(Rimland) ( ریملند) است که توسط نیکلاس اسپیکمن در دوره بعد از جنگ جهانی دوم بوجود آمد. این نظریه بر نقش اصلی قوای بحری تمرکز دارد. اهمیت مهم ژئیوپلیتیکی منطقه آسیای مرکزی این است که فرصت های بینظیری برای یکجا نمودن نیروهای دریایی و زمینی در این منطقه وجود دارد.

بعداز فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی، نظریه (جفری کیمپ) در مورد موقعیت استراتژیک در ادبیات سیاسی جهان مورد استفاده خاص قرار گرفت، که مبتنی بر موضوعات ژئیواکونومیک موضعی (نفت و گاز) بود. طبق گفته کیمپ، حدود ۷۰ فیصد از ذخایر اثبات شده نفت جهان و همچنین بیش از ۴۰ فیصد از گاز طبیعی جهان در این منطقه واقع شده است که از جنوب روسیه و قزاقستان تا عربستان سعودی و امارات متحده عربی امتداد دارد.

در واقع، استراتیژی انرژی شامل منابع غنی نفت و گاز خلیج فارس است. به خصوص بزرگترین منابع گاز طبیعی جنوب فارس که تا دریای خزر امتداد دارند حدود ۱۹ فیصد ذخایر عمومی گاز جهان را تشکیل می دهند.

طبق نظریه فوق و با در نظر گرفتن منافع ژئیو ایکونومیک، منابع انرژی واقع در قسمت مرکزی اورآسیا منابع مواد اولیه برای کشورهای شرق و غرب است. در عین حال در دسترس بودن چنین منابع باید به گسترش صادرات انرژی کمک کند، زیرا تقاضا برای آن نه تنها در سال های اخیر کاهش نیافته بلکه در حال رشد است.

طبق معلومات تایید شده، حجم ذخایر نفت در آسیای مرکزی از ۱۵ الی۳۱ میلیارد بیلر برآورد شده است. حجم عمومی ذخایر گاز طبیعی حدود ۲۳۰ الی۳۶۰ تریلیون متر مکعب است که حدود ۲،۷ فیصد ذخایر نفت جهان و ۷

فیصد ذخایر گاز جهان را شامل می شود. از طرف دیگر، با توجه به رشد مداوم اقتصاد جهانی، نیاز به استفاده از منابع نفت و گاز در حال افزایش است. طبق آمار جهانی میزان مصرف گاز طبیعی که ۹۵ میلیارد متر مکعب است تا سال ۲۰۳۰ به اندازه ۱۸۲ میلیارد متر مکعب افزایش پیدا میکند.

با توجه به تقویت روندهای توسعه اقتصادی در کشورهای در حال توسعه و تقاضای آنها برای منابع انرژی منطقه مرکزی و میزان مصرف انرژی آن باید به عنوان یکی از اصول اصلی مسائل انرژی مورد استفاده قرار گیرد.

برژینسکی، مشاور سابق رئیس جمهور آمریکا در بخش امنیت ملی و مشاور مرکز مطالعات استراتیژیک و بین المللی در زمان جنگ سرد در کتاب خود بنام( صفحه بزرگ شطرنج )، منطقه آسیای مرکزی را "اورآسیا بالکان" می نامد. استفاده از این اصطلاح به این دلیل است که این منطقه در واقع شبیه بالکان سابق است. از دیدگاه آمریکایی ها، هدف اصلی کنترل منابع غنی منطقه است. برژینسکی در مورد آسیای مرکزی اظهار میدارد که نقش مهم را در منطقه آسیای مرکزی دو کشور بازی میکند که عبارت از قزاقستان و ازبکستان میباشد. به عقیده کارشناسان سیاسی امریکایی ازبکستان خود را مانند یک کشور رهبری کننده در منطقه آسیای مرکزی میداند. باوجود اینکه از نقطه نظر قومی از جانب روسیه و قزاقستان آسیب پذیر است، بخاطر اینکه قزاقستان با روسیه سرحد طولانی دارد و تعداد زیادی از اهالی قزاقستان روسی تبار استند و وابستگی دایمی با روسیه دارند.

نتیجه گیری اساسی برژینسکی در مورد سیاست ایالات متحده در آسیای مرکزی چنین است: آمریکا از منطقه بسیار دور است تا در این قسمت از اورآسیا حکمفرمایی کند، اما بسیار کوشش میکند که از واقعیات این منطقه دور نشود. نویسنده سیاست آمریکا را در منطقه به صورت چند قطبی می داند روابط امریکا با روسیه به موقعیت این کشور در مورد استقلال کشورهای جدید منطقه بستگی دارد.

«شوپراد» عالم ژئیو پولیتیک فرانسوی در کتاب خویش تحت عنوان « لغات ژئیو پلیتیک» که در فرانسه چاپ شده چنین می نویسد:« در اروپای شرقی و آسیای

مرکزی واشنگتن با همکاری هم پیمانان خویش بر ضد روسیه فعالیت میکند. در بسیاری مناطق و اروپای شرقی بلوک اتلانتیک شمالی(ناتو) فعالیت دارد. در مبارزه بزرگ برای نفوذ در آسیای مرکزی، قفقاز و اوکراین ایالات متحده امریکا با شریکان خویش المان، ترکیه و پاکستان کوشش می کند که تاثیر و نفوذ روسیه را در این مناطق ضعیف و کم رنگ کند».

بعد از سال ۱۹۹۲م منطقه آسیای مرکزی اصطلاح « بررسی استراتیژیک» به عنوان یک سوژه مستقل در صفحات مطبوعات ظاهر شده است. نویسندگان خاطرنشان می کنند که با فروپاشی اتحاد شوروی در اروپا و منطقه آسیای مرکزی در وضعیت ژئیواستراتیژیک باید تجدید نظر صورت گیرد. ایجاد کشورهای مستقل در آسیای مرکزی باعث تجدید نظر عمومی در ژئیوپلیتیک غرب در آسیای مرکزی شد. نویسندگان اوضاع به میان آمده را در آسیای مرکزی در اوایل دهه نود قرن گذشته را به کشورهای کوچکتر آسیای جنوبی مانند بنگلادش، سریلانکا، نیپال و بوتان تشبیه می کنند که از زمان رفتن انگلیس تحت الشعاع مخالفت هند و پاکستان قرار گرفته است. جمهوری های جدید آسیای مرکزی نیز در معرض تهدید دوجانبه سیاسی قرار گرفتند.

شواهد علمی ثابت می کند که قاره آسیا همیشه و در همه زمان ها مروارید ابرقدرت های جهان بوده است، همان طوریکه هرکشور قدرتمندی دوست دارد آن را داشته باشد. در طول مبارزه برای آزادی مردم آسیا توانستند استقلال خود را بدست آورند، اما در همان زمان مسئله دیگری پیش آمد (حفظ و از دست دادن استقلال آن).

از اواخر قرن گذشته تا به امروز ما از منابع علمی یاد گرفته ایم که چگونه کشورها در حال نابودی هستند، چگونه استقلال و تمامیت ارضی خود را از دست می دهند، و این روند در پرتو بازی های ژئیوپلیتیک و منافع ژئیواکونومیک جهان ادامه خواهد یافت. قدرتها با توجه به منابع عظیم زیرزمینی، نفت، گاز و سایر منابع طبیعی آسیای مرکزی همیشه مورد توجه بازی های مهم منطقه یی و جهانی قرار گرفته و خواهد گرفت و وظیفه اصلی جمهوری های آسیای مرکزی بعد از فروپاشی شوروی در این مرحله و در آینده محافظت از استقلال دولتی و منافع ملی شان می باشد.

## منابع

https://ru.wikipedia.org/w/index.php?title=Центральная_Азия
1--
https://ru.wikipedia.org/w/index.php?title=Центральная_Азия
2-
3-http://география-земли.рф/центральная-азия
4-Гарбузарова Е.Г. Геополитическая значимость Центральной Азии: История и современность. Вестник КРСУ. 2010. Том 10. № 5 43
5-https://readtiger.com/wkp/ru/Центральная_Азия
6.Бжезинский «Великая шахматная доска». М.: Международные отношения 1998. стр.68.
7-Бжезинский «Великая шахматная доска». М.: Международные отношения 1998. стр.78.
8-Ламулин М.Т. Центральная Азия в зарубежной политологии и мировой геополитике. стр.56
9-Ламулин М.Т. Центральная Азия в зарубежной политологии и мировой геополитике, стр.178
10-https://osiyoavrupo.tj/index.php/mavodhoi-ilmi/maqolaho/item/542-maf-umi-osijoi-mijona-va-osijoi-markaz-az-nigo-i-bozi-o-va-manfiat-oi-geopolitikivu-u-rof

څېړندوی رحمت الله همت مظلوم یار

# د مرکزي آسیا اقتصادي ظرفیتونه

# The Central Asia Economic Capacities

Asst. prof. Rahmatullah Hemat Mazlumyar


## Abstract

The Central Asian region comprises of Uzbekistan, Tajikistan, Turkmenistan, Kazakhstan and Kyrgyzstan, all of which are landlocked and lack access to high seas. This area has vast economic potential and natural resources. Turkmenistan, Kazakhstan, and Uzbekistan possess substantial gas and oil reserves, with Turkmenistan ranking fourth globally in gas reserves, and approximately has 19.5 trillion cubic meters of gas reserves. Tajikistan and Kyrgyzstan have large water resources, used for electricity production and agriculture. The countries of Central Asia have a large capacity to produce electricity and export to other countries in addition to their own electricity needs. The Central Asian region holds geopolitical and geo-economics importance, these countries is located on the historical Silk Road path connecting East Asia and China with the Middle East, Europe, and the Caucasus, as well as linking South Asian countries with Russia.



## لنډیز

د مرکزي آسیا سیمه له ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان، قزاقستان او قرغزستان هېوادونو څخه تشکیل شوې چې په وچه کې اېساره ده او ازادو اوبو ته لار نه لري. دغه سیمه پراخ اقتصادي ظرفیتونه او طبیعي زېرمې لري. ترکمنستان، قزاقستان او ازبکستان د ګازو او تېلو لویې زېرمې او تاجکستان او قرغزستان د اوبو پراخې سرچینې لري، چې پر کرهنې سربېره د برېښنا د تولید لپاره هم ترې ګټه اخلي.

ترکمنستان د گازو د زېرمو له پلوه په نړۍ کې څلورم ځای لري، چې د ۱۹،۵ ټریلیون مترمکعب گازو زېرمې لري. قزاقستان او ازبکستان په ترتیب سره د تېلو زیرمي لري. د مرکزي آسیا هېوادونه د برېښنا تولید لوی ظرفیت لري، چې د خپلې اړتیا وړ پر برېښنا سربېره یې نورو هېوادونو ته هم صادروي، همدارنگه د مرکزي آسیا سیمه د ټرانزیټ په مسیر کې موقعیت لري، د ورېښمو تاریخي لار د مرکزي آسیا له هېوادونو څخه تېرېږي. مرکزي آسیا د ټرانزیټ له لارې ختیځه آسیا او چین له منځني ختیځ، اروپا او قفقاز سره، همدارنگه د جنوبي آسیا هېوادونه له روسیې سره نښلوي.

**سریزه**

د مرکزي آسیا هېوادونو په ۱۹۹۱ز.کال کې د شوروي اتحاد له پاشل کېدو وروسته خپلواکي اعلان کړه. یاد هېوادونه د سرشاره طبیعي زېرمو درلودلو سربېره د خپلواکی په لومړنیو کلونو کې له اقتصادي ستونزو سره لاس او گریوان و، په اقتصادی برخه کې یې پر روسیې باندې تکیه درلوده، خو وروسته  مرکزي آسیا د طبیعي زېرمو او اقتصادي ظرفیت درلودونکې سیمې په توگه د نړیوالو د پام وړ وگرځیده. په دغه سیمه کې د روسیې، چین، اروپایي اتحادیې او امریکا متحده ایالاتو سیالي د دې سیمې جیوستراتیژیک او جیوایکانومیک اهمیت زیات کړ. د سپتمبر د ۱۱له پېښې وروسته ددې سیمې اهمیت لا زیات شو. د مرکزي آسیا هېوادونو هم له دې فرصت څخه گټه واخیسته او د روسیې له انحصار څخه د خلاصون په موخه یې د تېلو او گازو د لېږد په موخه نوې نللیکې جوړې کړې او د ټرانزیټ لپاره یې نوي مسیرونه جوړ کړل. دا چې مرکزي آسیا کوم اقتصادي ظرفیتونه لري. د تېلو، گازو او د برېښنا د تولید په برخه کې څومره وړتیاوې لري او د ټرانزیټ برخه کې کوم مهم کوریډورونه په مرکزي آسیا کې جوړ شوي دي، په دې مقاله کې پرې بحث کېږي.

## د څېړنې موخه

ددې څېړنې موخه د مرکزي آسیا د اقتصادي ظرفیتونو څېړل دي.

## د موضوع مبرمیت

د مرکزي آسیا هېوادونه د افغانستان په ګاونډ کې موقعیت لري، چې د تېلو او ګازو لویې زېرمې او د برېښنا د تولید لوی ظرفیت لري. همدارنګه له افغانستان څخه روسیې، چین او اروپا ته د ټرانزیټ لپاره نږدې لار ده. دا چې افغانستان یو مصرفي هېواد دی او د سون توکي او غذایي مواد له مرکزي آسیا څخه واردوي، نو اړینه ده د مرکزي آسیا هېوادونو اقتصادي ظرفیت وڅېړل شي.

## د څېړنې میتود

ددې علمي څېړنیزې مقالې په لیکلو کې له تشرېحي ـ تحلیلي مېتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

## د مرکزي آسیا اقتصادي ظرفیت

د مرکزي آسیا هېوادونه د پریمانه طبیعي زېرمو، ستراتیژیک او جیو ایکانومیک موقعیت له اړخه ښه اقتصادي ظرفیتونه لري. په دې برخه کې د مرکزي آسیا د برېښنا پر تولید، ګازو، تېلي زېرمو او کرنیزو محصولاتو بحث شوی دی.

## د مرکزي آسیا د برېښنا د تولید ظرفیت

قرغزستان او تاجکستان د (UP Stream) یا پورتنۍ برخې او ترکمنستان، ازبکستان او قزاقستان د (Down Stream) یا لاندینۍ برخې هېوادونو په توګه پېژندل کېدل. د شوروي اتحاد پر مهال د پورتنۍ برخې هېوادونو د اوبو په واسطه او ښکتنیو هېوادونو د ګازو او تېلو له لارې برېښنا تولیدوله. پورتني اړخ به ښکتني اړخ ته په دوبي کې او ښکتني اړخ به پورتني اړخ ته په ژمي کې برېښنا د (CAPS) یا (Central Asia Power System) له مخې یو بل ته لېږدوله، خو کله چې شوروي اتحاد له منځه ولاړ، هر هېواد په خپلواکه توګه د خپلو سرچینو د کنټرول په موخه هڅې پیل کړې.

تاجکستان چې د تېلو او ګازو کمې زېرمې لري، خو له اوبو ډک سیندونه په کې بهیږي، له خپلواکۍ وروسته یې د اوبو د کنټرول او بندونو جوړولو هڅې پیل

کړې، خو د مرکزي آسیا ښکتنیو هېوادونو په ځانګړې توګه ازبکستان ورسره مخالفت ښوده، ځکه د اوبو له بندونو جوړولو سره د ازبکستان کرنیزو ځمکو ته اوبه کمې رسېږي، د ازبکستان پخواني ولسمشر اسلام کریموف تاجکستان ته اجازه نه ورکوله چې تاجکستان د راغون بند جوړ کړي او تاجکستان ته یې ګواښ کاوه چې که پر ازبکستان اوبه کمې شي نو دا به په مرکزي آسیا کې جګړې ته لمن ووهي. همدارنګه د قرغزستان د قمبر آتا ۱ برېښنا بند پروژې سره ازبکستان مخالفت ښوده. د کریموف له مړینې وروسته شوکت میرضیایف واک ته ورسېد، له ګاونډیو هېوادونو سره یې د اوبو برېښنا بندونو جوړولو سره خپل دریځ بدل کړ.

د تاجکستان د ولسمشر امام علی رحمان له خوا د وخش پر سیند د راغون اوبو برېښنا بند لومړی توربین د ۲۰۱۷ز.کال د نومبر پر ۱٦ نېټه افتتاح کړ. د راغون برېښنا اوبو بند به ٦ توربینه ولري، چې تر ۲۰۲۸ ز.کال پورې به ټول فعال شي چې په کال کې به د ۳٦۰۰میګاواټه برېښنا ظرفیت ولري. د راغون برېښنا بند د تاجکستان په اقتصاد کې لویه پروژه ده چې څلور میلیارده امریکایي ډالر لګښت لري.[1] همدارنګه تاجکستان په بدخشان ولایت کې د سبزور اوبو برېښنا بند جوړولو لپاره هڅه کوي دغه بند د برېښنا ظرفیت ۱۱ میګا واټه اټکل شوی، چې د دې برېښنا بند جوړېدلو سره به د غرنیز بدخشان ولایت خلک له برېښنا څخه برخمن شي.[2]

تاجکستان په ۲۰۱۹ز.کال کې پر ګاونډیو هېوادونو ازبکستان، افغانستان او قرغزستان باندې د برېښنا پلورلو له درکه ۹۱،۳ میلیونه ډالره عاید ترلاسه کړي دی. تاجکستان په ۲۰۲۰ ز.کال کې له اوبو او حرارتي دستګاوو څخه تر ۲۱ میلیارده کیلو واټ پر ساعت (۲۱ ټراواټ پر ساعت) [1] برېښنا تولید کړې ده.[3] په همدې کال کې برېښنا ته په کور دننه اړتیا ۱۵،۴ ټراواټ پر ساعت وه، چې د ۲۰۱۰ز.کال په پرتله ۱۰ سلنه تقاضا لوړه شوې وه. همدارنګه په ۲۰۲۲ز.کال تاجکستان ۱،۹ ټراواټ پر ساعت برېښنا صادر کړې. [4]

۱ یو ټراواټ ۱۰۰۰ ګیګا واټه کیږي، چې له یو میلیون میګا واټه یا یو میلیارد کیلوواټه سره برابر دی.

تاجکستان په ۲۰۲۲ کال کې د ۱۰٦ میلیونه ډالرو په ارزښت برېښنا صادره کړې ده. تاجکستان افغانستان ته د کال په ټولو فصلونو کې او ازبکستان ته د پسرلي او اوړي په موسم کې برېښنا صادروي.[۵] د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري تر نومبر میاشتې پورې تاجکستان ۱۹،۲ میلیارده کیلوواټ پر ساعت برېښنا تولید کړې ده. د تاجکستان ۹۳،۸ سلنه برېښنا د اوبو له بندونو څخه او ٦،۲ سلنه برېښنا له حرارتي دستګاو څخه تولیدوي. همدارنګه په همدې کال کې ۳۰۰زره کیلوواټه لمریزه برېښنا په تاجکستان کې تولید شوې ده.[٦]

په مرکزي آسیا کې ازبکستان د انرژۍ د تامین لپاره له ګاز او تېلو څخه استفاده کوي. په ۲۰۱۹ز.کال کې د ازبکستان کلنۍ د برېښنا تولید ظرفیت ۱۴،۱۰۰ میګاواټه و. برېښنا ته د اړتیا زیاتوالي له امله ازبکستان له قرغزستان او تاجکستان څخه هم برېښنا واردوي او همدارنګه د کال په اوړدو کې ازبکستان کې تولید شوې د اړتیا اضافي برېښنا افغانستان ته صادروي. د ازبک انرژۍ شرکت د دې هېواد ۹۰ سلنه برېښنا تولیدوي او د ازبکستان د اوبو د برېښنا شرکت د اوبو له بندونو څخه له ۱۰ تر ۱۲ سلنه برېښنا تولیدوي. د ازبکستان له خوا د اوبو برېښنا تولید لپاره ځینې طرحې هم تر لاس لاندې دي، چې د هغې له جملې څخه د ازبکستان او چین په مشترکې پانګونې د ۳۱میلیونه ډالرو په ارزښت د فرغانې برېښنا کوټ جوړول، همدارنګه ازبکستان او تاجکستان په ګډه پر زرافشان سیند باندې د ۳۲۰ میګاواټه ظرفیت سره د دوه بندونو جوړول، د آسیا پراختیایی بانک له لورې د ٦۰ میلیونه ډالرو په ارزښت تر ۲۰۲۳ز.کال پورې د ٦ برېښنا کوچنیو بندونو جوړول چې ۲۵میګاواټه د تولید ظرفیت به ولري. همدارنګه د ازبکستان چارواق برېښنا بند نوي کولو طرحی کې د فرانسي له خوا د ۱۳ میلیون یورو پانګونه یې مهمې طرحې دي.[۷]

ازبکستان په ۲۰۲۰ز.کال کې ۸۸،۱ سلنه برېښنا د فوسیلي سون توکو[۲] او ۱۱،۹ سلنه برېښنا له اوبیزو سرچینو څخه تولید کړې ده.[۸] همدارنګه ازبکستان په ۲۰۲۲ز.کال کې د ۱۵،۹ ګیګاواټه برېښنا تولید ظرفیت درلود، چې ۸۸ سلنه یعنې ۱۴ ګیګاواټه یې له حرارتي دستګاه او ۱،۹ ګیګاواټه یې د اوبو له بندونو څخه تولید کړې. ازبکستان له ۴۰ اوبو بندونو څخه ۱،۹۱ ګیګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري. ازبکستان د لمریزې انرژۍ برېښناکوټ په نمنګان ولایت کې جوړ کړی دی. ازبکستان هوډ لري تر ۲۰۳۰ز.کال پورې د لمریزې برېښنا ۲۵ برېښنا کوټونه جوړ کړي.[۹]

قرغزستان د اوبو سرچینې لري، خو د تېلو او ګازو زېرمې یې کمې دي او هر کال نږدې ۹۰ سلنه سون توکي له روسیې او قزاقستان څخه واردوي، په ۲۰۱۸ز.کال قرغزستان د ۳،۹ ګیګاواټه برېښنا تولید ظرفیت درلود. [۱۰]د قرغزستان ۹۰ سلنه برېښنا د هایدروالکتریک بندونو څخه تولیدیږي او پاتې نوره له حرارتي دستګاوو څخه تولیدوي. اوبیزه برېښنا د فوسیلي له سون توکو څخه تولید شوې برېښنا په پرتله د چاپېریال لپاره ډېره ګټه لري .[۱۱]قرغزستان په ۲۰۲۰ز.کال کې د ۴،٦٢٦ میلیونه کیلوواټه برېښنا تولید ظرفیت درلود او په همدې کال ۸،۵ سلنه برېښنا د فوسیلي سون توکو او ۹۱،۵ سلنه له اوبیزو سرچینو څخه تولید کړې ده.[۱۲]

په مرکزي آسیا کې ترکمنستان له خپلواکۍ وروسته د برېښنا صنعت ته پراختیا ورکړه، په دې وروستیو کلونو کې یې ۳۲،۳ میلیارده ډالر په ترکمنستان کې پانګونه شوې ، چې ٦٦ سلنه یعنې ۲۱،۴ میلیارده ډالر یې د انرژۍ سکتور ته ځانګړې کړې دي. ترکمنستان په نړۍ کې د برېښنا صادروونکي هېواد په توګه ۴۲ ځای لري.[۱۳] په ۲۰۲۲ز.کال کې د ترکمنستان د برېښنا صادراتو کې د تېر کال په پرتله ۳۰ سلنه زیاتوالی راغی. د برېښنا صادراتو زیاتوالی د ترکمنستان ماري ښار کې د ګازو نوي برېښناکوټ جوړول ښودل شوي دي.[۱۴] د یادونې وړ ده، چې

۲ فوسیلي سون توکي « Fossil fuel» د هایدروکاربن څخه جوړه شوې ماده ده، چې د ځمکې لاندې د مړه شویو حیواناتو او بوټو له پاتې شویو څخه جوړیږي او انسانان یې د ځمکې راوباسې او د سون لپاره ترې ګټه اخلي. فوسیلي سون توکي ډېرو سکرو، نفتو او طبیعي ګازو په بڼه ترلاسه کیږي.

ترکمنستان په ۲۰۲۲ز.کال کې ۹ میلیارده کیلوواټ پر ساعت برېښنا خپل ګاونډیو هېوادونو افغانستان، ایران، قرغزستان او ازبکستان ته صادر کړې ده.[۱۵]

د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري په میاشت کې د قزاقستان برېښنا تولید ظرفیت ۱۹۰۰۴ میګاواټه (۱۹ ګیګاواټه) و. د قزاقستان ۸۴ سلنه برېښنا له فوسیلي سون توکو څخه تولیدېږي او د قزاقستان په شمال کې ۷۰ سلنه رایستل شویو ډبرو سکارو څخه د برېښنا تولید کې ګټه اخېستل کېږي. قزاقستان د اوبو له سرچینو څخه هم برېښنا تولیدوي، چې د قزاقستان په ختیځه او جنوبي برخو کې شتون لري.[۱۶] قزاقستان ۷۰ سلنه برېښنا له ډبرو سکرو څخه تولیدوي او هوډ لري چې تر ۲۰۵۰ز.کال پورې د برېښنا نیمه برخه له نورو سرچینو څخه تولید کړي، تر څو د ګلخانه یي ګازونو خپرولو کې کموالی راشي او په راتلونکي کې د باد، لمر، ګاز او اوبو سرچینو څخه برېښنا تولید کړي. قزاقستان د هستوي بټۍ جوړولو هوډ لري تر څو د برېښنا تولید کې ترې ګټه واخلي، قزاقستان په نړۍ کې د یورانیمو لویې زېرمې لري.[۱۷] د ۲۰۲۳ز.کال د جنوري پر لومړۍ نېټه د قزاقستان د ټولو برېښنا کوټونو د برېښنا د تولید ظرفیت ۲۳۵۲۳،۷میګاواټه او ترلاسه کېدونکې برېښنا ظرفیت ۲۰۷۶۱،۷ میګاواټه و.[۱۸]

قزاقستان د بیټ کوین استخراج لپاره مناسب هېواد دی، دغه هېواد د برېښنا تولید لوی ظرفیت لري، چې له ډبروسکرو څخه ارزانه برېښنا تولیدوي او د بیټ کوین په استخراج کې زیاته برېښنا مصرفیږي. همدارنګه هغه مهال چې په چین کې د بیټ کوین استخراج بند شو، ځینې کسان قزاقستان ته راغلل او د بیټ کوین استخراج باندې یې پیل وکړ. قزاقستان په نړۍ کې د امریکا متحده ایالاتو وروسته د بیټ کوین ډیجیټلي پیسو دویم لوی استخراج کوونکی هېواد دی، د ۲۰۲۲ز.کال جنوري میاشت کې قزاقستان کې لاریونونه ترسره شول، چې په تاوتریخوالي واوښتل ورسره انټرنټ هم پرې شو، چې د بیټ کوین استخراج یې له خنډ سره مخ کړ او په نړیواله کچه د دې ډیجیټلي پیسو ارزښت ۸ سلنه راکم شو.[۱۹]

په لنډه توګه ویلای شو، چې د مرکزي آسیا هېوادونه د برېښنا لوی ظرفیت لري، تاجکستان په ډېره کچه برېښنا د اوبو له بندونو څخه تولیدوي، چې ورته ارزانه تمامیږي. ترکمنستان له ګازو برېښنا تولیدوي او قزاقستان د برېښنا تولید لپاره

زیاته برخه له ډېرو سکرو ګټه اخلي. قرغزستان د اوبو برېښنا تولیدوي، خو کچه یې کمه ده. تاجکستان او ترکمنستان د برېښنا په برخه کې بسیا دي، برېښنا ته کورنۍ اړتیا پوره کولای شي او نورو هېوادونو ته هم برېښنا صادروي، په ازبکستان کې د برېښنا په برخه کې ثبات نشته د دوبي په موسم کې د اړتیا زیاته برېښنا صادروي، خو په ژمي کې بیا خپله د برېښنا وارداتو ته اړ وي.

**د مرکزي آسیا د ګازو زېرمې او د تولید ظرفیت**

په مرکزي آسیا کې ښکتني درې هېوادونه ترکمنستان، قزاقستان او ازبکستان د تېلو او ګازو زېرمې لري، د بریټش پټرولیم شمېرو له مخې ترکمنستان په نړۍ کې د طبیعي ګازو زېرمو درلودلو له حیثه څلورم ځای لري او د ۱۹،۵ ټریلیون مترمکعب طبیعي ګازو زېرمې لري.[۲۰]

په ترکمنستان کې د خپلواکۍ لومړیو کلونو پر مهال رانتي اقتصاد[۳] رایج و. د ترکمنستان پخواني ولسمشر صفر مراد نیازوف له خوا د ۱۹۹۳ز.کال پرېکړې له مخې د ترکمنستان هر وګړي ته ددې حق ورکړل شوی دی، چې په یوه میاشت کې په وړیا توګه له دولت څخه د ۳۵ کیلوواټه پر ساعت برېښنا، ۵۰ مترمکعبه طبیعي ګاز او په یوه ورځ کې ۲۵۰ لیټره پاکې اوبه ترلاسه کړي. د صفر مراد نیازوف له مړینې وروسته په ۲۰۰٦ز.کال قربان قلي بردي محمدوف واک ته ورسید او د ترکمنستان وګړو ته د تېلو نوي سهمیه وټاکله چې هره میاشت به د موټر څښتن ته ۱۲۰ لیټره ورکول کېږي، چې دغه امتیازات په ۲۰۱۴ز.کال کې لغوه شول او له سون توکو څخه د دوامداره پراختیا او منطقي ګټې اخیستل یې د لغوه کولو لامل وښوده، د نوموړي په خبره مرسته یوازې باید اړمنو خلکو سره وشي. [۲۱] په ۲۰۱۴ز.کال په ترکمنستان کې د وړیا تېلو ورکول بند شول، خو د ګازو، برېښنا،

[۳] رانتي اقتصاد کې حکومت  د توکو پر نرخونو باندې کنټرول، د بودیجې توزیع او اقتصادي سیاستونو اعمال لپاره ځانګړې کړنلارې لري او د ګازو، تیلو او یا نور هغه معادن یا زېرمې چې د یو هېواد مالکیت کې راځي، ددې زېرمو څخه ترلاسه کېدونکی عاید په خپلو خلکو ویشي یا یو معین مقدار نفت یا ګاز په وړیا توګه خپلو وګړو ته ورکوي.

اوبو او مالګې وړیا ورکول ادامه درلوده. له هغې وروسته چې په ترکمنستان کې په وړیا توګه د تېل توزیع کول بند شول، د ترکمنستان د تېلو په پمپ استیشنونو کې د هر لیټر تېلو قیمت ۰،۲۲ ډالرو ته لوړ شول. [۲۲] په ۲۰۱۸ز.کال د ترکمنستان ولسمشر قربان قلي بردي محمداف په وړیا توګه د ترکمنستان وګړو ته د ګازو، اوبو، مالګې ورکول لغوه کولو په اړه پرېکړه وکړه، چې په ۲۰۱۹ز.کال کې پلې شوه، د انرژۍ قیمت راښکته کېدو له امله ناوړه اقتصادي وضعیت او د ترکمنستان د خلکو په عوایدو کې زیاتوالی ددې کار له لاملونو څخه و.[۲۳]

ترکمنستان په ۲۰۱۸ز.کال کې ٦١،٥ میلیارد متر مکعبه طبیعي ګاز تولید کړی او په همدې کال کې یې ۳۳ میلیارد مترمکعبه ګاز صادر کړی دی. ترکمنستان په مرکزي آسیا کې د ګازو د لویو زېرمو له درلودو سره اوسمهال د چین د ګازو اصلي تامین کوونکی هېواد دی او هر کال نږدې ۳۰ـ ۳۵میلیارد مترمکعب ګاز چین ته صادروي. ترکمنستان هڅه کوي خپل د ګازو پېرلو لپاره نوي مارکیټونه پیدا کړي او نویومسیرونو کې نللیکې جوړې کړي چې  یو یې د ټاپي او بل یې د ترانس خزر نللیکه ده.[۲۴]

د ترکمنستان او چین ترمنځ د ګازو لېږد لپاره درې نللیکې A,B,C جوړې شوې دي او د D نللیکه طرحه باندې هم کار کوي. لومړۍ درې نللیکې د ترکمنستان باګتي یارلیک ګازي میدان څخه پیلیږي له ازبکستان او قزاقستان څخه تېرېږي او د چین سین کیانګ ښار خارګوس سیمي ته غځېدلې دي.[۲۵] ترکمنستان د ۲۰۰۹ز.کال څخه تر ۲۰۲۲ز.کال پورې ۳۴۰میلیارده متر مکعب ګاز چین ته صادر کړی دی. ترکمنستان له ۲۰۲۲ز.کال په لومړنیو ۱۱ میاشتو کې د ۹،۳ میلیارد ډالرو په ارزښت ګاز چین ته صادر کړی دی، چین له ۳۰ څخه تر ۴۰ سلنه د اړتیا وړ ګاز له ترکمنستان څخه واردوي، له ترکمنستان څخه چین ته ګاز د دریو نللیکو په واسطه لېږدول کېږي.[۲٦]

ازبکستان نږدې ۰،۸ تریلیون متر مکعب دګازو ثابتې شوې زېرمې لري چې له ۲۵ تر ۳۰ کلونو پورې ددې هېواد اړتیا پوره کولای شي، ازبکستان ۲۵ سلنه ګاز د نللیکې له لارې صادروي.[۲۷] ازبکستان په کال کې له ۵۰ څخه تر ٦۰ میلیارد مترمکعب ګازو

تولید ظرفیت لري او ٦٠ سلنه ګاز د مبارک له ګازي میدان څخه تولیدیږي. د ازبکستان رسمي شمېرو له مخې په ۲۰۲۰ز.کال کې یې ۴۹،۷ میلیارد مترمکعبه ګاز تولید کړی دی، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۹ز.کال کې ازبکستان ٦٠،۵ میلیارد مترمکعبه ګاز تولید کړی وو. ازبکستان په ۲۰۲۰ز.کال کې له ترکمنستان څخه د ۵۰،۴ میلیونه ډالرو په ارزښت ګاز وارد کړی دی او د ګازو صادرات یې کم شوي دي.[۲۸] د یادونې وړ دی، چې ازبکستان د اړتیا وړ ګاز له ترکمنستان څخه واردوي او په دوبې کې خپل ګاز چین ته صادروي، د ۲۰۲۲ز.کال د ژمي پر مهال د سړې هوا او فورس ماژور حالت رامنځته کېدو له امله ترکمنستان خپل صادراتي ګاز ایران او ازبکستان ته پرې کړ. ترکمنستان او ازبکستان د ۲۰۲۲ز.کال په ډسمبر کې تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې د ترکمنستان له لوري ازبکستان ته د ۲۰۲۳ز.کال تر مارچ میاشتې پورې ۱،۵ میلیارده متر مکعب ګاز ورکوي.[۲۹]

قزاقستان په ۲۰۲۲ز.کال کې ۵۳ میلیارد مترمکعبه طبیعي ګاز تولید کړی دی. په قزاقستان او ازبکستان کې په کور دننه ګازو ته تقاضا لوړېدل ددې لامل شول تر څو چین ته دګازو صادرات راکم یا پرې کړي. له قزاقستان څخه چین ته د ګازو صادرات له ۲۰۱۷ز.کال څخه پیل شوي او د مرکزي آسیا دګازو نللیکې له لارې چین ته ګاز صادروي. د ۲۰۲۲ز.کال په ژمي کې د مرکزي آسیا هېوادونه د سختې سړې هوا له امله د ګازو له کمښت سره مخامخ وو.[۳۰] قزاقستان د ۲۰۲۳ز.کال د فبروري میاشتې له ۱۸ نېټې وروسته د څلورو میاشتو لپاره پهکور دننه سون توکو ته اړتیا پوره کېدو په موخه تېل، ډیزل او تېلي محصولاتو صادرول منع کړل.[۳۱]

په مرکزي آسیا کې ترکمنستان د ګازو لویې زېرمې لري او په نړۍ کې د ګازو زېرمو درلودو له اړخه څلورم ځای لري، دترکمنستان اقتصاد د ګازو پر صادراتو متکي دی. بل لوري ازبکستان او قزاقستان د ګازو زېرمې لري، خو ګازو ته د کورنۍ اړتیا زیاتیدلو له امله د ګازو په صادراتو کې له ستونزو سره مخامخ دي او د ژمي په موسم کې بیا له ترکمنستان څخه ګاز واردوي. تاجکستان او قرغزستان په بشپړه توګه د تېلو او ګازو په برخه کې په نورو هېوادونو پورې تړلي دي.

## د مرکزي آسیا د تېلو زېرمې او د تولید ظرفیت

د قزاقستان ۴۰ سلنه بودجه او ٦٠ سلنه عواید د هایدروکاربن له صادراتو څخه ترلاسه کوي. قزاقستان په ۲۰۲۰ز.کال کې د ورځې ۱،۸ میلیونه بوشکې تېل تولید کول، د نړیوال بانک د راپور له مخې په ۲۰۲۰ز.کال کې هایدروکاربن د قزاقستان د کورني ناخالص تولید ۲۱ سلنه جوړوي. قزاقستان په ۲۰۲۱ز.کال کې ۸۵،۹ میلیون ټنه تېل تولید کړي دي، چې ٦٧،٦ میلیون ټنه یې صادر کړي دي. قزاقستان ۱۷۲ تېلي میدانونه لري، چې ۹۰ سلنه تېل یې په ۱۵ میدانونو کې موجود دي، د قزاقستان په لوېدیځه برخه کې ۷۰ سلنه د تېلو زېرمې کشف شوي دي.[۳۲]

په مرکزي آسیا کې قزاقستان زیات تېل تولیدوي او نږدې ۸۰ سلنه تېل صادروي، چې نږدې زیاته برخه یې د روسیې د نللیکې له لارې صادروي، خو د روسیې او اوکراین له جګړې وروسته روسیه له نړیوالو بندیزونو سره مخامخ ده او له قزاقستان څخه د روسیې له لارې تېل صادرول د لنډ وخت لپاره بند شول، خو بېرته یې پیل کړل او اوسمهال قزاقستان د تېلو صادرولو لپاره نورې بدیلې لارې لټوي او د کسپین سمندرګي له لارې د اذربایجان مسیر څخه اروپا ته تېل صادروي.

په مرکزي آسیا کې له قزاقستان وروسته ازبکستان او ترکمنستان د تېلو زیاتې زېرمې لري. ازبکستان په ۲۰۲۰ز.کال کې ۷۳۳زره ټنه تېل تولید کړي دي او د تېلو تولید او استخراج ۵ حوزې لري، چې په اوستورت، بخارا، خیوه، سویل لوېدیځ حصار- سرخاندریا او فرغانه کې موقعیت لري.[۳۳] د ترکمنستان د تېلو د زېرمو کچه ٦٠٠ میلیونه بوشکې ښودل شوې ده او په ۲۰۱۸ز.کال کې د ورځې ۲۲۲ زره بوشکې تېل تولید ظرفیت درلود. ترکمنستان په ۲۰۱۹ز.کال کې د ورځې نږدې ٦٨ زره بوشکې خام تېل صادرول. [۳۴]

د قرغزستان او تاجکستان د تېلو زېرمې کمې دي. د ۲۰۲۰ز.کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تاجکستان د تېلو او ګازو شرکت ۱۲ زره ټنه تیل تولید کړي دي، چې د ۲۰۱۹ز.کال مشابه وخت په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی

ښيي. په تېر کال کې تاجکستان د ځمکې پېژندنې ادارې د ۳ـ۵ زره مترو په ژوروالي کې د تېلو او ګازو زېرمو کشف خبره کړې وه. په تاجکستان کې بهرنيو تېلي شرکتونو د تېلو او ګازو کشف لپاره له ۱۰۰ تر ۲۰۰ میلیون ډالره پانګونه کړې، خو تر اوسه پايلې ته نه دي رسيدلې. د يادونې وړ ده چې تاجکستان ۹۵ سلنه د اړتيا وړ سون توکي واردوي.[۳۵]

**د مرکزي آسيا د ټرانزيټ مسیرونه او ظرفيت**

د مرکزي آسيا هېوادونه په وچه کې ايسار دي، د نړۍ آزادو اوبو ته لار نه لري، خو د لېږد رالېږد او ځمکني ترانزيت له اړخه مهم جيوستراتيژيک موقعيت لري. د مرکزي آسيا هېوادونو څخه د وربښمو تاريخي لار تېره شوې. د مرکزي آسيا هېوادونه د ختيځ او لوېديځ، شمال او جنوب په مسير کې موقعيت لري. چين او ختيځه آسيا د مرکزي آسيا له لارې له منځني ختيځ او اروپا سره نښلېږي او روسيه د جنوبي آسيا له هېوادونو سره نښلوي. مرکزي آسيا د نښلونکي پله په توګه بېلابېلې سيمې سره نښلوي. په مرکزي آسيا هېوادونو کې د سوداګريزو توکو لېږد رالېږد لپاره له ريل پټلۍ او سرکونو څخه ګټه اخېستل کيږي. همدارنګه د مرکزي آسيا دوه هېوادونه له کسپين سمندرګي سره ګډه پوله لري، چې قزاقستان د کسپين سمندرګي خواته د آکتائو او کوريک بندرونه جوړ کړي دي او ترکمنستان د نيزآلاجه، هزار، اکرم او ترکمن باشي بندرونه جوړ کړي دي تر څو له قفقاز هېوادونو سره او د دې هېوادونو له لارې ترکيې او اروپا سره سوداګريز توکي ولېږدوي. د قزاقستان له آلماتا څخه د ازبکستان او ترکمنستان له لارې تر ايران پورې د ټرانزيټ په موخه ريل پټلۍ هم جوړه شوې ده، تر څو د مرکزي آسيا هېوادونه د ايران د اوبو بندرونو ته لاسرسی پيدا کړي.

په مرکزي آسيا کې په تېرو ۵ کلونو کې يوازې په قزاقستان کې د لېږد رالېږد په برخه کې ۳۵ ميلیارده ډالره پانګونه شوې او ۲۵۰۰کيلومتره نوې د اوسپنې پټلۍ جوړه شوې ده. د قزاقستان له مسير څخه ۱۳ نړيوال کورېډوره تېرېږي، چې ۵ کوريډوره د اوسپنې پټلۍ او ۸ کورېډوره د موټرو سرکونو لارې دي. په ۲۰۲۱ز.کال د قزاقستان ريل پټلۍ له لارې ۱۲۳،۷ ميلیون ټنه چې ۸۳،۵ ميلیون ټنه صادرات او ۲۱ ميلیون ټنه ټرانزيټ تشکيلوي، ليږدول شوي دي. يوازې له چين

څخه د قزاقستان له لارې اروپا ته ۳۷۷۶۰۰ کانټېنره لېږدول شوي دي. د هوايي کوريډور برخه کې د قزاقستان د ۱۱۲ مسيرونو څخه ۲۸ هېوادونو ته په اوونۍ کې ۴۹۰ هوايي الوتنې ترسره کېږي. په ۲۰۲۱ز.کال د قطر، کويټ، عربي متحده اماراتو، مالديف او سريلانکا سره نوي هوايي مسيرونه پرانېستل شول. همدارنګه په ۲۰۲۲ز.کال له ايټاليا او يونان سره نوي هوايي مسيرونه رامنځته شول. قزاقستان هڅه کوي د ټرانزيټ لپاره نوي مسيرونه رامنځته کړي او د سيمې د وصل په نقطه بدل شي، حال دا چې پخوا قزاقستان د صادراتو ټول مسيرونه په ځانګړې توګه تېل او ګاز د روسيې له لارې ترسره کېدل، خو اوس د کاسپين سمندرګي له لارې پرته د روسيې کوريډور استعمال څخه چين له اروپا سره نښلوي.[۳۶]

د ترانس کسپين نړيوال لېږد رالېږد مسير(Caspian International ـTrans Transport Route) د قزاقستان په ټرانزيټ کې مهم رول لري، د دغه کوريډور يوه برخه ځمکني او بل له کسپين سمندرګي څخه د کشتي په وسيله د توکو ټرانزيټ او لېږد دی، چې له مخې يې له چين او ختيځې آسيا څخه سوداګريز توکي قزاقستان ته او بيا له کسپين سمندرګي له لارې آذربايجان، ګرجستان او ترکيې ته لېږدوي. همدارنګه د کسپين سمندرګي له لارې د قزاقستان اکتائو بندر د ايران امير آباد بندر سره د لېږد رالېږد جوګه دی. له بل لوري د قزاقستان، ترکمنستان او ايران ترمنځ د اوسپنې پټلۍ ځمکنۍ کوريډور شته.

د مرکزي آسيا هېوادونه د چين او منځنۍ ختيځ ټرانزيټ لپاره نږدې او ارزانه مسير دی. په همدې موخه د چين ـ قرغزستان او ازبکستان ترمنځ ريل پټلۍ طرحه چې ۵۳۲کيلومتره اوږدوالی لري، چې ۲۱۳ کيلو متره په چين، ۲۶۰ کيلو متره په قرغزستان او ۵۰ کيلومتره په ازبکستان کې اوږدوالی لري په نږدې راتلونکې کې به پلې شي. د دې پروژې ارزونه په ۲۰۲۳ز.کال کې ترسره کېږي. ددې ريل پټلۍ پر وړاندې ځينې ستونزې شته، چې مهمه يې د قرغزستان جنوبي سيمه چې ددې پټلۍ په مسير کې واقع ده غرنۍ او صعب العبوره ده او د مسير ټاکلو لپاره ارزونه تر اوسه مشخصه شوې نه ده. بله ستونزه ددې ريل پټلۍ ګېج دی، چين غواړي دغه ريل پټلۍ د ۱۴۳۵ميلي متره ګيج سره جوړه کړي، حال دا چې د قرغزستان او

ازبکستان ریل پټلۍ ګیج ۱۵۲۰ میلی متره دی، او قرغزستان د چین په ګیج د دې پټلۍ جوړولو کې ګټه نه مومي. دغه ریل پټلۍ چې چین، قرغزستان او ازبکستان سره نښلوي. ددې ریل پټلۍ له لارې چین څخه اروپا او منځنۍ ختیځ ته ټرانزیټ له ۷ څخه تر ۸ ورځو ته راکمیږي، پر دې ریل پټلۍ به نږدې ۴،۵ میلیارده ډالر لګښت راشي.[۳۷]

**د مرکزي آسیا د کرنیزو محصولاتو د تولید ظرفیت**

د مرکزي آسیا هېوادونه د کرنیزومحصولاتو ښه ظرفیت لري. قزاقستان د غلو دانو لوی تولیدوونکی هېواد دی. له جغرافیایي اړخه د شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې له روسیې وروسته قزاقستان لوی هېواد دی. قزاقستان یو کرنیز هېواد دی چې زیاته کچه دانې غلې تولیدوي او زیات شمېر حیوانات لري. د قزاقستان دولت پر تېلو او کانونو رایستلو باندې ولاړ اقتصاد څخه د مخنیوي په موخه هڅه کوي خپل اقتصاد ته تنوع ورکړي او د لېږد رالېږد، درملو جوړولو، مخابراتو او غذایي موادو په برخه کې پانګونه زیاته کړي.

د قزاقستان د کرنې وزیر یربولکارشوکایف په وینا قزاقستان په ۲۰۲۲ز.کال کې له ۱۳څخه تر ۱۳،۵ میلیون ټنه پورې د غنمو حاصلات راټول کړي دي، چې د ۲۰۲۱ز.کال په پرتله له ۱۵ څخع تر ۲۰ سلنه د غنمو حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی دی. قزاقستان په کور دننه هر کال ٦ میلیون ټنه غنمو ته اړتیا لري او پاتې نور یې بهرنیو هېوادونو ته صادروي.[۳۸]

په مرکزي آسیا کې ازبکستان په وچه کې مضاعف ابساره « double landlocked» هېواد دی، د فرغانې دره چې د ازبکستان په ختیځه برخه کې موقعیت لري او د کرنې لپاره ښه ځای دی او د مرکزي آسیا ګڼ مېشته سیمه بلل کیږي. ازبکستان په نړۍ کې د پنبې له اړخه ۵ صادروونکی او ۷ تولیدونکی هېواد دی. ازبکستان چې ۳٦ میلیونه نفوس لري په ۲۰۲۲ز.کال کې ۸،۵ میلیون ټنه غنمو ته اړتیا درلوده چې په مرکزي آسیا کې د غلو دانو لوی مصرف کوونکی هېواد دی. ازبکستان نږدې ۷۸ سلنه د غنمو اړتیاوې په کور دننه د غنمو له محصولاتو څخه پوره کوي او پاتې نور له قزاقستان څخه واردوي. ازبکستان په ۲۰۲۲ز.کال

نږدې ٦ میلیون ټنه غنم په کور دننه تولید کړي دي. د غنمو اوړو برخه کې ازبکستان هڅه کوي له قزاقستان څخه د اوړو پر وارداتو خپله وابستګي راکمه کړي او حتی په ۲۰۲۱ز.کال کې یې افغانستان ته یو میلیون ټن د غنمو اوړه صادر کړي دي.[٣٩]

د ترکمنستان ډېره برخه دښتې دي د اوبو پراخې زېرمې نه لري او همدارنګه کرنیز مهم محصولات یې پنبه او غنم دي، چې پنبه بهر ته صادروي او غنم یې کورنۍ اړتیا پوره کوي. کرنه د ترکمنستان ۸ سلنه کورنی ناخالص تولید تشکیلوي. ترکمنستان د کرنې په برخه کې د کمو اوبو د ستونزو امله سپین نرم غنم کري او سخت غنم له قزاقستان او روسیې څخه د اوړو تولید او ډوډۍ لپاره واردوي، ترکمنستان د ۲۰۲۲ز.کال د جنوري تر جولای میاشتې پورې له قزاقستان څخه ۲۱۸ زره ټنه غنم وارد کړي دي. ترکمنستان د خپلو غنمو صادارت له ۲۰۱۱ز.کال راپدیخوا پیل کړي او افغانستان یې له اصلي پېرودونکو څخه دی.[٤٠]

په ټولیزه توګه ویلای شو، چې په مرکزي آسیا کې قزاقستان د کرنیزو محصولاتو د تولید په برخه کې لوی ظرفیت لري او هر کال په پریمانه کچه د غلو دانو محصولات راټولوي او د غنمو په تولید کې پر ځان بسیا دی. د کورنۍ اړتیا څخه زیات غنمو حاصل اخلي، چې نورو هېوادونو ته یې صادروي. ازبکستان هم په کرنیزه برخه کې وده کړې د پنبې لوی تولیدونکی هېواد دی او د اړتیا یوه برخه غنم له قزاقستان څخه واردوي. ترکمنستان د کرنۍ لپاره کمه ځمکه لري او زیاته برخه یې دښتې او ریګونه دي، چې د اوبو له کمښت سره مخامخ دی. تاجکستان او قرغزستان د اوبو زېرمې لري، خو د مساحت زیاته برخه یې غرنۍ ده، د کرنۍ لپاره کمې ځمکې لري او د اړتیا وړ کرنیز محصولات له قزاقستان او روسیې څخه واردوي.

**پایله**

په مرکزي آسیا کې قزاقستان پیاوړی اقتصاد لري، د تېلو او ګازو زېرمې او د یورانیمو او طلا کانونه لري. بل لوري ته ترکمنستان د ګازو د زېرمو له اړخه د نړۍ څلورم غني هېواد دی، چې چین ته د ګازو له صادرولو څخه زیات عاید ترلاسه کوي. ازبکستان هم په مرکزي آسیا کې لوی نفوس لرونکی هېواد دی او ښه اقتصادي وضعیت لري. په مرکزي آسیا کې تاجکستان او قرغزستان غرني او فقیر هېوادونه دي، د اوبو سرچینې لري، چې د برېښنا تولید کې ترې ګټه اخلي، خو د هایدروکاربن زېرمې نه لري.

قزاقستان د تېلو د تولید لوی ظرفیت لري، چې د نللیکې له لارې چین او همدارنګه د روسیې نللیکې له لارې یې اروپا ته صادروي، همدارنګه قزاقستان په مرکزي آسیا کې د مساحت له پلوه پراخ هېواد دی او زیاتې کرنیزې ځمکې لري او د غلو دانو او په ځانګړې توګه د غنمو تولید لوی ظرفیت لري، چې پر داخلي بسیاینې سربېره نورو هېوادونو ته یې هم صادروي. قزاقستان د ترانس کسپین ټرانزیټي مسیر کې موقعیت لري، د ختیځې آسیا او چین سوداګریز توکي د قزاقستان له مسیر څخه د کسپین سمندرګي له لارې اذربایجان، ګرجستان، ترکیې او اروپا ته لېږدول کېږي. افغانستان هم له قزاقستان څخه هر کال نږدې دوه میلیون ټنه غنم واردوي.

ترکمنستان د ګازو لویې زېرمې لري او د عوایدو زیاته برخه د ګازو له پلورلو څخه ترلاسه کوي. ترکمنستان د ګازو د لېږد په موخه چین ته درې نللیکې غځولي دي، چې د چین له خوا جوړې شوې دي. ترکمنستان د تېلو تولید ظرفیت هم لري، چې یوه برخه نورو هېوادونو ته هم صادروي. ترکمنستان هڅه کوي د ګازو پلورلو لپاره یوازې پر چین تکیه ونه کړي او متنوع مشتریان ولري. همدارنګه ترکمنستان د لاجوردو لارې په مسیر کې قرار لري، چې افغانستان د لاجوردو له لارې اروپا ته لاسرسی پیدا کوي.

ازبکستان د برېښنا د تولید لوی ظرفیت او د ګازو زېرمې لري. ازبکستان په اوړي موسم کې برېښنا نورو هېوادونو ته صادروي، خو په کور دننه ګازو ته د اړتیا زیاتیدلو له امله له ترکمنستان څخه ګاز واردوي. ازبکستان په کرنیزه برخه کې د پنبې د تولید لوی ظرفیت لري. همدارنګه ازبکستان یواځینی هېواد دی، چې د مرکزي آسیا له ټولو

هېوادونو سره ګډه پوله لري او د ټرانزيټ په مسير کې موقعيت لري. بل لوري تاجکستان او قرغزستان په مرکزي آسيا کې فقير او غرني هېوادونه دي، د آمو سيند له تاجکستان او سير سيند له قرغزستان څخه سرچينه اخلي او د برېښنا بندونه يې پرې جوړ کړي دي. تاجکستان او قرغزستان تېل او ګاز له روسيې او قزاقستان څخه واردوي او کرنيزې کمې ځمکې لري.

**وړانديزونه**

۱: افغانستان بايد د مرکزي آسيا له هېوادونوسره دوستانه متقابلې اړيکې او اقتصاد محوره سياست ولري.

۲: افغانستان بايد له قزاقستان څخه د کرنۍ په موخه د غنمو اصلاح شوي تخمونه ترلاسه کړي او همدارنګه د غنمو په برخه کې له قزاقستان څخه پر وارداتو تکيه ونه کړي، د هېواد په داخل کې د قوشتيپې کانال په څېر پروژې پلې کړي تر څو په کرنيزو محصولاتو کې پر ځان بسيا اوسو.

۳: افغانستان بايد په تدريج سره د وارداتي برېښنا پر ځای له کورنيو سرچينو څخه په ځانګړې توګه د اوبو له بندونو او د ډېرو له سکرو څخه د برېښنا د توليد په برخه کې پانګونه وکړي. هر کال افغانستان د وارداتي برېښنا پر پېرلو له ۲۸۰ تر ۳۰۰ ميليونه ډالر لګوي تر څو برېښنا له تاجکستان، ازبکستان، ايران او ترکمنستان څخه وارد کړي. چې په تېرو لسو کلونو کې له ګاونډيو هېوادونو څخه د ۳ ميليارده ډالرو په ارزښت برېښنا وارد شوې دی. افغانستان کولای شول په دې مقدار پيسو باندې له ۲۰ څخه تر ۲۵ زره ميګاواټه برېښنا توليد لپاره بندونه جوړ کړي.

**مأخذونه**

۱- ولی کوزه گر کالجی، ملاحظات سیاسی- اقتصادی تکمیل سد و نیروگاه برق آبی راغون تاجیکستان، ۲٦ اسد ۱۳۹۸، لاسرسی:

https://www.iess.ir/fa/note/2045/[مراجعه: ۱۴۰۱/۱۱/۲۲]

۲- تلاش تاجیکستان برای توسعه ظرفیت تولید برق با کمک بانک جهانی، د نشر نېټه ۲ مرداد ۱۳۹۸، لاسرسی: https://irna.ir/xjtYpY83409268 [مراجعه: ۱۴۰۱/۱۰/۱۴]

۳- عزم تاجیکستان برای تولید ۲۱ میلیارد کیلووات ساعت برق در سال ۲۰۲۰، ۱۴ حمل ۱۳۹۹، لاسرسی:https://nirogahian.ir/?p=20554 [مراجعه:۱۴۰۱/۱۰/۳]

4- International energy agency, Tajikistan 2022 Energy sector review, available:https://iea.blob.core.windows.net/assets/ab8f5f01-4b54-4636b2e87818e2ed55a8/Tajikistan2022.pdf {access: 12/3/2023}

۵- افزایش چشمگیر صادرات برق تاجیکستان به کشورهای همسایه، ٦ جوزا ۱۴۰۰، لاسرسی: https://barghnews.com/fa/news/47336/[۱۴۰۱/۹/۲۲:مراجعه]

6-Tajikistan sees increase in electricity generation in 11M2022, 24 December 2022, available:

https://www.azernews.az/region/204129.html#:~:text=According%20to%20official%20statistics%2C%20from,the%20same%20period%20in%202021.

۷- ظرفیت های صنعت انرژی‌های تجدید پذیر ازبکستان و فرصت های حضور شرکت های ایرانی در این بازار، د نشر نېټه ۲۷/۰۸/۱۳۹۸، لاسرسی: https://economic.mfa.ir/portal/newsview/568210[مراجعه:۱۴۰۱/۵/۱۸]

8- Economic overview, Available: https://www.cia.gov/the-world-factbook/countries/uzbekistan/{access:22/11/2022}

۹- ظرفیت های صنعت انرژی‌های تجدید پذیر ازبکستان و فرصت های حضور شرکت های ایرانی در این بازار، د نشر نېټه ۲۷/۰۸/۱۳۹۸، لاسرسی: https://economic.mfa.ir/portal/newsview/568210[مراجعه:۱۴۰۱/۵/۱۸]

10-International energy agency, Kyrgyz Republic 2022 Energy sector review, available: https://iea.blob.core.windows.net/assets/9d0cb3be-48fd-424f-8968-e543a43e8614/Kyrgyzstan2022.pdf{access:12/2/2023}

11-The Kyrgyz Republic: Energy Sector Review in 2018, available: https://unece.org/fileadmin/DAM/projectmonitoring/unda/16_17X/A2.1_Implement_Natl_CS/KGZ-EnergySectorReview_e.pdf{access: 22/12/2022}

12- Economic overview, Available: https://www.cia.gov/the-world-factbook/countries/kyrgyzstan/{access:9/2/2022}

۱۳- وضعیت صنعت برق در ترکمنستان، د نشر نېټه ۲٦/۰٦/۱۴۰۰، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/newsview/651418[مراجعه:۱۴۰۱/۳/۹]

14-Export of electricity from Turkmenistan in 2022 increased by 30%, 17.02.202, available: https://turkmenportal.com/en/blog/58029/export-of-electricity-from-turkmenistan-in-2022-increased-by-30

15- Eziz Boyarov, IEA: Turkmenistan boosts electricity exports, 1 March, 23:13, available: https://daryo.uz/en/2023/03/01/iea-turkmenistan-boosts-electricity-exports

16-Kazakhstan - Country Commercial Guide, 2022-09-02, Available: https://www.trade.gov/countrycommercialguides/kazakhstanpowergeneration#:~:text=Electricity%20in%20Kazakhstan%20is%20generated,available%20capacity%20is%2019%2C004%20MW.

17- Kazakhstan has set out ambitious and welcome clean energy transition plans but must overcome historical reliance on fossil fuels, IEA review says,30 June 2022, Available: https://www.iea.org/news/kazakhstan-s-ambitious-clean-energy-transition-plans-welcomed-while-reducing-coal-reliance-and-increasing-flexible-power-generation-identified-as-key-next-steps-iea-review-says

18-Kazakhstan Sees Decrease in Energy Consumption, Seeks to Increase Renewable Energy, 18 OCTOBER 2022, AVAILABLE: https://astanatimes.com/2022/10/kazakhstan-sees-decrease-in-energy-consumption-seeks-to-increase-renewable-energy/{access:28/11/2022}

۱۹- قزاقستان دومین کشور بزرگ استخراج بیت‌کوین؛ چرا ناآرامی‌ها بر بازار بزرگترین ارز دیجیتال تاثیر گذاشت؟، ۲۰۲۲/۰۱/۰۸، لاسرسی:

https://parsi.euronews.com/next/2022/01/08/kazakhstan-second-biggest-country-bitcoin-mining-price-slumps[مراجعه:۱۴۰۱/۳/۹]

20-Irina Slav, The 10 Countries with The Largest Natural Gas Reserves, 1 May 2023, available: https://oilprice.com/Energy/Energy-General/The-10-Countries-With-The-Largest-Natural-Gas {accessed: 12/7/2023}

21-Turkmen leader wants to end free power and gas, 06/07/2017, Available:https://www.dw.com/en/turkmenistan-leader-wants-to-end-free-power-gas-and-water/a-39152012{access:23/9/2022}

22-Turkmenistan: Free petrol allowance to be discontinued, 29 April 2014, Available:https://www.bbc.com/news/blogs-news-from-elsewhere-27205105{access:3/9/2022}

23- CHAITANYA KUMAR GUNDAPU, Turkmenistan government is no longer offering free water, gas & electricity to citizens, MAY 26, 2022, available: https://factly.in/turkmenistan-government-is-no-longer-offering-free-water-gas-electricity-to-citizens/{access:29/9/2022}

۲۴- موسسه مطالعات بین المللی انرژی، شناخت پویایی بازارهای نفت و گاز؛ تحولات اقتصادی، ژئوپلتیکی و دیپلماسی نفت و گاز تحولات اقتصادی، ژئوپلتیکی و دیپلماسی نفت و گاز ترکمنستان، صفحه ۳-٦

۲۵- عزم چین برای واردات گاز مایع از ترکمنستان، ۲۴ دلو ۱۴۰۰، لاسرسی: https://www.kepco.ir/fa/news/1806[مراجعه:۱۴۰۱/۱۲/۲۳]

26-Aygerim Sarymbetova ,China Seeks to Expand Cooperation with Turkmenistan on Natural Gas, January 10, 2023, available: https://caspiannews.com/news-detail/china-seeks-to-expand-cooperation-with-turkmenistan-on-natural-gas-2023-1-10-5/ {access:2/2/2023}

۲۷- ظرفیت های صنعت انرژی‌های تجدید پذیر ازبکستان و فرصت های حضور شرکت های ایرانی در این بازار، د نشر نېټه ۲۷/۰۸/۱۳۹۸، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/newsview/568210[مراجعه:۱۴۰۱/۵/۱۸]

۲۸- وضعیت تولید و منابع نفت و گاز ازبکستان، ۱۴۰۰/۱۰/۵، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/newsview/663041[مراجعه:۲۰۲۲/۳/۲۳]

29- Aygerim Sarymbetova ,Turkmenistan Suspends Gas Exports to Uzbekistan, Iran, January 17, 2023,available:
https://caspiannews.com/news-detail/turkmenistan-suspends-gas-exports-to-uzbekistan-iran-2023-1-17-0/ {access:3/2/2023}

30- Gas consumption rises by more than 2mln m3 since 2020 in Kazakhstan, 1 February 2023, available: https://www.inform.kz/en/gas-consumption-rises-by-more-than-2mln-m3-since-2020-in-kazakhstan_a4030474

31-Tsvetana Paraskova, Kazakhstan Bans Fuel Exports to Ensure Domestic Supply, Feb 09, 2023, available: https://oilprice.com/Latest-Energy-News/World-News/Kazakhstan-Bans-Fuel-Exports-To-Ensure-Domestic-Supply.html

۳۲- موسسه مطالعات بین المللی انرژی، ، «جهش قیمت نفت در پی ناآرامی های قزاقستان»،پایش هفتگی تحولات نفت و گاز ، شماره ۲۹، هفته اول، دلو ۱۴۰۰، صفحه ۸.

۳۳- وضعیت تولید و منابع نفت و گاز ازبکستان، ۱۴۰۰/۱۰/۵، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/newsview/663041[مراجعه:۲۰۲۲/۳/۲۳]

۳۴- موسسه مطالعات بین المللی انرژی، شناخت پویایی بازارهای نفت و گاز؛ تحولات اقتصادی، ژئوپلتیکی و دیپلماسی نفت و گاز تحولات اقتصادی، ژئوپلتیکی و دیپلماسی نفت و گاز ترکمنستان، صفحه ۳-۶

۳۵- ستار محمدی تلوار، افزایش ۸ درصدی تولید نفت و بلندپروازی‌های تاجیکستان، د نشر نبته ۲۴ تیر ۱۳۹۹ ، لاسرسی:https://www.irna.ir/news/83855088 [مراجعه: ۱۴۰۱/۳/۴]

36- ASSEL SATUBALDINA, Nearly $35 Billion Invested in Kazakhstan's Transport Sector Over Last Five Years, 19 OCTOBER 2022, AVAILABLE: https://astanatimes.com/2022/10/nearly-35-billion-invested-in-kazakhstans-transport-sector-over-last-five-years/ /{access:19/12/2022}

37- MUHAMMAD RAFIQ, China-Kyrgyzstan-Uzbekistan Railway Corridor to Boost Regional Cooperation, 9 SEPTEMBER 2022, AVAILABLE:https://astanatimes.com/2022/09/china-kyrgyzstan-uzbekistan-railway-corridor-to-boost-regional-cooperation/{access: 22/12/2022}

38- Kazakhstan to Increase Wheat Crop by Nearly 20 Percent by Year-End, 27 JULY 2022, AVAILABLE:
https://astanatimes.com/2022/07/kazakhstan-to-increase-wheat-crop-by-nearly-20-percent-by-year-end/{access:13/1/2023}

۳۹- راهبرد دولت ازبکستان در بخش کشاورزی؛ گندم و غلات، ۱۴۰۱/۱۱/۲۹ ، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/NewsView/710967{مراجعه:۱۴۰۱/۱۱/۲۹}

40- Wheat production in Turkmenistan,19.01.2023, Available: https://progres.online/en/economy/wheat-production-in-turkmenistan/{access:14/2/2023}

***Published:*** Afghanistan Science Academy (ASA)
***Chief Editor:*** Asst. Prof. Mohammad Tahir sharar
***Assistant:*** Masih Oriyakhail

***Editorial Board:***
Assoc. Prof. Dr. Rafiullah Niazi
Assoc. Prof. Abdul Shakoor Salangi
Asst. Prof. Abdul Saboor Mubariz
Asst. Prof. Imran Zakeria

***Composed Designed By:*** Sefatullah Mansoor

***Annual Subscription:***
Kabul: 320 AFS
Province: 480 AFS
Foreign countries: 20 USD
Price of each issue in Kabul: 80 AFS

- For the University Professors, Teachers and members of Academy of Sciences: 70 AFS
- For the university and school students: 40 AFS
- Other offices: 80 AFS

***Contact Numbers:*** 0202201279 - (+93) 766110008
***Email:*** rsc@asa.gov.afg
***Email:*** Info@asa.gov.af